# د عطرو نقاشي شوی اواز



# د عطرو نقاشي شوی اواز

**د مقالو ټولګه**

# کتاب پېژندنه


د کتاب نوم ...................... د عطرو نقاشي شوی اواز

اوډنه ..........پاکیزه ارزو

خپرونکې ...................... مېرمن کلتوري – ټولنيز بهير

کمپوز ..............محمد مقیم

چاپکال .........................۱۳۹۱ لمریز

شمېر ..............................  ۱۰۰۰ ټوکه

د پښتی ډیزاین: ............... محمد امجد مومند

چاپځای .......................... کاروان مطبعه – کابل

برېښنالیک.......................muqeem.7@hotmail.com

بسم الله الرحمن الرحيم

# سرليکونه


سريزه ........................................................................ 1

د تورې شپې وړانګين سحر ........................................................ 4

د علم ګل سحر د آثارو د مخکتنې اوادبي خدمتونو د درناوي غونډه .................. 10

علم ګل سحر پرخپلو تجربو ولاړ کيسه ليکوال ...................................... 15

پېژندل شوی شاعراوليکوال علم ګل سحر ............................................ 30

علم ګل سحر د خپل چاپيريال انځورګر ............................................... 35

د علم ګل سحر ژورنالستيك کارونه .................................................. 40

مېرمن بهير ته د سحر صيب ادبي خدمتونه ............................................ 46

د سحرپه قاموس کې انتقام او کرکه نشته ............................................ 50

د استاد علم ګل سحر اند او فکر .................................................... 57

ښاغلی سحرد طنز په ډګر کي .......................................................... 63

شيطان څــــراغ ........................................................................ 69

په "پاس سپوږمۍ ده لاندې ته يې" کې فلسفي افاقيت ته يوه ځغلنده کتنه ....... 75

د مينې شاعــــــر ..................................................................... 103

سحــر او تصويرونه .................................................................... 108

"د ډيرو کلونو خبره" په کيسه انتقادي نظر ......................................... 112

سحر په يو شعر کې .................................................................... 116

لاهم څارمه ستا لارې ................................................................. 123

پاس سپوږمۍ ده لاندې ته يې ........................................................ 128

لاهم څارمه ستا لارې ................................................ 138

کيسه ييز شعرونه............................................................... 142

د خپلې ژبې او ادب ريښتنی خدمتګار........................................... 150

يوازې ستا لپاره!................................................................ 151

د عطرو نقاشي شوی اواز .................................................... 157

د پښتوشعر نوی سحر ......................................................... 161

سريزه ........................................................................... 164

د مينې او دردونو، د يوه انځورپه څنډه.......................................... 169

سحر او د پاريال خوبونه....................................................... 174

د مينې شبنامـــــې ............................................................ 176

علم ګل سحر يو HUMANIST شاعر........................................... 181

د مينه ناکې زمانې په لټون پسې ورك سحر.................................. 189

علم ګل سحر يو شاعر نوم ................................................... 198

سريزه ........................................................................... 202

پاس سپوږمۍ ده لاندې ته يې....................................................... 207

لاهم څارمه ستا لارې! ........................................................... 209

د لمر جنازه...................................................................... 215

د افغانستان وتلي شاعر او ليکوال علم ګل سحر ته!................................ 216

علم ګل سحر ته !.............................................................. 217

انسان دوست شاعر، ليکوال او ژورنالست علم ګل سحرته ډالۍ.................... 219

راتـــه وايـــه ..................................................................... 220



# د لوی او ښوونکی خدای په سپېڅلي نامه

## سریزه

درانه لوستونکي په خبروي،چې مېرمن کلتوري ـ ټولنیز بهیر کابو درې کاله وړاندې خپل کلتوري ـ ټولنیز فعالیت پیل کړ.د کلنیو او اوونیزوغونډو او نورو فعالیتونو ترڅنګ یې د کتابونو د چاپ او خپرولو لړۍ هم پیل کړی،چې دا ځل به د اوو او یا اتو بیلابیلو کتابونو د چاپ په لړ کې د یوه بل کتاب (د عطرو نقاشي شوی اواز) د چاپ ویاړ خپل کړی.

ځو میاشتې وړاندې د قلم ټولنې له خوا د هیواد ټکره،متعهد، صادق لیکوال، شاعراو ژورنالیست علم ګل سحر پر اثارو د مخکتنې غونډه جوړه شوې وه. په غونډه کې د هیواد نامتو لیکوالو او شاعرانو لخوا د ده اثار،ادبي خدمتونه او د ده شخصیت د علمي مقالو او نظریاتو په وړاندي کولو سره وارزول شو.

په غونډه کې د مېرمن کلتوري بهیر د غړو ګډون د نورو لیکوالو، ژورنالیستانو،شاعرانو او نورو دوستانو تر څنګ اړین او ضروري و ځکه، سحرصاحب هغه ځوك دی،چې حتی یوه دقیقه خپل وخت یې له مېرمن بهیر څخه نه دی سپمولی. تل یې صادقانه مرسته او همکاري کړې ده. د مېرمن بهیر په خاطر تل د پوهنې وزارت په دروازه کې د امنیتي مسوولینو پوښتنو د ده با ارزښته وخت ضایع کړی. ډیری وخت د نوموړی وزارت په زینو کې د غونډو د جوړېدو د ځای د پیدا کولو په منظور سرګردانه ګرځېدلی دی. انصاف به نه وای که د مېرمن بهیر غړو په دې غونډه کې ګډون نه وای کړی. او اوس د ده د خدمتنو په وړاندې د سپاس د ادا کولو په منظور مېرمن بهیر وپتېیله،چې د پورتنی یادشوې غونډې د مقالو مجموعه د کتاب په بڼه چاپ او ویاړ یې خپل کړی.

د کتاب د چاپ ټولې چارې د مېرمن بهیر تکړه او مسوولیت منوونکې غړې پاکیزه ارزو ته وسپارل شوې،چې خوشبختانه په ورین تندي او ډېره حوصله مندی سره یې کار پیل او بشړ کړ. د مېرمن بهیر د غړو په استازیتوب ورڅخه مننه کوم او کور وادانی ورته وایم.

د سحرصاحب مې نوم اورېدلی و،مېرمن بهیر کې مې له نږدې فقط ولید. د قلم ټولنې له خوا په جوړه شوې غونډه کې د لومړی ځل لپاره پر دېوال بند شوی بنر(Banner) په دې پوه کړم. چې څومره اثار لري. د مقالو محتویاتو اونظرویاتو د ده په هکله معلومات را بشپړ کړل.

کله چې راته وویل شول د دې کتاب ( د عطرو نقاشي شوی اواز ) په هکله زه هم څه ولیکم لومړی حیرانه شوم،چې څه به ولیکم نه شاعره یم،نه کیسه لیکونکې ترڅو وکولای شم ادبي لارې په کې پیدا کړم او یا یې ادبي ماهیتونه په ګوته کړم. په هرصورت د کتاب په لوستلو مې پیل وکړم،شېبه په شېبه دمره خوندور کېدو،چې په ډېردقت او حوصلې سره مې د کتاب سرلیك نه نیولې بیا تر پایه داسې ولوست ګواکې د لومړی ځل لپاره مې په پښتو لیکل شوي څه لیدلي وي.

"د قرباني غویی" هغه سرلیك و،چې لوستلو یې د څو کلو وړاندې خپل منځي جګړو د خاطراتو په سمندر کې لاهو کړم او هغه وینا،چې واقعي هنري اثرهغه دی، چې یا خندا وي اویا هم ژړا وي راته په ډاګه او ثابته کړه.

ښه لیکوالي او ښه شاعري د سحرصاحب د شخصیت پوخ او قوي اړخ جوړوي او لیکنې یې د ده ادبي اړخ څرګندوی،خو د ده د شخصیت بل اړخ،چې نه لیدل کېږي خو محسوسېږي او هرحساس انسان یې احساسولی شي،هغه د ده انسانیت،وطندوستي،تعهد ،صداقت،رېښتنوالی،پښتونوالی او فرهنګپالنه ده. الله ج دی داسې وګړي زموږ په ټولنه کې ډېر کړي او ده ته دې ښه صحت او سمسور ژوند وریه برخه کړی. په پای کې:

خوشا به حالی مادریکه چینن فرزندی پرورش داد.

وخوشا به حالی جامعه کې چینن افرادی در آغوش دارد.

په خورا درنښت

ساهره شریف

کابل ـ مکرویان

۸/۱۰/۱۳۹۰



د قلم نړیوالې ټولنې له خواد علم ګل سحر د ادبي خدمتونو د نمانځغونډې
یوه برخه د ۱۳۹۰ کال د جوزا پنځمه نیټه

## د توري شپې وړانګین سحر

دوه کاله د مخه یوه شپه په نهو بجو د یوې راډیو ادبي خپرونې ته چې په ژوندۍ بڼه خپرېده غوږ وم، د خپرونې مېلمه ټکره لیکوال او ژونالیست علم ګل سحر و،د خپرونې په لړکې سحر صیب په داستاني ادبیاتو ډېرې ګټورې خبرې وکړې او د اورېدونکو پوښتنوته یې ښکلي ځوابونه ورکول.

له ادبیاتو سره علاقې زما دا عادت کړی،د ډېرو راډیوګانو ادبي خپرونې به مې اورېدې،او کله نا کله به مې برخه په کې اخېستله. له داستاني ادبیاتو سره د ځانګړې مینې له امله مې په ذهن کې ځینې پوښتنې وې چې بې ځوابه وې،دا پوښتنې مې په هماغه خپرونه کې له سحرصیب سره شریکې کړې او ډېرګټور ځوابونه مې ترلاسه کړل. سحرصیب زما د پوښتنو له ځوابونو وروسته وویل: زه دغې خور ته بلنه ورکوم چې راشي د مېرمن کلتوري بهیر په غونډو کې ګډون وکړي ډېرځه به د ادبیاتو په هکله زده کړي. که شوق ولري لیکنې به هم وکړي. او بیا یې د مېرمن کلتوري بهیر پته راته وښودله.

زه حیرانه شوم،ما خو دا ونه ویل چې زه لیکنې کوم،سحرصیب ماته ولې بهیر ته د راتلو بلنه راکړه،د مېرمن کلتوري بهیر له نوم سره آشنا وم،خو په دې خاطر به مې په غونډو کې ګډون نه کاوه چې څه مې نشوای لیکلای،خو د سحرصیب خبرو د بهیرپه غونډو کې ګدون ته لیواله کړم.

کله چې د کانکور په ازموینه کې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځی ته بریالۍ شوم،د خپلې رشتې د تقاضا په اساس مې د بهیر په غونډو کې ګډون وکړ. په لومړۍ غونډه کې مې هغه سحر صیب چې په راډیو کې اورېدلی و،په شفیقه او مهربانه څېره کې ولید.او کله چې د غونډې په پیل کې په ځینو کاري مسایلو باندې غږېدل مخکې له دېنه چې خبرې پیل کړي،ماته یې د نوې ګډون والې په صفت په ډېره مینه ښه راغلاست وویل.

لومړۍ غونډه مې ډېره خوښه شوه،د سحرصیب موسکانه څېره او د بهیروالو خویندو ښه هرکلی دې ته وهڅولم چې په راتلونکوغونډو کې هم

ګډون وکړم. او په دوومیاشتنو کې په دې وتوانیدم چې خپله لومړۍ لنډه کیسه کره کتنې ته وړاندې کړم. د کره کتنې په غونډه کې سحر صیب ډېره زیاته تشویق کړم او د لنډې کیسې په لیکلو کې یې د ځینو اساسي توکود سمې کارونې لارښوونه راته وکړه.

دا ټولې خبرې مې له درنو لوستونکو سره ځکه شریکې کړې،چې د سحرصیب په شخصیت کې هغه دوه ځانګړې صفتونه،چې یو یې د انسان زړه ساتنه اوبله هغه ته د شخصیت بخښنه ده او ما له بهیرسره د یوځای کېدو په لسومیاشتو کې د سحرصیب په شخصیت کې لیدلې دي یاد کړم. دا یوه سپینه خبره ده،چې سحرصیب په شخصیت جوړونه او زړه ساتنه کې ډېرمهربان استاد دی. لکه چې د هرې تیارې په وړاندې رڼا ولاړه ده،سحرصیب یو ورك انسان ته شخصیت بخښي او د انسان د زړه په ساتنه کې ښکلې هنر لري.

په اوسنیوغړیزو،انځوریزو،برښنایي رسنیو او په نورو فرهنګي ادارو کې ځینې داسې بریالۍ مېرمنې شته،چې په خپلو دندو او مسولیتونو کې ډېرې بریالۍ او هڅاندې دي،دوي د مېرمن بهیر څخه زده کړه کړې ده،دوي به دا هیڅ هېرنه کړي، چې د دوي په شخصیت جوړونه کې د بهیر د زده کړو او د سحرصیب تشویق رول ونه لري.چې له هغې جملې څخه یوه زه یم،د راډیو د لارې یې بهیر ته د راتلو بلنه راکړه،د یو مهربان استاد او لارښود په څېره کې مې په بهیر کې زده کړه ورڅخه وکړه.او بلاخره یې دې ته یې تشویق کړم،چې په ده باندې لیکل شوې مقالو ته د کتاب بڼه ورکولو کې د مېرمن بهیر د تکل مخکښه زه وسیږم.

"سحرصیب خپل ساعتونه ساعتونه وخت مېرمن بهیرته په خدمت اوهمکارۍ تېروی بې له کوم حسابه او بی له کوم احسانه." دا د تکړه لیکوالې طوبی ندا ساپۍ په لیکل شوې مقاله کې هغه خبرې دي چې د سحرصیب په هکله یې کړې دي. له خپلو وطنوالو خویندوسره د همدغه

ورکړي وخت له برکته ده،چې نن د مېرمن بهير په نامه ټولنه خپل فرهنګي او ادبي خدمتتونه ټولنې ته وړاندې کوي.

له بهيروالو خويندوسره د سحرصيب مرسته او د هغوي د زړه ساتنه د سحر صيب د شخصيت دويم ځانګړی صفت دی. کله چې د بهيرپه غونډو کې کيسې يا شعرونه کره کتنې ته وړاندې کيږي،که هغه نيمګړتياوې هم ولري خو سحرصيب يې ستاينه کوي دا ځکه چې سحرصيب يو ښه زړه ساتونکی انسان دی،هغه نه غواړي داسې نقد وکړي،چې د ليکوالو مېرمنو او پيغلو زړونه مات شي او زړونه يې له ليکنې ورتورکړي. بلکې استاد غواړي چې د هغوي نيمګړتياوې اصلاح کړي چې راتلونکې وخت ته ښې ليکوالې شي.ځکه همدغه مېرمنې دي چې د هيواد په سختو امنيتي شرايطو او له يوې مقيدې ښتنې ټولنې څخه له کورونو راوځي چې وکولای شي پښتو ژبې، پښتو ادبياتو او نورو فرهنګې مسايلو کې خپله ونډه وښيي.همدغه د زړه ساتنه ده،چې مېرمن بهير دوام لري او خپلې منظمې غونډې جوړوي.د الله تعالی دربار ته التيجا کوم چې دغه مهربان سيوری دې د تل لپاره د بهيروالو په سرولاړ وي.

رابه شم د دغومقالو راټولونې ته : د ۱۳۹۰ لمريز کال د غبرګولې په پنځمه نېټه د قلم نړيوالې ټولنې لخوا د هيواد ټکره ليکوال او ژورناليست علم ګل سحر د ادبې خدمتونو په درناوي د لمانځنې غونډه جوړه شوې وه.د غونډې وياند ليکوال او څېړونکی محمد نبې صلاحي په خپلو خبرو کې دا يادونه وکړه چې له ټولو درنو ويناوالو څخه هيله کوم چې خپلې مقالې قلم ټولنې ته وسپاري چې دغه مقالې د کتاب په بڼه چاپ شي.وروسته بيا دا موضوع د مېرمن کلتوري بهير په اونيزې غونډې کې ياده شوه او وټېيل شوه چې دغه کتاب به د مېرمن بهير له خوا ترتيب او خپورشي.او دغه مسوليت يې ماته وسپاره،دا زما لپاره ستونزمن کار و. يوخو زما له بهيرسره د يوځای کيدو موده ډېره کمه وه او بله دا چې ما مخکنۍ تجربه هم نه درلوده،خو د مېرمن بهير د خويندو دهمکارۍ او مرستې له امله زه په دې

وتوانيدم چې دغه مقالې ترتيب کړم او د کتاب په بڼه يې افغاني ټولنې ته وړاندې کړم.

په هيواد کې د کتابونو د چاپولو کار زموږ د علمي او فرهنګي زېرمې د بډاينې سبب ګرځي؛خو دغه کار تر ډېره د نارينه وو له خوا د ليکل شويو کتابونو په برخه کې راځي او د ښځينه وو له خوا د کتابونو ليکل يا خپرول تقريباً د نيست په برابر دي.خو دا په دې مانا نه ده چې يو څوك دې پرته له دې نه چې د کتاب محتوا او کيفيت په پام کې ونيسي د کتابونو په کميت دې لاس پورې کړي،د کتابونو د چاپ ډېروالي پرته له کيفيته هيڅ علمي او هنري تشه نشي ډکولای،بلکې د هيواد د علمي او فرهنګي ارزښت د کمښت سبب ګرځي. د سحرصيب خدمتونه مېرمن بهيرته نه هيرېدونکې دي.او د دغه با ارزښته کتاب د خپرولو وياړمېرمن بهيرترلاسه کړ.

د سحرصيب علمي او ادبي شخصيت ټولو هيوادوالو ته د درنښت وړدی. سحر صيب د پښتوادبياتو زېرمه په خپلو(۱۵) ادبي او علمي اثارو غني کړې ده،دغه کتاب سحرصيب ته کوچنۍ او د ده مينه والو ته د يوه ښکلې ډالۍ ده.چې مينه والې يې وکولای شي د دغومقالو په ذريعه د سحرصيب شخصيت او ادب پالنې له بيلابيلو اړخونو او د ده له ادبې او فرهنګي فعاليتونو،علمي کارونو،هنري پنځونو او دغو پنځونو له ځانګړتياوو سره په مکمله توګه اشناشي.

په دغو مقالو کې که له يوې خوا د ځوان شاعراو ژورناليست ظهورالدين کمال مقاله چې د خپلې شخصي علاقې او مينې په نسبت يې سحرصيب ته ليکلې او په ساده الفاظو کې يې خپل ګران استاد شاعر ته درنښت وړاندې کړی؛بلې خوا ته د هميم جلالزي اوږده او ګټوره مقاله ده چې د سحرصيب په شاعرۍ کې يې د فلسفې اړخ څرکونه په مفصله توګه څيړلي دي.همدارنګه د تکړه طنز ليکونکی عبدالنافع همت مقاله چې د سحر صيب د طنزونو په تخنيکي او فني اړخ يې مکمله رڼا اچولې ده. ښاغلي صديق الله بدر د سحر صيب په ژوند ، آثاراو ښاغلي وحيد احمدزي د سحرصيب په ژورنالستيکي

کارونوباندې هراړخیز معلومات کښلي او ګڼ شمیرلیکوالو د سحرصیب شعرونه له خپل نظره ارزولي او د ده د شاعرۍ په شعري ځانګړتیاوو باندې یې تبصرې کړي چې لوستل یې بې ګټې نه دي.

درانه لوستونکي به مقالو کې د سحرصیب یو ازاد شعر په تکراري ډول ولولي او ښایي په څو مقالو کې ورسره مخامخ شي.هغه د سحرصیب هغه ښکلی ازاد شعر دی، چې درنو لیکوالو د سحرصیب په شاعرۍ کې شهکار بللی؛هغه شعرچې په ټولو ځانګړو ماناو کې انسان انسانیت او ترحم ته رابولي، "یوازې ستا لپاره" پر دغه ازاد شعر ګڼ شمیرلیکوالو لیکنې کړې دي او هریوه له خپل نظره ارزولی او دغه شعر د لفظ او مانا په ارزښت باندې خپل نظرونه څرګند کړي دي.چې دا لیکنې درنو لوستونکو ته د زده کړې په توګه تمامېدای شي.

ما په دغو مقالو کې هغه سریزې هم شاملې کړي دي،چې د هیواد سترو ادبي اوعلمي شخصیتونو د سحرصیب په شعري ټولګو لکه: د پار یال خوبونه، د لمرجنازه،پاس سپوږمۍ ده لاندې ته یې،لا هم څارمه ستا لارې باندې کښلي دي. دا سریزې مې په دغه کتاب کې ځای کړې چې د سحر صیب مینه وال د خپل ګران شاعرشعري ټولګې چې څو کاله د مخه چاپ شوي او د دوی تر لاسونو نه دي رسیدلي،د دغو ټولګو له نومونوسره اشنا او په دغو هنري پنځونو کې د سحرصیب د شعرونو د ځانکړتیاوو په هکله معلومات تر لاسه کړي.

په دغو سریزوکې د استاد محمدصدیق پسرلي،استاد مجاوراحمد زیار،اروابناد استاد اسد اسمایی،استاد پیرمحمد کاروان،ډاکټرخوشال روهي اوښاغلي ومان نیازي لیکنې شاملي دي.چې دغه کتاب ته یې دروندوالي اوښکلا بخښلې ده.

د مېرمن کلتوري بهیر د یوې زده کونکې په صفت د دغو مقالو ټولونه او ترتیب زما لومړنۍ تجربه ده.کمپیوټراوانټرنیت ته د لاس رسی په نه

درلودو سره ما تر خپلې وسې پورې هڅه وکړه چې د مېرمن بهير له راکړل شوي مسوليت څخه ووځم.ويارم چې د دغو با ارزښتو مقالو د راټولونې چارې ماته را په برخه شوې.او دا به ښه تجربه وي د مېرمن کلتوري بهيرغړوته چې راتلونکې ته د شعرونو او کيسو د کتابونو تر څنګ په څېړنيزو اوعلمي کارونو باندې هم کاروکړي.

په پای کې استاد علم ګل سحرته د اوږده عمر په دعا کولو سره ورته د خوشحاله او سوکاله ژوند هيله کوم. او له درانه استاد څخه مننه کوم چې ماته يې دغه زمينه مساعده کړه،چې وکولای شم دغه مقالې ترتيب د کتاب په بڼه يې جوړ او خپرولو ته يې اماده کړم. الله ( جلاجلاله) دې زموږ بهير د ده د شخصيت له سيوري نه بې برخې کوي.

د مېرمن کلتوري بهير له درنې مشرې اغلې ساهره شريف او د مېرمن بهير له ټولوغړو څخه مننه کوم چې د دغه کتاب د اوډلو لپاره يې ماته هوکړه وکړه. همدارنګه له ګرانې محموده تقوا او له خپلو قدرمنو ټولګيوالو اکرام الله اسرار او حکمت الله ناشر څخه هم مننه کوم چې د کمپيوټر په چاروکې يې له ما سره مرسته کړې ده.

د پښتني ادب او په ځانګړې ډول د ښځينه وو د ادبي او فرهنګي چارو د پرمختګ،د يوې سوکالې خوشحالې او ازادې پښتنې ټولنې په هيله.

په درناوي

پاکيزه ارزو

۲/۶/۱۳۹۰

کابل ـ دهبوري څلورلارې



# د علم ګل سحر د اثارو د مخکتنې او ادبي خدمتونو د درناوي غونډه

د ۱۳۹۰ لمريز کال د غبرګولي د مياشتې په پنځمه نيټه د افغانستان قلم ټولنې د تکړه ليکوال،شاعر او ژورنالست علم ګل سحر د آثارو د مخکتني او ادبي خدمتونو د درناوي غونډه جوړه کړه.په دغه غونډه کې ګڼ شمير فرهنګيانو،ادبي شخصيتونو،د افغان ادبي بهير،مېرمن کلتوري بهيرغړو او د سحر صيب ګڼ شميرمينه والو ګډون کړی وو.

غونډه د ماسپښين په درې بجو د قلم نړيوالې ټولنې د مرکزي دفترپه انګړ کې په ښکلې شاعرانه فضا کې د څېړونکي محمد نبي صلاحي په وياندويي پيل شوه.

د غونډې په پيل کې ښاغلي محمد اسماعيل څپه د قرآن کريم څو مبارك آيتونه تلاو ت کړل. ورپسې د قلم ټولني مشرسيد فخرالدين هاشمي د غونډې په ارزښت او د سحرصيب په شخصيت باندې خبري وکړې.نوموړي د سحرصيب په پنځلسو ليکل شويو آثارو او د يادو آثارو په بيلا بيلو برخو رڼا واچوله .

د غونډې دويمه وينا واله د مېرمن کلتوري ـ ټولنيز بهيرغړې او ليکواله طوبی ندا ساپۍ وه.اغلې ساپۍ پخپله ليکل شوې مقاله کې مېرمن کلتوري

- ټولنيز بهير ته د سحرصيب د خدمتونو يادونه وکړه.هغې د خپلې مقالې په يوه برخه کې داسې ليکلي و.

" سحرصيب ساعتونه ساعتونه وخت مېرمن بهير ته په خدمت او همکارۍ تېروي بې له کوم حسابه او بې له کوم احسانه." اغلې ساپۍ له سحرصيب څخه د دغې مرستې اوهمکارۍ له کبله مننه وکړه.

ځوان نوښتګر شاعر او ژورنالست سيد جيلاني جلان د غونډې بل ويناوال و. هغه په خپلو خبرو کې د سحر صيب په شاعرۍ کې شعري هنريت ته نغوته وکړه او د هغه يو شعر "يوازې ستالپاره" يې د سحرصيب د ښکلي خيال او لوړ فکرښکلې بيلګه وبلله.

تکړه ليکوال او ژورنالست استاد اميرجان وحيد احمدزي د علم ګل سحر د ژورنالستيکي دندو په اړه علمي مقاله ولوسته.

د مېرمن کلتوري ـ ټولنيز بهيرغړې او تکړه شاعره ګلمينې يوسفزۍ په خپلو خبروکې د سحر صيب ادبي او ټولنيز خدمتونو ته د درناوي په وړاندي کولو سره د خپل شخصي شخصيت په جوړولو او ادبي کارونو کې د سحرصيب د کړنو څخه مننه وکړه.

د غونډې بل وينا وا ل تکړه ليکوال،ژورنالست او ادبپوه استاد اسد الله غضنفرو.ښاغلي غضنفر د سحر صيب شخصيت وستايه او د سحر صيب د غزل د يوه بيت په شعري ځانګړتيا باندي خبري وکړې:

خدايه چې غوارم يې هغه راځينې ليري ګرځي

ټول را نژدې دي خو يوه راځينې ليري ګرځي

ښاغلي غضنفروويل: چې دغه بيت په ساده الفاظو ليکل شوی اود ادبي ماهيتونو شتون ته يې اشاره وکړه او وې ويل،هرشعرد لفظ او مانا په لحاظ

ځانګړې وي،خو هرشعرچې څو ماناوي ونه رسوي،هغه له شعري هنرڅخه خالي وي.هغه د سحرصیب په دغه بیت کې د شعرپه هنري ښکلاوو په زړه پوري او ګټورمعلومات وړاندي کړل.

تکړه لیکوال،شاعر او ژورنالست صدیق الله بدر وویل،چې د سحر لنډې کیسې زموږ د عصرربښتیني انځورونه دي.او سحر صیب یې په خپلو تجربو ولاړ لیکوال یاد کړ.

ځوان شاعر او لیکوال اجمل تورمان د سحرصیب د شخصیت بیلا بیلو ځانګړتیاوو په زړه پوري خبرې وکړې.

ځوان شاعر جاوید اوربل د سحر صیب په پخواني او نوي شعر کې د توپیر په بیلا بیلو اړخونو رڼا واچوله .

څیړونکی محمد نبي صلاحي د سحر صیب د مینه او "جګړه" په ناول وغږېد او دغه ناول یې د هغه د ادبي پنځونو او لیکنو ښکلې بیلګه وبلله او په دغه ناول کې یې د ناول لیکنې په ځانګړتیاوو باندې خپل معلومات د غونډې له ګډونوالو سره شریک کړل.

تکړه طنز لیکونکي عبدالنافع همت د سحرصیب د طنز لیکنې د تخنیکي برخو په ښیګڼو باندې رڼا واچوله او سحر صیب یې ښه طنز لیکونکی وباله.

لیکوال او ژورنالست نور محمد سعید د سحر صیب په دندو او کاري خدمتونو باندې مفصل معلومات وړاندي کړل.

د غونډې وروستني وینا وال شاعراو حقوقپوه عبدالستارسعادت او شاعر او لیکوال اومان نیازی وو. نوموړو د سحر صیب په شخصیت او شاعرۍ لنډې ویناوې وکړې.

د غونډې په پای کې ډاکټر خوشحال روهي ته بلنه ورکړل شوه چې غونډه وارزوي. ډاکټرصیب روهي غونډه ګټوره او ښه و ارزوله او د سحر صیب د شخصیت او ادبي خدمتونو ستاینه یې وکړه.

وریسې د هیواد وتلي شاعر،لیکوال او څیړونکي عبدالله خدمتګار بختاني صیب د سحر صیب پرشخصیت او لیکنو په زړه پورې خبرې وکړې.

د غونډې په پای کې سحر صیب د قلم ټولنې او هغو لیکوالو څخه چې د ده په اثارو یې لیکنې کړې وې،مننه وکړه.هیله یې وښوده چې د هیواد د نورو لیکوالو د اثارو د ارزونې او خدمتونو د نمانځنې غونډې جوړې شي. نوموړي وړاندیز وکړ چې د داسې غونډو ترڅنګ دې د لیکوالو د حساب ورکولو غونډې هم جوړې شي،چې دا څرګنده شي چې زموږ لیکوالو په ټولنه کې د نوي فکر د رواجولو او د ناخوالو په له منځه وړلو کې څومره کار کړی دی.او ټولنې ته یې کوم مشخص خدمتونه ترسره کړي دي. غونډه د مازدیګر په **۵**:۳۰ د مازدیګرنۍ په خوړلو سره پای ته ورسیده.

پاکیزه ارزو



د غونډې يو ځنډه ۵/ ۳/ ۱۳۹۰




د قلم نړیوالي ټولنې مسوول سید فخرالدین هاشمي د وینا په حال کې



د میرمن کلتوري – ټولنیز بهیر غړې ګل مینه یوسفزی خپله مقاله اوروي

## علم ګل سحر پر خپلو تجربو ولاړ کیسه لیکوال

د پښتو د معاصر داستاني نثر د ځانګړنو په لړکې،د پښتو اوسنۍ لنډه کیسه د ګڼو ښکلاوو اوځانګړنو لرونکې ده،چې په دې لړ کې د نثري اسلوبو په پام کې نیول او د خپلو تجربو بیانول هغه دوې ځانګړنې دي چې زموږ ځوان کیسه لیکوال ورته ډېره توجه کوي.علم ګل سحر یو له همدغو کیسه لیکوالو څخه دی،چې ډېره هڅه کوي په روانه او ساده ژبه کیسې ولیکي اوهره کیسه یې د ټولنې د واقعیتونو منعکسونکې او د ده د خپلو تجربو پر بنسټ ولاړه وي. سحرهغه څه لیکي چې ده پخپله لیدلي او تجربه کړي وي.

لکه چې پخپله وایي "زما اکثره کیسې چې دي د خپلو تجربو محصول دي، یعنې له څه شي نه چې ډېر متاثر شوی یمه که هغه مینه وي او که جګړه،په هغه اساس باندې مې کیسې لیکلې دي. ډېر ځله هغه څه مې کښلي چې ما پخپله لیدلي او کتلي دي."

"علم ګل سحر زموږ د بهیر هغه کیسه لیکوال دی،چې ښه کیسه له خونده ډکه او د یوې نوې تجربې لېږدونکې او ښکارندویه ګڼې." ښه کیسه هغه کیسه ده چې سړي یوې بلې دنیا ته بوزي،یعنې یوه کیسه باید ماته دا راوښیي،چې اتیا کاله پخوا ژوند څنګه و؟ کیسه باید دا راته وښیي چې مثلا په ننګرهار کې یو بزګر څنګه ژوند کوي؟ کیسه باید دا راته وښیي،چې په بهر کې د یوه افغان ورځنی ژوند څنګه وي؟ په مجموع کې یوه ښه کیسه باید یوه نوې تجربه چې پوره خوند په کې نغښتی وي راولېږدوي.

علم ګل سحر د اروابناد محمد سلیم زوی له نن څخه (۴۳) کاله مخکې د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالۍ د اسلام خېلو په کلي کې زېږېدلی او خپلې زده کړې یې د زرملې د باتور ښوونځي،د غزني په شیخ عطار لیسه او د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو په پوهنځي کې تر سره کړې دي. په ۱۳۶۰لمریز کال کې یې د پکتیا او وروسته د غزني ولایت د پوهنې په ریاست کې دنده سر ته رسولې. په ۱۳۶۸ لمریزکال کې د پوهنې وزارت د

سواد مجلې مرستیال، بیا د عرفان مجلې مرستیال او ورپسې د نومورې مجلې مسول مدیر شو. په ۱۳۷۵ لمریزکال کې د کورنیو چارو وزارت ته تبدیل شو. په ۱۳۷۸لمریزکال د بي بي سي راډیو په تعلیمي خپرونو کې د لیکوال په توګه وګومارل شو. په ۱۳۸۱لمریزکال کې د ازادۍ راډیو ته لاړ او د نومورې راډیو د ژوند په شیبو کې خپرونې مسول او پروډیوسر شو. او اوس یې لکه چې بیا دولتي چارو ته مخه کړې ده.
سحر چې نن سبا د پښتو معاصرو ادبیاتو یو تکړه لیکوال،شاعر او طنز لیکونکی دی، له ۱۳۶۲ لمریزکال نه را په دې خوا یې شعر او داستان لیکلو ته مخه کړې. سحرصیب وایي "په ۱۳۶۲لمریزکال کې مې اول شعرونه ولیکل او بیا مې په ۶۷ـ ۶۸ کې خپل لومړني داستانونه ولیکل"

کیسه لیکلو ته یې له دې امله مخه کړې چې"ما د شعر ډګرخپلو نفسیاتو اوهغه څه ته چې مې په زړه کې لرل تنګ لیده،د کیسې ډګر یو څه پراخ راته ښکاره شو نو څه مې چې په زړه کې و هغه مې په داستان کې ویل. له بلې خوا له ماشومتوب نه هم په سړي کې یوه تومنه موجوده وي،ماشومتوب کې مې په کلي کې له مور او ترینډو نه نکلونه او کیسې اورېدلې وې چې په ما باندې یو قسم تاثیر یې کړې و او یو څه مې په ذهن کې و،وروسته مې داستانونه ولوستل او علاقه مې پیدا شوه چې داستانونه ولیکم. "

تر اوسه د سحر یو څو شعري او داستاني کتابونه چاپ شوي دي. د لمر جنازه، د پار یال خوبونه او پاس سپوږمۍ ده لاندې ته یې د هغه چاپ شوي شعري ټولګې دي.

مینه او وسواس د سحر د لنډو کیسو ټولګه ده، چې په ۱۳۸۳ لمریز کال کې د بېنوا فرهنګي ټولنې لخوا چاپ شوې ده.

مینه او جګړه د هغه (۲۴۹) مخیز ناول دی،چې په ۱۳۸۶لمریز کال کې د قلم نړېوالې ټولنې لخوا د میوند خپرندویې ټولنې چاپ کړی دی.

شیطان چراغ د سحر صاحب د طنزیه کیسو ټولګه ده،چې په ۱۳۸۵لمریز کال کې چاپ او خپره شوې ده.

سحر ځینې ناچاپ آثارهم لري،چې په لاندې ډول ترې یادوونه کو:

ــ د ښاپېرۍ په لټه،د لنډو کیسو ټولګه
ــ خو ته مې ونه لیدې،د شعرونو ټولګه
ــ کله چې مور وخاندي،د ماشومانو لپاره شعرونه
ــ د متلونو کیسې
ــ کاروانونه د بکوا په دښت تېرېږي، د سندرو او نارو په باب څېړنيز اثر
ــ تاریخچه وفهرست مجله عرفان،تحقیقي اثر
ــ ژوند په شېبو کې څېړنيز اثر د سحرځینې شعرونه او لنډې کیسې په هالندي او انګلیسي ژبو هم ژباړل شوې دي.

علم ګل سحر یو له هغو کیسه لیکوالو څخه دی،چې د نثر ساده ګي،په کیسو کې د واقعیتونو رانغښتل او پرخپلو تجربو اتکا د هغه د کامیابۍ راز ګڼل کیږي.یو زیات شمېر کره کتونکي او کامیاب کیسه لیکوال په دې ګروهه دي چې د هر ژانر لپاره خپله ژبه کارول کیږي او کیسه هم هغه ژانر دی،چې باید خپله ژبه په کې وکارول شي،یعنې هغه نثري اسلوب دې په کې مراعات شي چې د کیسې غوښتنه وي. سحر د خپلو کیسو لپاره له همداسې یوې ژبې کار اخلي چې هم ساده ده،هم داستاني او هم خوږلني په کې نغښتې. اسدالله غضنفر دا د سحر د کیسو د کامیابۍ راز په ګوته کوي: "دی په ساده ژبه لیکل کوي او په اصطلاح لغت پراني نه کوي. دی کوښښ نه کوي،چې خپل لوستونکي ته ځان ډېر پوه او ډېرعالم معرفي کړي او په مصنوعي اوغیرمنطقي ډول پرهغه اثر پرې باسي. دی کوښښ کوي،چې دغسې خبرې ورسره وکړي لکه څوك،چې په حجره کې یا په کوټه کې ناست وي او ساده، غیررسمي او غیر تصنعي غږېږي."

نورمحمد لاهوهم په همدې نظردی او په لنډو ټکو کې وایي: "د علم ګل سحرژبه ډېره ساده،رنګینه او ښه ده،نثر یې هم ډېر خوږ دی. "

خو عبدالهادي هادي بیا وایي،چې د سحر د کیسو ژبه د ولسونو ساده او بې الایشه ژبه ده. " نثر یې یو ځانګړی او خاص خوږوالی لري، ساده، بې الایشه بې تصنع نثر دی، ژبه یې هغه ژبه ده، چې ولسونه یې کاروي او

لوستونکي ته خوند ورکوي،یعنې لوستونکی د ده د نثر د لوستلو په وخت ستړیا نه احساسوي.”

هادي وړاندې وايي “د ده په نثر باندې د یوې سیمه ییزې لهجې خوږوالی ډېر غالب دی،چې هغه ورته ډېر خوږوالی ورکړی دی او د دې باعث شوی،چې د لهجې هغه خوږلني د ده په نثر کې ځان ښکاره کړي. ”

د سحر د کیسو یوه بله ځانګړتیا او د کامیابۍ راز په دې کې نغښتی، چې د موضوعاتو په انتخاب کې دقت کوي او هغه څه را اخلي،چې ده پخپله تجربه کړې وي. کله چې د ده کیسې او داستاني اثار لولو دې ته ځیر کیږو،چې هره خبره د واقعیت پر بنسټ کوي. د ادبپوهانو او کیسه لیکونکو په اند ښه کیسه لیکوال هغه دی،چې په خپلو تجربو اتکا کوي.د اسدالله غضنفر په نظر دا کار ځکه له کامیابۍ سره نېغ په نېغه رابطه لري چې: موږ مکتب ویلی دی،ممکن پوهنتون مو ویلی وي، موږ ممکن ماموریت کړی وي نو بهتره دا ده، چې د ماموریت، د پوهنتون او د متعلمۍ د دوران کیسې ولیکو. بهتره ده د هغو سیمو او هغو ښارونو کیسې ولیکو، چې هلته مو ژوند کړی دی،ځکه دغه کار له کامیابۍ سره نېغ په نېغه رابطه لري.

غضنفر هغه کیسې ناکامه بولي،چې لیکوال پخپله تجربه کړې نه وي: “زموږ ډېر لیکوال او ډېر کیسه لیکونکي دا خصوصیت نه لري،ژوند به یې په کابل کې کړی وي،زېږېدلی به په کابل کې وي،اوسېدلی به په کابل کې وي خو کیسې به د کوچیانو کوي،کیسې به د بزګر کوي. که زه په کلي کې واوسم،د بزګرو په کلي کې نو ښیا راسره ښايي،چې د بزګرو ژوند انځور کړم.علم ګل سحر په دغه راز پوهېدلی دی،د ده کیسې په مستقیم یا غیر مستقیم ډول تر ډېره حده د ده له ژوند سره،د ده د ژوند له پېښنو سره او د ده له تجربو سره تعلق لري .”

لاهو سحر یو زړور لیکوال راپېژني ځکه د ده په نظر سحر داسې موضوعات په کیسو کې را اخلي،چې راوړل یې جرات غواړي. “علم ګل

سحر،زموږ له هغو لیکوالو څخه دی،چې په جرات سره یوه موضوع را اخلي او هغه په داستانونو کې پلې کوي.اکثره وخت د ده داستانونه د افغانستان سیاسي وضعیت ته وقف شوي دي یا هغه موضوعات یې را اخیستي دي،چې ډېر سیاسي اړخ لري.د ده په داستانونو کې انتقادي اړخونه هم ډېر لیدل کیږي."

عبدالرحمن ومان نیازی هم د سحر کیسې د واقیعتونو پر بنسټ ولاړې کیسې بولي او ورسره وایي،چې د طنز مالګه هم لري: "د ده کیسې تر ډېرې اندازې پورې د طنز مالګه لري خوندورې دي.تر ډېرې اندازې پورې د ټولنې پر واقعیتونو باندې ولاړې کیسې دي."

ربنتیا هم د سحر کابو ټولې کیسې یو ډول طنزیه رنګ او خوند لري.دا چې ولې یې دغسې سټایل غوره کړی پخپله په دې اړه وایي: "شاید په دې خاطر وي،چې د کیسې خوند زیات شي او د ځینو کیسو خپله ځمکه همداسې وي،موضوع یې دغسې وي، چې باید طنزیه خصوصیت ولري.زما خپله علاقه هم زیاته ده،چې که چېرې ګنجایش ولري هغه د چا خبره،د طنز مالګه پرې واچوم. "

ښایي د ده مقصد خوند وي خو تر کومه ځایه، چې کیسې یې لولو پر خوند سربیره له طنز څخه د ده مقصد له یوه واقعیته پرده پورته کول او یوې اساسي خو ترخې موضوع پورې فکر کول دي.

لکه څنګه چې سحر ربنتیني موضوعات را اخلي دغسې یې کرکترونه هم ربنتیني دي خو نومونه یې بدل دي. ومان نیازی په دې اړه وایي: "د ده کرکترونه معمولآ هغه کرکترونه دي چې په ټولنه کې شته او ده لیدلي دي. تر ډېرې اندازې پورې تخیلي کرکترونه نه دي،دی واقعي کرکترونه انتخابوي."
لاهو،هم ورته نظر لري او د سحر د کیسو کرکترونه ژوندي کرکترونه راپیژني "د ده کرکترونه هم ژوندي به یې وبولو ځکه چې اول خو موږ یوه موضوع انتخابو و او بیا ورته کرکترونه ایجاد وو نو دی هم لکه استاد شپون هغه

کرکترونه را اخلي، چې هغوې موجودیت ولري خو هغوی ته په مستعار شکل رول ورکوي ځکه، چې نېغ په نېغه خو مشکله ده،چې د یو چا نوم واخیستل سي،چې دا فلانی دی داسې کارونه کوي یا داسې عوامل رامنځته کیږي،چې د هغه د بد بختۍ سبب کیږي.دی کوښښ کوي د خپلې موضوع مطابق هغسې کرکترونه ایجاد کړي،چې ده لیدلي دي."

لاهو وړاندې وایي،چې د سحر په کیسو کې داستاني تخنیکونه شته او تر ډېره بریده د کیسو پای یې ډېر قوي وي. "دی په کیسو کې داستاني تخنیکونه ډېر مراعاتوي. مثلاً په کیسه کې پیل، اوج او پای رول لري،د ده د کیسو په منځ کې یوه غوټه وي،چې تلوسه ایجاد وي او لوستونکی تر پایه له ځانه سره ساتي.دی کوښښ کوي،چې اصلي خبره د کیسې پای ته وساتي او په پای کې خپله موضوع وړاندې کوي،نو له همدې امله د کیسو پای یې ډېر قوي وي."

د لاهو په اند سحر پر قوي پای سربیره هڅه کوي، چې لوستونکي فکر کولو ته اړ باسي. "دی کوښښ کوي لوستونکی اړ باسي، چې هغه هم په موضوع باندې یو څه فکر وکړي یعنې لوستونکي ته تیاره مړۍ نه پرېږدي." سحر یوه بله هڅه هم کوي او هغه دا،چې د خپلو کیسو له محتوا سره سم خپلو کیسو ته نومونه ټاکي. لاهو هم همدا خبره کوي. " دی په مجموع کې د کیسې محتوا ته ګوري او له محتوا سره سم یو نوم ورته انتخابوي." خو پر دې سربیره لاهو دا خبره هم کوي، چې سحر داسې نومونه خپلو کیسو ته نه غوره کوي،چې کیسه یې افشا شي. "هغه نوم هم داسې نه وي،چې د کیسې ټوله محتوا افشا کړي. په یو ډول په غیرمستقیمه بڼه داسې یو نوم ورته ټاکي،چې هم د داستان محتوا افشا نه کړي او هم د ده کیسه پرې ونومول شي."

دا هم د علم ګل سحر هغه کیسه، چې پورته ځانګړنې په کې ځل وهي :

## د قرباني غويی

هغه په دې لنډو ورځو کې زموږ سیمې ته راغلی و،تل به ارامه او چورتي ناست و او مخامخ به يې په ځير ځير کتل، له چا سره يې ډېرې خبرې نه کولې،په کور کې يوازې اوسېده. په دې دومره موده چا څوک ونه لیدل،چې د ده کور ته دې راغلی وي، په شونډو يې چا موسکا نه وه لیدلې،موږ به تل هڅه کوله،چې خوشحاله يې وساتو،د ده د خوشحالۍ لپاره به مو د ټوکو ټکالو مجلسونه جوړول چا به،چې هر څومره په زړه پورې خبره او یا ټوکه وکړه،چې موږ به له ډېرې خندا بډوډي په لاس کې نیولي وو او خندا به مو ښایسته ډېر ځنډ وکړ،خوهغه به نه خندل يوازې به يې وويل:

ـ هو دغسې ده او یا يې ويل:

ـ رښتیا چې ښه ټوکه وه.

ان څو ځله خو زموږ د ده په خندولو شرط کنبېښود خو دی نه يوازې چا په خندا رانه ووست بلکې خوشحاله مو هم ونه لېد ،معلم  اکرم ورو،ورو ځان له خلکو ګوشه کاوه،د ورځې به هم ځان ته ګرځېده او یا به د کتابونو په مطالعه بوخت و،ما ته د ده علمي او پخې خبرې ډېرې په زړه پورې وې، کله،کله به مازدیګر د ده کور ته ورتلم،کتابونه به مې امانت ورڅخه وړل او د مطالعه شویو کتابونو پوښتنې به ده راته حلولې،په هره برخه کې يې  پوره معلومات لرل اوس نو هغه زما استاد و او زه به هر مازدیګر هغه ته ورتلم،یوه ورځ مې زړه وکړ پوښتنه مې ترې وکړه:

ـ استاده څنګه ژوند يوازې او بې اولاده سخت نه دی؟

ـ سخت نه،چې دوزخ دی.

ـ نو استاده نه شي کېدای،چې له دې يوازیتوب څخه ځان وژغورې.

ـ ولې نه شي کېدای،ډېر اسانه یوه د دار رسۍ او لږ څه جرئت په کار دی.

خپلې پوښتنې بېځایه راته ښکاره شوې،په خپلو پوښتنو پښېمانه شوم خو څه مې کړي وای،اوس خو مې پخپله شروع کړې وه، ومې ویل:

ـ نه استاده خدای دې نه کړي زما منظور دا نه و.

ـ ستا په منظور پوه شوم خو څو چې انسان،انسان شوی نه وي اوانساني عاطفې کډه کړې وي،همداسې د مرګ پر پوله ژوند یوازې ښه دی،نورمې ونه غوښتل چې په خپلو پوښتنو سره یې پر زخمونو مالګې ودوړوم په عمر کې یوازې او بې دوستانو او خپلوانو اوسېدل،د اولادونو نه درلودل تل خپه ارام او چورتي. . . او په لسګونو داسې نورې پوښتنې،ځان مې په تاخ کې په یوه اېښودل شوي پنډ کتاب بوخت کړ،هماغه کتاب مې امانت ورڅخه واخیست او خدای پاماني مې ورسره وکړه.

شپې ورځې یو په بل پسې تېرې شوې. اکرم به سهار وختي له کور څخه ووت او مازدیګر به هماغسې غلی کور ته راته او د باغچې د دېوال سیوري ته به د کتاب په لوستلو بوخت و،د ده د ژوند په هکله له موږ سره پوښتنې هماغسې بې ځوابه پاتې وې،خو د لوی اختر د ورځې پېښې نه یوازې زموږ پوښتنې حل کړې،بلکې د اکرم په ژوند کې یې هم ژور بدلون راوست، لکه چې له هغه وروسته به ده تل ویل اوس چې مې عاطفه او له همنوع سره زړه سوی ولید ،غواړم چې ژوند وکړم.

د اختر لمونځ مو ادا کړ،یو بل ته مو د اختر مبارکي وویله،ټولو نوې جامې اغوستې او خوشحاله وو،خو د اکرم په حالت کې د خوښۍ په همدې ورځ هم کوم بدلون نه وراغلی،هماغسې چورتي د لرګیو د خونې پر وړوکي بام د ګرم لمر پیتاوي ته یې ډډه وهلې وه او مخامخ سیمې ته یې په ځیر سره کتل.

زه په دې فکر وم چې په څه ډول هغه له ځانه سره بوځم،چې څو شېبې په خوښۍ سره تېرې کړي،چې هغه راغږ کړ او زه یې هم بام ته وروبللم، په خوښۍ د لاس په اشاره یې وپوهولم چې مخامخ سرای ته وګورم،ما چې هغې خوا ته وکتل په لوی سرای کې مې غوبی ترسترګو شو، له ځانه سره مې وویل

دا خو دومره مهمه خبره نه ده،هغه لکه، چې پوه شوی وي د کښېناستلو اشاره یې وکړه ویې ویل:

ـ وګوره غویي ته ښه په ځیر سره وګوره.

غویی یې د قربانۍ لپاره دغه سرای ته چې له ده د مخه نور غویان هم پکې حلال شوي وو،راوستی و.غویي په ځیرځیر یوې او بلې خوا ته کتل، د حلال شوي غویي د څرمنې خوا ته ورغی،څرمن یې بوی کړه،بېرته یې سر راپورته کړ،شا و خوا ته یې وکتل، بیا یې پر څرمن بوی وکېښ،څرمن یې پخپل شونډک واړوله راواړوله،بیا یې په څنګ کې بلې څرمنې ته پام شو. ورغی، ښه بوی یې پرې وکېښ،بېرته یې سر راجګ کړ،ما ته داسې ښکاره شوه،چې پرخپل همنوع د بېوسۍ اوښکې تویوي او د هغه د قاتل په لټه کې دی،غویي د سرای د یوې فلزي دروازې پر لوري منډه کړه.

دروازه یې په شونډک ووهله،خلاصه نه شوه، ښکرونه یې ورته ټمبه کړل،خو ونه شول بیا د څرمنو خوا ته راغی څرمن یې بوی کړه او حیران دریان ودرېده.

اکرم هغسې چې د غویي هرحرکت یې په ځیرسره څاره،ما ته وویل:
ـ وګوره غویي ته وګوره،پرخپلو همنوعانو یې څومره خوا بده ده،بې له دې چې ووایي،چې څرمن یې توره ده، سپینه ده، سره ده او که بل رنګ، بې له دې چې زما له قوم او خپلوانو څخه دی،که نه وي، وګوره حیوان وګوره، د بل حیوان په درد څومره دردمن دی. بې له دې چې څېرې ته یې وګوري،راشه وګوره د حیواناتو پاچا اشرف المخلوقاتو،هو انسان اشرف المخلوقات څه څه کارونه کوي،د خپلو ګټو لپاره بل انسان په دارځړوي،د رنګ، ژبې، قوم، نژاد او سیمې په نامه د نورو انسانانو وینې څښي او دومره له حیوان څخه هم زړه سوی نه زده کوي.زما ګران جان ګل یې په دې تورشهید کړ چې د دوی په ژبه یې خبرې نه کولې او جنازې ته یې ډېر خلک رانه غلل،چې د دوی په رنګ، څېره او جامې یې نه لرلې او نه د دوی له قوم څخه و او زما د تنکي زوی اسد جان په سر کې یې ځکه مېخونه ووهل چې نه یې څېره د دوی په ډول

وه او نه د دوی له سیمې څخه و. او لوی خدای په بله سیمه کې پیدا کړی و،مېرمن او اولادونه مې ځکه په لمبو کې وسوځېدل،چې د دوی د مخالف لوري په سیمه کې مې کور و او زه هو زه، زه ځکه داسې بدمرغه او خوار و زار شوم چې د دوی په ډول فکر مې نه کاوه.

اکرم په لوړ اواز شمېرلې- شمېرلې خبرې په داسې احساساتو سره کولې،چې د ډېرې زړه یې هم نرماوه، زما په سترګو کې اوښکې ډنډ شوې، خبرو یې دومره تاثیر درلود چې د ده په لنډو جملو کې مې هغه ټول تېر شوی حالت سترګو ته ودرېده،د هغه ځوان زوی مې ولید ،چې څو تنووسلوالو له شکنجې او وهلو ټکولو وروسته د هغه لوړ دېوال نیمایي ته پورته کړ،په پښو او لاسونو یې مېخونه ورووهل او په دېوال یې ځړېدلی پرېښود. . .

د توغندي په تورو دودونو اوسرو لمبو کې مې د ده کورنۍ ولیدله،هلته لیرې یې مېرمن د لمبو په منځ کې د لرګیو او پخو خښتو ترامبار لاندې پرته وه اوهځه یې کوله چې ځان خپل کوچني تي خوره ماشوم زوی ته،چې د خونې په بل کونج کې لمبې ترې تاوېدې ور ورسوي. . .

اکرم مې ولید چې له سترګو څخه یې د بېوسۍ اوښکې روانې وې، یوې او بلې خواته یې منډې وهلې،خو څوک نه و چې د ده اولاد د اور له لمبو څخه راوباسي. نورمې غوږ هېر شو او د شلمې پېړۍ د انسان، انساني وحشت ته فکر وړی وم خو اکرم مې بېرته پام د غوږ لوري ته را وګرځاوه، ویې ویل:

ـ راځئ،راځئ چې له حیوان څخه یې زده کړو، راځئ عاطفه، زړه سوی او له ژوند سره مینه له حیوان څخه زده کړو، وګوره، وګوره.

غوږ لکه چې د قاتل په لټه کې وي په قار قار یې یوې بلې خوا ته کتل، هلته لیرې یې واښه تر سترګو شول،ورغی بوی یې کړل خو ویې نه خوړل همداسې ورڅخه روان شو،نور هم ګړندی شو،د دېوال کونج ته لاړ،بېرته راوګرځېده سر به یې کله کښته او کله لوړ نیولی و،خو نا څاپه ځای پر ځای ودرېده،غوږ یې ونیو په دې وخت کې د سرای په دروازه یوه ډله خلک راننوتل،د دوی شمېر اته نه تنه و د یوه تن په دواړو بغلونو لوېې لوېې چړې په

چرمي پوښ کې ځوړندې وې،د غويي چې څنګه سترګې پرې ولګېدې د هغه پر لوري په بيړه ور روان شو.قصاب هم حملې ته چمتو شو او د غويي پر لوري سوکه،سوکه  وروخوځېده.غويی هماغسې مخامخ ور روان و، چې ښه ور نژدې شو قصاب هم ودرېده او چاړه يې په لاس کې سمه کړه.غويي په خېټه کې په ښکر وواهه، قصاب پر ځمکه ولوېده، چې بيا راپورته شو غويي يې پښو ته ښکر ټمبه کړ.تر يو څه ځايه يې په ښکرو کې اخيستی يووړ او بيا يې پر مځکه وويشت قصاب چې پوه شو نن له هغه غويي سره نه دی مخامخ چې دی يې هره ورځ په غاړه چاړه راکاږي،نو د شا پر خوا يې منډه کړه. له دې سره اکرم له واره چيغه کړه:

ـ ودرېږه په چا اموخته شوی يې، ته هم وينې تويوې اوس به دې حال ګورم.

او ما لومړی ځل د اکرم  پرشونډو موسکا وليدله له ځانه سره مې وويل کاشکې،چې اوس بل څوک هم وای،چې د ده د خندا شاهد وای.غويي په قصاب پسې منډې وهلې، نور ولاړ خلک هم يوې او بلې خوا ته سره خواره شول، د سرای په دروازه کې سره جرګه شو،چې د غويي د نيولو او حلالولو لارې چارې وسنجوي،څو شېبې وروسته يې غويی کلابند کړ.غويی پر خپل ځای ولاړ و،يوې او بلې خوا ته يې سترګې اړولې لکه،چې د خپل اصلي دښمن په لټه کې و،خوهغه نه و تللی،چې بل با تجربه قصاب راولي،د خلکو ډلې له څلورو خواوو غويی کلا بند کړی و.

او شېبه په شېبه يې د محاصرې کړۍ تنګوله، کله چې سره ورنژدې شول غويي پرې رامنډه کړه، سپين کالي سړي ته سرټمبه کړ او له دېوال سره يې جوخت کر، نورو د شا له خوا په ډبرو وويشت خو غويي د سپينو جامو وال سړی نه پرېښود.له دېوال سره يې سخت وواهه، د شا له خوا يو بل په تبر وواهه، غويي د هغه پر لوري ورمنډې کړې او سپين کالي سړی ترې وژغورل شو.اوس نو هريو خپل ځان بچ کاوه، غويي يو ځل بيا ځرمن بوی کړه او هلته ودرېده.

یو بل ځوان چې نیلي کالي یې اغوستي او د کلینرانو په دود سره خولۍ یې په سر ایښې وه راغی دا نورو ته یې وویل:

ـ تاسي په ټولو سره یو غویی نه شئ نیولای، ورځ خو دلته دربانديې تېره شوه، یو بل ورته وویل:

ـ که دومره ښاغلی یې،ته یې ونیسه موږ خو خپل وس پرې وکړ. شین کالی ځوان د سوک وهونکو په څېر په داسې حال کې چې په دواړو لاسونو یې پړی مخې ته نیولی و،د غویي پر لوري ورروان شو، د غویي چې سترګې پرې ولګېدې،د هغه پر لوري یې منډه ور واخیسته، په یوه کونج کې یې راایسار کړ،د شا له خوا نورو په لوټو او ډبرو وویشت او هغه یې ترې وژغوره. وروسته دوی ټوله په ګډه د غویي پر لوري یرغل وروړ،د چا سره چړې د چا سره بېلونه او تبرونه وو او چا غټې ډبرې په لاسونو کې نیولې وې خو غویي یوې او بلې خوا ته منډې وهلې،شېبه په شېبه پسې وحشي کېده، سر یې ټیټ اچولی و،کله به یې په یوه او کله په بل پسې منډې کړې ټوله ایله خپل ځانونه وساتل.

په دې وخت کې یو بل سپین ږیری قصاب راغی،ټول له هغه سره په یوه ګوښه کې ودرېدل،د هغه خبرو او نصیحتونو ته یې غوږ نیولی و،بېرته ټول په یوه اتفاق سره د غویي پر لوري ورروان شول، یوه یو څه رشقه یې هم غویي ته ورواچوله هر دوو تنو د پړي یو او بل سر په لاسونو کې نیولی و او له څلورو خواوو سوکه سوکه د غویي پر لوري روان شول، د غویي ښکرو ته یې په ډېره وړتیا ول ور واچاوه او د مخ پښې یې په بل پړي ووربل شوې، همداسې په بل پړي کې یې د شا یوه پښه بنده شوه او دوه نور پړي یې هم غاړې ته ورولوېدل، غویی یې څملاوه،غویي لغتې وهلې،خو له ټولو خواوو په پړي ټینګ تړل شوی و،قصاب یې له واره پر مرۍ چاړه راتېره کړه،د غویي دواړه سترګې د څرمنې پر لوري کږې پاتې شوې.

که څه هم د سحر کیسې ډېرې کامیابې دي خو ځای نیم یو څه د خو ټکي هم په کې ترسترګو کېږي. ومان نیازی په دې اړه وایي "کله نا کله له ده

نه تکرار کیږي. یو مفهوم په څو رقمه راته وړاندې کوي، یوه خبره چې په یوه یا دوو جملو کې کیږي دی ممکن هغه خبره په لسو جملو کې وکړي."

سحریو پرکاره لیکوال دی. کله شعر لیکي، کله لنډه کیسه او کله طنز او کله کله تحقیق هم کوي.د روان کال په پیل کې موږ د مینې او جګړې په نامه د ده د یو ناول د چاپ شاهد هم وو، چې پر نورو ځانګړنو سربیره پر واقعیت ولاړ ناول دی. غضنفر چې ناول د واقعیت د بیانولو لپاره رامنځته شوې هستونه ګڼي، د سحر مینه او جګړه همداسې یو ناول بولي: "په پښتو ژبه کې ډېر لږ ناولونه لیکل شوي دي او په دغو لږو کې بیا ډېر لږ داسې ناولونه لرو، چې له ژوند سره تعلق لري. د علم ګل سحر ناول مینه او جګړه له ژوند سره تعلق لري او دا یو ډېر لوی امتیاز دی.اصلاً د ناول ژانر د ژوند د معرفۍ لپاره، د ژوند د واقعي معرفي لپاره رامنځته شوی دی." غضنفر وړاندې وایي، چې درې سوه کاله مخکې ناول نه و موجود "۳۰۰ کاله یا ۴۰۰ کاله پخوا چې ناول لا رواج نه و نو په اروپا کې رومانس رواج و. رومانس به خیالي قیصې وې، په کرکترونو کې به یې مبالغې بیخي زیاتې وې، معمولاً به د ژوند له رومانتیکو اړخونو سره متعلقې قیصې وې.خو ناول رامنځته شو، چې واقعي ژوند تمثیل کړي او په واقعي جغرافیا کې، په واقعي سیمه او په واقعي زمانه کې یو څه پیښ شي."غضنفر د لومړني لیکل شوي ناول په اړه وایي "ځیني ادبپوهان وایي چې لومړنی ناول د رابنسن کروزو ناول و، چې په ۱۷۱۹ میلادي کال چاپ شوی دی، یعنې پر چاپ باندې یې دوه سوه څو نوې کاله تېرېږي. هغه ناول له واقعي زمانې سره او واقعي جغرافیا سره تعلق لري."

د ښاغلي غضنفر په نظر د ناول له دومره اوږدې مودې تجربې سره بیا هم زموږ لیکوال محسوس زمان او مکان نه شي ترسیمولی خو مینه او جګړه واقعي ژوند ته جدي کتنه ده. "متاسفانه زموږ ناول لیکونکي اوس هم محسوس زمان او مکان نه شي ترسیمولی، واقعي ژوند او واقعي پیښې نه انځوروي خو مینه او جګړه د پښتو ژبې یو له هغو د ګوتو په شمار آثارو څخه

دی،چې واقعي ژوند ته یې جدي کتنه کړې ده. زما په نظر مینه او جګړه به همیشه لوستونکي ولري،همیشه به وربانديې بحثونه کیږي،همیشه به وربانديې کره کتنې کیږي او په حقیقت کې د ښاغلي سحر د زمانې یو مستند اثر دی."

غضنفر د ناول او تاریخ تر منځ توپیرته په اشارې سره د مینې او جګړې د ناول په اړه وایي: "یوه مشهوره جمله ده،چې وایي د تاریخ او ناول فرق په دې کې دی، چې په تاریخ کې نومونه او سنې رښتیا وي خو نور هر څه دروغ وي او په ناول کې البته واقعي ناول او هنري ناول یې منظور دی، په ناول کې نومونه او سنې او اعداد رښتیا نه وي نور ټوله محتوا رښتیا وي. دغه مقوله د ښاغلي علم ګل سحر په ناول په مینه او جګړه صدق کوي."
غضنفر ټول هغه لوستونکي،چې د افغانستان له تاریخ او وروستیو پیښو سره علاقه لري،د دې ناول لوستلو ته رابولي "زه ټول لوستونکي د ناول او کیسې ټول لوستونکي او حتی د افغانستان د پیښو لوستونکي او هغه کسان،چې غواړي د افغانستان حالات،د افغانستان تاریخ او روان سیاسي وضعیت ښه وپېژني او ښه یې درك کړي، دغو ټولو ته بلنه ورکوم،چې مینه او جګړه ولولي."

صدیق الله بدر


۱۳۹۰ لمریز کال، د غبرګولي د میاشتې ۵

## پيژندل شوی شاعراوليکوال علم ګل سحر

**قدرمنو شاعرانو او ليکوالو!**

ســــلام،میـــنه اودرناوی.

د افغانستان د قلم ټولنې،نن د هیواد د یوه پېژندل شوي لیکوال او شاعر محترم علم ګل سحر د آثارو د مخکتنې او د ادبي خدمتونو د درناوي په ویاړدغه پرتمینه ادبي غونډه جوړه کړې ده. که چیرې دغه غونډه د ده د زوکړې کال په ویاړ جوړه شوې وای،لابه ښه وه. په هرحال،سحرخپل زړه شعر او ادبیاتو ته ورکړی دی او د ده ګڼ شمیر کتابونو د ډیرو لوستونکو له سترګونه خوبونه تښتولي دي. سحر ځیرك او د ښې حوصلې خاوند لیکوال او شاعر دی.دی د ښه شعر د ویلو قریحه او د ښه ادبي اثر د لیکلو سلیقه لري. تراوسه پورې یې (۱۵) عنوانه کتابونه چاپ شوي،په لسګونو مقالې یې خپرې شوې،په ګڼ شمیر کتابونو باندې یې تقریظونه او سریزې راغلې او مهمه لا دا چې،د افغانستان قلم ټولنې د مشرتابه پلاوي غړی،د قلم مجلې لومړنی مسوول مدیر،د افغان ادبي بهیر فعال غړی،د مېرمنو کلتوري بهیر او د مصور خپرندوی بنسټ له بنسټ ایښودونکو څخه دی د جمهور رئیس یو شمیر پیغامونه د ده په قلم لیکل شوي او د لمر تلویزیون خپرونې د له خوا اډیټ شوي او ښې شوي دي.

ادبیات په عمومي توګه درې لویې لارې لري.

۱- د شــاعــري لاره

۲- د کیسه یې ادبیاتو لاره

۳- د ډراماتیکو او ادبیاتو لاره

سحر له دغو دریولارو نه،په دوو لارو با په بري سره روان دی .

یوه له نازکخیالي او احساس نه ډکه د شاعري لاره او بله د کیسې یا کیسه یې ادبیاتو لاره ده. ده دغه دواړه ډوله تخلیقي ادبیات تجربه کړي او اوس د افغانستان ادبیاتو ته د خپل همیشني مسلك په عنوان خدمت کوي.

ما د سحرکابو ټول آثار لوستي دي،لیکن هیڅ یوه یې د مینې او جګړې ناول په اندازه خوند نه دی راکړی او په هیڅ اثرکې،په دغه کچه محنت نه دی کړی. ده د دغو زیارونو اوهڅو پایله دا شوه چې،د ده د نورو آثارو په څېر،دا اثرهم افغاني ټولنې ومانه اوښه په مینه یې ومانه.

دا د یوه لیکوال لپاره ستر بریالیتوب دی،کله چې ټولنه د کوم لیکوال او شاعر ګریوان ته لاس ور واچوي،هغه ورځ د هغه لپاره د قیامت تر ورځې نه کمه نه ده. کله چې لیکوال خپل اثرنشرته سپاري،د ده زړه ډېرېږي او احساس یې د امید او ناامیدي په منځ کې سخت سرګردانه وي،چې آیا زما اثربه ټولنه ومني او که به یې رد کړي؟

د یوه شاعر اولیکوال په ژوندانه کې،ترهغه بد او سخت ساعت نشته چې د ده په ژوند ،ټولنه د ده اثر رد کړي.

د نیکمرغۍ ځای دی چې سحر له دغه لوی ازمېښت نه کامیاب راوتلی دی.

سحر د پښتو ادبیاتو له اړتیا سره سمه شاعري وکړه،مقالې او کیسې یې ولیکلې،ماشومانو او کوچنیانو ته یې نکلونه ورواچول،د طنز په پسته خوږه ژبه یې، د دوی په غمجنو شونډو موسکا راوسته او په ډېرو بدو حالاتوکې یې د ادب ډیوه ولګوله.

د سحر په دوران کې که په یوه خوا کې، د حضرت رحمان بابا مزار په بمونو کې والوت،نو په بله خواکې،د هغه عکس د یو شمیر کینه کښو اومتعصبو انسانانو له خوا تر پښولاندې شو. هیله من یم چې نن په دغه ادبي غونډه کې سحر خپلې ادبي تجربې بیان کړي،خپلې ترخې اوخوږې تجربې

چې،څنګه شاعراو څنګه لیکوال شوم؟ هغه هم ناول لیکوال، دا ترخې او خوږې تجربې نه یوازې سحربلکې هر شاعراو لیکوال یې لري.

په ډاګه وایم،چې هیڅ شاعراو لیکوال د بل لیکوال او شاعر ځای نه تنګوي،هر یو خپل میدان او دهریوه لوستونکي بیل بیل دي.مهمه دا ده چې د سحر د کتابونو لوستونکي دې خوا په پرتله ډیر زیات شوي،له افغانستان نه بهر یې اوس په سیمه او نړۍ کې هم د یوه نوښتګرشاعر او لیکوال په صفت پیژني. او انترنت د ده د ادبي کارونو او آثارو په ورپیژندنه کې غټه مرسته کړې ده.

زه فکر کوم چې سحر دغه لاره ترنیمې شپې پورې په مطالعه اوکله نا کله ترسپیده چاوده پورې د سختې مطالعې په کولو سره وهلې ده. او په دې برخه کې د ده تخلص هم بې څه نه دی.هغه له شپې ترسهاره اوله سهاره ترشپې پورې،د پښتو ادبیاتو لاره پاللې ده.

قدرمن دوستان به د ده په مختلفو آثارو باندې خبرې وکړي،لیکن زه یوازې د مینې او جګړې په ناولی وځو ټکي کاږم. دغه ټولې خبرې،د دوستانو نظرونه،وړاندیزونه او نیوکې ترموږ زیاتې د ده لپاره ډیرې مهمې دي،ځکه دا شاعر لا په مخ روان دی او په لارکې نور مزل هم لري.

موږ چې څه پرې لیکوهغه د ده د نورې هڅونې او تشویق لپاره دي،موږ دا خپله وظیفه بولو،که موږ دا ځوانان ونه هڅوو په راتلونکي کې به تجربه لرونکي لیکوال اوشاعران له کومه کړو.

د سحرد مینې اوجګړې ناول ډیره غوره برخه دا ده،چې بې ربطه او اضافي صحنې نه لري،اضافي کرکټرونه پکې نشته. د ده دناول کرکټرونه له ولس نه تښتیدلي انسانان نه،بلکې د خپل ولس په منځ کې اوسېدونکي انسانان دي.د ده د ناول کرکټرونه په ټولنه کې وو،د لیکوال شاوخوا ته یې په ژوندۍ بڼه وجود درلود. لیکوال د خپلې کیسې د پرمخ بیولو لپاره په وړکرکټرونو پسې سرګردانه بریښي او د پیاوړي لیکوال یوه ستره نښه دا

ده،چې بشپړ کرکټرونه نړۍ ته راوړي.ښه یې په خپل ذهن کې جوړوي،بیا بیا یې رغوي او ټولنې ته خپل پیغام د کرکټرونو په خولو بیانوي.

ربښتینی لیکوال یو ارمان لري او په خپلو اثارو کې هغه ته پروربښت ورکوي، هغه څه چې دی ګوري له خپل ارمان سره یې پیوندوي،هنر لکه ژوند باید همدا ډول منطقي وي.

سحر په دغه ناول کې،په اوږده سوچ کې ډوب ښکاري. د ده د ناول ټولي پردې اوصحنې ډیرې هم غږه ترسیم شوې دي. سحرد شعر په ویلو،د کیسو په لیکلو او د ناول په تخلیق کې ځلیدلی دی.

ده که د شاعري درنه ډبره ورپورته کړه،یا د ناول درنه ډبره یې ښکل کړه او اوږه یې ورکړه،په سینه یې یو وړه او په مخ ولاړ،په دې ډول شاعر د مینې په شاعراو د ګرانښت او صمیمت په سمبول باندې بدل شو.

سحر په خپل پیاوړي قلم باندې د ادبیاتو مختلف صنفونه وپالل او د مطبوعاتو له لارې یې خپلې اړیکې له لوستونکو سره ټینګې کړې،اوس د ده پرله

پسې هڅې او زیارونه ثمرته ورسیدل.کوم سرچې ده د ادبیاتو په ډګرکې پورته کړی و،هغه سر اوس د ممتاز او د نظر خاوند شاعر اولیکوال په توګه تر پخوا اوچت دی. د ده ارمانونو اوس د کاغذونو پر مخ روح اخستی دی، دا روح به ژوندی وي اوتر قیامته پوري به نه مری!

لنډه دا چې،د شعراو ادب لاره د زمریو انسانانو لاره ده چې د زړه په وینو باندې پالل کیږي،شاعر او لیکوال یو انسان له نیمګړې ټولنې نه د باندې راباسي او د ښه انسان په حیث یې ښې ټولنې ته ورننباسي.دا ښه والی که په هرځای کې پیداکړي،راپورته کوي یې اوله لوستونکو سره یې ویشي. د هنر خاوند انسان د تجربې په ملګرتیا سره ان د ډیر کوچیني اثر په ارزښت پوهیږي.

سحرصاحب په خپلو ادبي اوشعري اثاروکې د شعراو ادب تولي لارې چارې مراعت کړي دي،او په ټولو کې ډير منظم او منطقي پرمخ تللی دی،د ده آثار زمونږ د خپل چاپيريال رنګ اوخوند لري.

ښايې چې د ده آثار د ادبي کره کتونکو له لوري په بې رحمۍ سره ترسختو قضا وتونو لاندې راشي،ليکن زه دا په ډاګه درته وايم،چې وروستي نسل به د ده د آثارو درناوی وکړي او پرهغو به ګران وي. د ده آثار به نيمګړتياوې ضرور ولري،ليکن زيات عيبونه نه لري.د ده ليدلوری يو ملي ليدلوری دی او په ملي مسائلو کې د هيچا لحاظ نه کوي او دا د ده د ادبي کار يو ډير لوی صفت دی. زه به باور لرم،کوم آثار چېله دې وروسته به يې ليکيله مخکنيو نه به څوکرته ښه وي،ځکه اوس د ده ادبي تجربه پخه شوې ده. ډير پرمختګ يې کړی اوپه دې برخه کې د ده استادانه تجربه اومعياري کار د دغه منطقي شاعر اوليکوال د بري ضمانت کوي.

بس د مينې سخت سفر مې دی په مخکې

خــــوارسحر بيا په څـپلو وهي ميخـونه

په درنښت

څېړندوی محمد نبي صلاحي

# علم ګل سحر د خپل چاپیریال انځورګر

د انساني فکر په جوړښتکې يو ډېر مهم عنصر د ټولني د تفکرعمومي څرنګوالی دی.هرانسان له خپل شاو خوا چاپيريال نه متاثر کيږي او د ليک لوست او ليدو اوريدو په مټ د فکر يو ځانګړی انداز جوړوي،چې په انګريزۍ کې ورته ماينډ سيټ وايي. له کوچنيتوبه تر بوډا توبه پورې که څه هم هر لوستل شوی توری زموږ د ذهن په يوه ګوټ کې ځای نيسي،خو هغه ذهنيت،چې موږ يي د اوريدو او مشاهدې په قوت د راټول کړل شويو لکونو د ليلونو په مټ جوړوو،په اسانه نه بدليږي.

زموږ په وطن کې له لسيزو راهيسې موجود تاوتريخوالي ليکوال هم په ډلو ويشلي دي. زموږ يو شمېر ليکوا ل يوازې د وير ساندې ليکي،ځينې نورو بيا له حال سره ټولي اړيکې پرې کړې دي او د خير په غوښدۍ، يا که داسې ووايو نو سمه به وي،چې د ماضي په غوښدۍ ناست دي او د خيا ل په ټالونو ځانګي.له نيکه مرغه يو څو تنه بيا داسې هم شته،چې ماضي ته له تېروتنو نه د زده کړې لپاره ورګوري، حا ل محسوسوي او د راتلونکي لپاره د خپل شاوخوا د اوسني چاپيريال د محسوس تصوير په جوړولو بوخت دي.ښاغلی علم ګل سحرصاحب هم د همدغه کتار سړی دی. د ده په ليک کې موږد ژوند تصوير وينو،زموږ د خپل ژوند تصوير،د هغو انسانانو د ژوند تصوير چې د جګړې په لمبو کې په ژوند کولو مجبور دي،دغه انسانان را ته خپل حال داسې وايي:

لاس وهم اوبو کې،اوبه ټولې رانه خړې شوې

ارمان مې رانه ورک دی له ما دغو اوبو وړی دی

په داسې حال کې چې ژوند سره سکروټه ده،شاو خوا د کرکې تيارې خپرې دي،خو هغه شاعر چې تريخ ژوند ته يې هم خواږه کتلي دي،د رڼلو،شړلو او پورې وهلو په زمانه کې هم د ګرانښت خبرې کوي،دی اصلاً غواړي د راتلونکې وخت خلکو ته ووايي چې، په موږ باندې يواځې ځان ګران

نه وبلکې موږ،چې د کرکې په کلونو کې ژوندي وو،جانان هم راباندې ګران و او نه یوائې جانان،بلکې نورهم ډېر څه راباندې د خپل جانان غوندې ګران وو،چې همدغه د دی وطن د انسان اصلي تصویردی.

ځومره ډیر مې خپل جانان راباندې ګران دی

لکه ځان،لکه ایمان راباندې ګران دی

لکه خپله خوږه ژبه راته ګرانه

لکه ګران افغانستان راباندې ګران دی

زه یو تږی لاروی یمه د میني

د رڼو اوبو په شان راباندې ګران دی

ماشومتوب دی،هوسیږم یې ځلا ته

لکه ستوری د اسمان راباندې ګران دی

دوی حیران دي چې په تا ولي مین یم

دا خو ځکه،چې انسان راباندې ګران دی

هغه پریمانه مینه چې د سحر صاحب د شخصیت او وینا یوه همېشنۍ برخه ده، د هغې خاوري اثر دی،چې تن یې ځیني جوړ دی. که څوک د تپل شویو جګړو د دوړو تر شا د سحرصاحب د وطن او پرې مېشت ټولنې د اصلي څېرې د لیدو وړتیا و لري،نو په اسانۍ به پوهه شي،چې یوازې سحر صاحب نه بلکې د دې خاوري هر وګړی له کرکې سره نابلده وو. اوسنی حال البته جلا کیسه ده. دا هم بیله خبره ده،چې سحر صاحب ته الله تعالی( ج) د کرکي د سوداګرو په منځ کې هم د خپل مینه ناک احساس د براعلا اظهار جرائت او سلیقه ور زده کړي دي. سحرصاحب وایي په کوچنیتوب کې مې نکلونه

اوریدلي و اثر یې راباندې کاوه، کله،چې مې د خپل احساس د بشپړ اظهار لپاره د شعر لمن تنګه ولیده،نو وایې د داستاني اثارو لیک ته مې مخه کړه. د سحر صاحب په هکله مې د ده په دې خبرې پورې د استاد غضنفر دا خبره چې وایي،سحر لغت پراني نه کوي او خپل لوستونکي ته ځان ډېرسترعالم نه ورښي را یاده شوه. استاد غضنفر وایي: سحر له خپل لوستونکي سره په داسې ژبه غږیږي،چې هم داستاني ده او هم خوږه لوړي. لکه څنګه چې استاد غضنفر وایي،سحر صاحب رښتیا هم شعوري کوشش کوي،چې له خپل لوستونکي سره د کلي او کاله په ژبه وغږیږي. زه فکر کوم د دې کار سبب هم د سحرصاحب د شخصیت هغه اصیلتوب دی، چې له ماشومتوبه د پردي مصنوعیت په ځای خپل چاپیریال متاثر کړی او بیا یې د یوه اغیزمن هنرمند په توګه په خپلو لیکنو کې د خپلې ټولنې د نن انځور توږلی دی. استاد شپون د پښتو لنډیو په هکله په یوه لیکنه کې وایي،چې لنډۍ د پښتنو اصیل هنردی. استاد وایي د لنډۍ جوړښت هم پخپله د یوه پښتون او یا پښتنې د رواني حالت په څېر ساده او له پیچلتیاوو خلاص وي. د غه اصل ته ورته د سحر صاحب شعر او نثر هم د استاد غضنفر په خبره له مصنوعیته پاک دي. سحرصاحب له خپلې ټولنې اخېستنه کوي په خپل ذهن کې یې په خپل انداز شني او په خپله ژبه یې خپلو خلکو ته وایي.سحر صاحب لفاظي نه کوي،مفهوم رسوي او په بریالیتوب سره نورو ته د خپلې خبرې د رسولو راز یې همدغه دی.

زموږ د وګړو په هکله نړیوال حیران دي،ډېر بهرني روڼ اندي د نړدې نه دافغانانو له لیدو ورسته د افغانستان او افغانانو په اړه په خپل تصور له سره غور کوي، د سحر صاحب ډېری لیکنې او په ځانګړې توګه داستاني اثار یې د ده د شخصي تجربو په اډانه اوبدل شوي دي،ځکه کټ مټ افغاني طبیعت ته ورته پېښې او کړه وړه پکې تر سترګو کیږي. په جګړه کې ټوکې ټکالي کول،د سر په بیه د جانان دیدن کول او په تشه خیټه،لوڅو پښو اتڼونه کول هم د افغانانو ځانګړنه ده، چې د سحرصاحب په اثارو کې یې وینو،د نړیوال ادب کره کتونکي په یوه خوله هغه ادبي اثار معیاري بولي،چې

ليکوال پکې د خپل چاپيريا ل روڼ تصوير وړاندې کړی وي. سحر صيب په خپلو ليکنو کې همدغه کار کړی،ما چې د ده ځومره ليکنې ولوستې د خپل چاپيريال د نن تصوير مې پکې وليد. سحر صاحب په خپل شعر او نثر دواړو کې راباندې يوازې خوبونه هم نه ويني،بلکې خپل حال ته مې متوجه کوي.

د يوه ليکوال په اثارو باندې له کره کتنې وړاندې د هغه د خپل شخصيت په اړه معلومات نه تر لاسه کول سړی يوې اړخيزې پرېکړې ته اړباسي. په دې معنا ،چې که موږ د ليکوال له مکان او زمان سره نابلد يو،نو ممکن هغه منطق هم ونه پيژنو، چې ليکوال يې په مټ خپله خبره موږ ته کوي.د سحر صاحب په هکله د معلوماتو راغونډولو په بهير کې د ده له شخصي اړيکو،د ده په اړه د نورو له څرګندونو او د ده له ليکنو په ډېر شدت هغه څه مخ ته راځي،چې دا ثابتوي،سحر صاحب که څه هم د خپلو نورو وطنوالو په څېرپه خپله په داسې مکان او زمان کې ژوند کړی،چې مينه پکې د مرغۍ د پيوغوندې نايابه ده،خو په خپله يې د منفي فکر د پاللو په ځای تل مينه وېشلې ده.

سحرصيب زما محسن دی،له ښه صحت او لا ډېرو برياوو سره ورته اوږدو عمر غواړم.د افغانستان د قلم ټولنې له مشرتابه نه او په ځانګړې توګه له استاد صلاحي نه يوه نړۍ مننه،چې تل يې زموږ مخور ستايلي دي. د پښتو فرهنګ او فرهنګپالو د ښې سبا په هيله.

**يادونه: دا مقاله د علم ګل سحر د ادبي خدمتونو په نمانځ غونډه کې ولوستل شو.**

**نورمحمد سعيد**

د افغانستان نامتو لیکوال، څېړونکی او شاعر عبدالله بختانی خدمتګار



## د علم ګل سحر ژورنالستيک کارونه

د علامه حبيبي،علامه رشاد بابا او ګڼو نورو مشرانو او زلمکيو افغان ليکوالو په څېرعلم ګل سحرهم پر يو وخت ادب او ژورناليزم دواړه پاللي دي،څکه د ليکنو، څېړنو،شعرونو،نظمونو،طنزونو، داستانونو او ناول ترڅنګ يې( ۲۲ ) کاله له چاپي او غږيزو رسنيو سره د مرستيال، مسوول، ليکوال، پروډيسراو ايډيټر په توګه کار کړی دی.

ښاغلي سحر لوستي ادبيات دي خو په ژورناليزم پورې يې هم زړه تړلی دی، څکه په ۱۳۶۸لمريز کال د عسکري ترخيص تراخيستلو وروسته په مخابراتو، ټولګټو چارو،اوبو او برېښنا په وزارتونو کې يې د رياست تر کچې ګڼ کاري فرصتونه لرل،خو نوموړي له ژورناليزم سره د بې کچې مينې له مخې په يادو وزارتونو کې د رياست پرځای له ورځپاڼو او مجلو سره د ژورنالستيك كار په لټه کې شو. خپله دغه خوښه او هڅه يې له ښاغلي محمد نبي صلاحي سره شريکه کړه. نوموړي ورته په عرفان مجله کې د کار موندنې ډاډ ورکړ.هغه مهال دعرفان مجلې مسوول مدير ښاغلي محمد قاسم هيله من و.

سحر وايي،د ښاغلي هيله من په لومړی پلا ليدو مې زړه ته ونه لوېده چې له دغې مجلې سره د كار كولو بخت به مې په برخه شي. داسې راته واېسېده لکه په عرفان مجله کې يې چې زما ګومارلو او کار كولو ته خوښه نه وي،خو ماسپښين يې چې بيا وغوښتم،نو تر يوڅه پوښتنو وروسته يې د مجلې مهتمم وټاکلم.

عرفان مياشتنۍ مجله وه،له (۱۲۰) څخه تر(۱۵۰) پورې مخونه يې لرل، تيراژ يې هم د (۷۰۰۰) په خواوشا کې و چې په ښوونځيو او ولايتونو کې وړيا وېشل کېدله. د مجلې دفتر د پوهنې وزارت په دويم پوړکې و،د شپږ و کارکوونکو څخه يې دوه نارينه او پاتې څلور مېرمنې وې.

ښاغلي سحر به د مجلې د چاپ چارو د سنبالولو ترڅنګ له ښوونځيو څخه يو نيم راپور هم راوړل،خو د راپورونو او مركو لپاره يې يوازې قلم څو سپينې پاڼې يا يوه سل مخيزه كتابچه لرله او بس. كه به د كامرې اړتيا وه،نو له بلې ادارې به يې امانت اخيستله. د اوسنيو ژورناليستانو په څېرې يې هومره پرېمانه او پرمختللي وسايل يې نه لرل.

د وسايلو او اسانتياو كموالی او نشتوالی هغه ستونزې وې چې تل يې له امله په كارونو كې د خنډ او ځنډ پېښېدو انديښنه وه،خو د دې باوجود هم ښاغلی سحر له كاري چاپيريال او په ځانګړې توګه له ښاغلي هيله من سره په كار كولو خوښ و. نوموړی وايي "سره له دې چې وسايل او اسانتياوې لږې وې،خو د كار كولو انګېزه او علاقمندي زياته وه. ځكه د اوس په څېرمعاش نه،بلكې وطن ته كار كول لومړيتوب درلود.هېوادنۍ مينه او ملي ګټو ته ژمنتيا له اوس څخه په كراتو زياته وه. ښايي همدا لامل به و چې كرۍ ورځ به تر ناوخته په دفتراو كتابتون كې بوخت وم، خو ستړيا مې نه احساسوله.مګر اوس داسې نه ده،اوس زه هم د نوروغوندې معاش ته ارزښت وركوم ځكه وېرېږم چې د ځينو په څېر د بډو او اختلاس له لارې د ژوند د اړتياوو د پوره كولو په لټه كې نه شم."

ښاغلی سحر دوه مياشتې وروسته د پوهنې وزارت د يوې بلې ياني سواد مجلې مرستيال شو.خو له عرفان سره يې هم مرسته كوله او لنډ وخت وروسته د عرفان مجلې مرستيال شو. ليكنې،مركې،راپورونه، چاپ چارې لنډه دا د مجلې ټول كارونه ښاغلي سحر په خپله سنبالول. ځكه ښځينه همكارانې يې په نورو اداري كارونو ډېرې بوختې وې. ښاغلی سحر وايي: يوازې د غلام حضرت روغمن له نوم مه واره چې غلام حضرت روغن چاپ شوی وو،بله كومه لويه تېروتنه يې ونه كړه. ځكه وايي چې: "هغه وخت مې ډير په دقت كار كاوه، ټوله مجله مې څو څو ځله لوستله او بيا به مې چاپ ته استوله په چاپخونه كې به ولاړ وم او مجله به مې اصلاح كوله."

ښاغلی سحر وايي: د ۱۳۶۹لمریز كال د غبرګولي دریمه یانې د ښوونكي ورځې ته ایله دوه ورځې پاتې وې چې د پوهنې وزیرې اغلې معصومې عصمتي وردك ور وغوښتم او ویل یې چې: "د ښوونكي د ورځې د نمانځنې په مراسمو كې ولسمشر ډاكټر نجیب الله هم ګډون كوي،نو په دې مناسبت باید د عرفان مجلې فوق العاده ګڼه په ښه كیفیت چاپ شي. " ما ویل په دوه ورځو كې ناممكنه ده،خو هغې یې په حتمي چاپ ټینګار وكړ. بله چاره نه وه،شپه ورځ مې كار وكر،مجله مې تیاره كړه او كله مې چې د وزیرې پرمیز كېښوده،نو له ډېرې خوښۍ یې د مهربانه مورپه څېر ناز او مینه راكړه.

ښاغلي سحر په ۱۳۷۵لمریز كال له عرفان مجلې څخه د كورنیو چارو وزارت ته لاړ او درې كاله وروسته له هغه ځایه بي بي سي راډیو ته ورغی،ځكه مجله نوره نه چاپیدله هسې په نامه د مجلې دفتر وو. ښاغلی سحر له بي بي سي سره د نوي كور نوي ژوند ډرامې لیكوال وو. بي بي سي یې ځكه غنیمت ګڼله چې د امكاناتو ترڅنګ د ملګرو دیدن او بنډار هم پرېمانه وو،ځكه ډېری لیكوال او شاعران ملګری هم هلته راټول ول.

ښاغلی سحر د خپلې كاري تجربې له مخې تر راډیویي خپرونو د چاپي رسنیو كار سخت بولي،د ده په وینا په چاپي رسنیو كې په دې زیات دقت پكاردی،چې هلته هر څه په لیكلې بڼه پاتې كېږي او هر څوك هر وخت پرې قضاوت كوي،خو په راډیو كې داسې نه ده هر څه د هوا په څپو له سترګو پنا او تېرېږي؛خو د دې باوجود هم راډیو خپلې ستونزې لري،ځكه لكه د ژرندې هر وخت باید یو ژرندګړی ورته ناست وي او دانه پرې زیاته او كمه كړي،یانې تل او مسوولانه كار غواړي.خو په خپله سحر له راډیو سره د ژرنده ګړي په څېر ستړیا ځكه نه ده ګاللې چې نوموړی تل له تعلیمي،ټولنیزو او فرهنګی خپروونو سره پاتې شوی دی او. دغه خپرونې د خبري او سیاسي خپرونو په څېر ډېره ستړیا ،زړه چاودونه او منډې ترړې نه غواړي.

په هېواد كې د وروستیو بدلونونو پرمهال علم ګل سحر له بي بي سي راډیو څخه ازادي راډیو ته ولاړ،ځكه ازادي راډیو چې تازه یې خپرونې پیل

کړې وې په پلازمېنه کې وه. او بي بي سي په پېښورکې.د کابل او پېښور د اوږدې، کنډ وکپر او سترې کوونکې لارې له امله ښاغلی سحر له بي بي سي څخه په ازادی راډيو کې د کار کولو په موخه مخه ښه واخيسته.

په ازادي راديو کې يې د "ژوند په شيبو کې" خپرونې د ليکلو، چمتو کولو او وړاندې کولو ترڅنګ ننداړتون خپرونه هم ايډيت او وړاندې کوله. نوموړی وايي د مينې په اړه د پروګرامونو لړی يې چې نږدې دوه مياشتې پرله پسې خپرېدله ډېره هنګامه جوړه کړه اوګڼو اورېدونکو يې د بيا بيا خپرېدو غوښتنه کوله.

ښاغلي سحر ازادی راډيو د ولسمشری ماڼی په مخه پرېښوده او لاتر دې مهاله هلته د عامه اړيکو او مکاتباتو د مسوول په توګه دنده لري،خو په عين وخت کې د لمر تلويزيون د خبرونو او خپرونو متنونه هم سموي.نوموړی د خبري متن په اساني،د کليمو په سپما ، د جملو په لنډيز،تړاو،او د سوچه والي پرځای د ژبې په اسانی او څرګنتيا ټينګار کوي.

ښاغلی سحرادب او ژورناليزم نږدې او يو د بل بشپړونکي ګڼي او وايي،چې ژورناليزم يې ادبي هلوځلو سره مرسته کړې،ځکه مواد او سوژې يې ورکړي دي. د ټولنې د هوساينې،سمون او بدلون لپاره هم د دواړو په ارزښت باور لري، د ده په وينا په ادب کې تخيل، تشبيه او سمبولونو او په ژورناليزم کې د پيغامونو اسانه او نېغ لېږد ته پام کېږي،ياني ادب په اوږدو او ژورناليزم په لنډو لارو مزل دی،ځکه نو تر ژورناليزم د ادب اغېز ځنډنی دی،د وګړو د خويونو،فکرونو او کړو وړو په بدلون کې هم ادب او ژورناليزم دواړه ارزښتناك بولي،په ځانګړي ډول ژورناليزم ورته د نېغ اغېز او ادب ورته په ټولنه کې د مثبت فکر د ايجاد له پلوه ګټور ا يسي.

ښاغلی سحر افغاني ژورناليزم له نړيوال ژورناليزم سره د پرتلنې وړنه بولي، خو وايي،که کار او پام ورته وشي،نو پرمختللی او ښه کېدلا شی.کار،مطالعه،زغم او منظم پلان لرل د ژورناليستانو د بري راز ګڼي. تازه

كارو ژورنالیستانو ته د دقت، پلان لرلو، مطالعې، زغم، زړورتیا ، ناپېیلتوب او ژمنتیا سپارښتنه کوي او وايي، چې په لنډ مهالي شهرت او ستاینو دې نه نازېږي، ځکه د نورو پرمختګونو مخه یې ډب کوي.

سپېڅلی، موسکا ،پکتیاوال، سمون او ځینې نور د ښاغلی علم ګل سحرهغه مستعار نومونه دي چې چاپي رسنیو او ویب پاڼو ته پرې د ټولنیزو، سیاسي او ګڼو نورو موضوعاتو او ناخوالو په هکله لیکنې کوي.

امیرجان وحید احمدزی



## مېرمن بهیر ته د سحر صیب ادبي خدمتونه

وايې د انسان ژوند د یوې ونې په شان وي؛لکه څنګه چې په ونو کې توپیر شته همداسې د انسانانو د ژوند کولو طریقې هم یو له بله فرق لري.ځینې ونې نه یواځې دا چې بې ثمره وي ورسره دومره کمزورې وي چې سیوری هم نه لري، ځینې نورې که ثمر نه لري خو په سره غرمه کې د اوږدې لارې یو ستړی مسافر یې سیوري ته یوه شیبه دمه کولی شي خو د ځینو نورو ونو د سخاوت لمن بیا دومره پراخه وي چې هم یې سیوری او هم یې ثمر خلکوته رسیږي؛حقیقي ژوند هم همداسې وي چې د انسان ګټه نورو ته ورسیږي، د نورو په خوښۍ کې خپله خوښي ولټوي او د نورو پر مختګ خپل پرمختګ وګڼي؛ چې ښاغلی علم ګل سحر یې یوه روښانه بیلګه ده.

زه نه غواړم چې د دې مقالې په ترځ کې د سحر صیب پر آثارو خبرې وکړم یا دا ووایم چې د سحر صیب شعر څنګه دی،کیسې یې کوم رنګ لري یا دا چې داستانونه یې کومې ځانګړتیاوې لري،بلکې زه نن غواړم د سحر صیب ادبي خدمتونو په اړه خبرې وکړم په ځانګړی ډول هغه خدمتونه چې سحرصیب د دې درې کلونو په ترځ کې مېرمن بهېر ته کړي دي.

زه په دې باور یم چې که یو لیکوال او شاعر یو اثر لیکي او چاپوي یې نو د دې کارنیمه ګټه که خلکو او ژبې ته رسیږي خو پنځوس فیصده ګټه یې پخپله لیکول ته رسیږي ځکه؛ کتاب یې چاپیږي،ورسره شهرت پیدا کوي او نوم یې په ټولنه کې مطرح کیږي خو که یو څوك خپل قیمتی وخت نورو ته په خدمت او د نورو په روزنه کې تیروي،خپل شهرت پرځای د نورو د پرمختګ لپاره کار کوي او دا هر څه بې له کومې شخصي ګټې او امتیازڅخه یې کوي دا نو هغه څه دی چې یادونه یې باید وشي او ستاینه یې باید وشي.

تاسو ټولو ته مالومه ده چې سحرصیب له شروع نه تر اوسه پورې مېرمن بهیر ته ډېر کار کړی دی.د اونیزو غونډو تنظیمولو نه رانیولې بیا د لویو غونډو د جوړولو په برخه کې خویندو سره د دوی فعال او پراخ ګډون د

یادونې ورې دی. د کتابونو د چاپ په برخه کې دوی همیشه همکاري کړې ده.افغان ادبی بهیر او میرمن بهیر ترمنځ د اړیکو په جوړولو کې د سحر صیب ونډه خپل ځای لري همدا راز خویندو ته د ورکشاپونو او ټرنینګونو په جوړولو کې د سحرصیب هڅې د ستاینې وړدي.

د یوه مجرب لیکوال او شاعر په توګه خویندو ته د دوی نظریات، لارښونې او وړاندیزونه خورا ارزښتناك تمام شوي دي ،البته نه یوازې د غونډو په ترځ کې بلکې داسې غونډه به نه وي چې سحرصیب دې په غونډه کې تشریف و نه لري او په پای کې دې کومه خور خپل کوم شعر یا کیسه سحرصیب ته د اصلاح لپاره ورنه کړي؛خو کله هم داسې نه دي شوي چې سحرصیب دی هغه رد کړي وي او ویلی یې وي چې وخت ورته نه لري؛ داسې حال کې چې مونږ او تاسې پوهېږو چې نن سبا بیکاري نه شته او هر سړي بلا بوختیاوې لري خو د دې ټولو مصروفیتونو سره سره بیا هم سحرصیب ولې دا هرڅه په ورین تندي مني؟ دا ځکه چې هغوی یو احساس لري د پښتو په مقابل کې او د پښتنو په مقابل کې او ورسره خلکو ته د خدمت کولو پیاوړې اراده لري.

که څه هم اوس مهال دا خبرې ډېره شعاري شوي او نن سبا ډیری داسې کسان شته چې پښتو او پښتونو ته د خدمت کولو ټټر وهي،او له ځان نه یې د چاخبره د پښتو مدافع وکیلان جوړکړي؛خو که چېرې یې عمل ته وګورو نو له وینا سره یې ډیر توپیر لري او ښکاري چې وینا یې د کومې ګټې یا کوم بل هدف لپاره ده.

تاسو ته پته ده چې میرمن بهیر ځینې وخت د ځینو پزنتیشنونو لپاره ځینو لیکوالو او شاعرانو ته بلنه ورکوي؛ ترڅو د یوې مشخصې موضوع په اړه خویندو ته مالومات ورکړي ځکه؛ زمونږ ډیری پښتنې خویندې نوې دې بهیر سره ملګرې شوي او ډیرې روزنې ته اړتیا لري؛په زړه پورې خبره خو دا ده چې ځینې ورونه د ځوځو ځلې بلنې وروسته دېته حاضرېږي ترڅو د میرمن بهیرغونډې ته راشي او خپل مالومات خویندو سره شریك کړي او ډیری

وخت د غونډې په پای کې دا ورونه ګیله من ښکاري؛څوك وایې کسان کم راغلي وو،څوك وایې ماته یې د خبرو لپاره وخت کم راکړ،څوك وایې د غونډې په ترخ کې ځینې خویندې له تالار نه ووتلې او په دې توګه دا ښیې چې مېرمن بهیر ته په ورتګ سره د دوی په اند دوه یا درې ساعته وخت یې ضایع شو ی دی ....

زه شخصا هغه څوك یم چې له لومړۍ ورځې نه مېرمن بهیر سره یم، زه د بهیر په لومړیو وختونو کې؛په استقلال لیسه کې د داسې غونډو شاهده یم چې په غونډه کې به درې کسان حاضر وو او په هغو کې به یوکس سحرصیب وو؛خو تر نن ورځ پورې یې کله هم کوم شکایت نه دی کړی؛ اوس تاسو پخپله فکر وکړئ یو کس مېرمن بهیر سره د خپلې دوه یا درې ساعتونو همکارۍ حساب کوی او بل خپل ساعتونه ساعتونه وخت په خدمت او همکارۍ کې تیروی بې له کوم حسابه او بې له کوم احسانه.

دا چې مېرمن بهیر نوی رامنځته شوی و، نو داسې یو چاته ضرورت و ترڅو د ورورنو بهیر یعنی افغان ادبي بهیرتجربې له نوي جوړشوي مېرمن بهیرسره شریکې کړي.خو په دغه برخه کې سحرصیب میرمن بهیر سره کوم قرارداد نه و لاسلیك کړی چې یوائې دوی به دا دروند مسولیت په غاړه اخلی او دا هرڅه به سمبالوي بلکې دا د هر بهیر وال دنده وه چې په دغه برخه کې مېرمن بهیر سره مرسته وکړي او هغومره په صداقت یې وکړي لکه سحر صیب چې وکړه او کوي یې؛هغه هم زموږ په ټولنه کې ځکه؛ اخلاقي ضعف هغه ناروغي ده چې له بده مرغه زموږ د ټولنې ډېری وګړي په دې ناروغۍ اخته دی؛دلته چې کار کوې نو خبرې به هم درپسې کېږي ځکه؛ هغه کسان چې نورو ته د خدمت کولو جوګه نه دي، نورو سره د مرستې کولو زړه نه لري او بې له خپلو شخصي ګټو د بل شي په اړه فکر نه کوي؛هغوی بیا نور خلك هم نه شي لیدی چې دا کار وکړي نو ځکه؛ ورپسې خبرې کوي؛بې مسولیته خبرې خو ډېرې اسانه دی؛ اوس نو که یو څوك کار کوي،زحمت باسي،خپل وخت نورو ته ورکوي او دا هرڅه بې له کومې غوښتنې او امتیاز څخه یې

کوي دا نو هغه رسالت دی چې هرڅوك يې نه شي پوره کولی؛ يوازې ځينې خاص خلك يې د پوره کولو وړتيا لري.

که سبا ورځ د مېرمن بهير نوم د ادبياتو په تاريخ کې ثبتيږي نو د سحرصيب نوم به يې د ملاتړ کوونکو په سر کې وي.

اخير کې په داسې حال کې چې د مېرمن کلتوري ټولنيز بهير په استازيتوب د سحرصيب له مرستو او تلپاتو همکاريونه مننه کوم؛خپلې خبرې په دې ښوجملو ختموم هغه دا چې؛سحرصيب چې خپل ښومره وخت د مېرمن بهير لپاره تېرکړی؛ که په همدې فرصت کې يې کوم ناول ليکلی وای نو نن ورځ به د عبيدالله محك "زمرده" ناول د پښتو ژبې ترټولو اوږد ناول نه بلکې د علم ګل سحرهغه ناول به د پښتو تر ټولو اوږد ناول وای.

د سحر صيب د لابرياوو په هيله.

طوبی ندا ساپی



## د سحرپه قاموس کې انتقام او کرکه نشته

سحر چې څنګه تاسو په شعرونو کې ګوری،همدغسې په شخصي ژوند کې هم یو بې ازاره مهربانه او نیك زړی انسان دی. یا په بله وینا زما یوله هغو یارانو څخه دی،چی ظاهراو باطن یې یو او پاك پښتون دی.

څه لیکي او یا څه وایي له زړه یې وایي ریا او تظاهرنه کوي اوکه یې نه منی نود ده دا لاندینی شعرولولی :

له زړه مي تـــولـــې کرکې وایستلې

اوس مې له ښکار ځنې توبه کړې ده

اوس له کاریز نه بغدادي کوترې نه کتهوم

او بـــس تمامه ورځ لګیا یـــــم

په دامـــــونـــو کـــي مرۍ پیّیمه

سپینو کوترو ته پایزیب جــــوړوم

اوس د بې مــــوره وري له اوښکونه

شراب جوړوم

او په سخت زړو یې ارزانه پلــــورم

چې یې له زړونو کینې کډه وکړي

له زړه مي تولې کـــرکی وایستلې

اوس مساپر په کـــــانو نه ولمه

اوس ګـــــــــلان نه شکوم

له لارو نه اغزي ټـــــولـــوم

په لاره تلونکی ماشوم ښکل کړم

د سپین ږیري بوډا لاس ونیسم

له زړه مي ټولې کرکې وایستلې

اوس له دښمن نه کسات نه اخلمه

اوس دغومبسو کور په ختهه باندې

نه پټوم

په مار د کاڼي ګوزار وکړم

خو خطا يې ولم

بس هسي ځان ترې ژغورم

هغه هم هسي« درحمان» د یارانې په خاطر

اوس له خوبونو مرور یم

ټوله شپه په تلاوت تېروم

او د قرآن زرینو پاڼو کي

يو نوم لټوم

له زړه مې ټولې کرکې وایستلې

اوس مي ټوپك پراوړه نشته

او له میل نه یې شپېلۍ جوړه ده

په کي د میني ترانې غږوم

دا ټول دا ستا لپاره

ځکه دوی وایې

په جنت کي حوري ستا غوندې دي

د ګران سحر دغه شعرد کره کتونکو په ترازو تلل شوی شهکار دی. زه خو وایم چې تراوسه په پښتو شاعري کې ډیرو لږو شاعرانو به دغسې موزون غږ او سوزمن ویر اوبدلې اوبللی وي.

سحر ساده،روان خو رنګین شعرلیکي ښآیي د ده دښه شعرلیکلویو راز دغه وي چې یو خو یې زړه مینه وړی اوحساس دی،او بل یې په قلم کی پیاوړتیا ډیره پرته ده،کله چې د ده احساسات او قلم دواړه ملګري شی نو یوه ښکلی شاعرانه تابلو ترې وپنځیږي.وي داسې خلك چی د دنیا اوحسن په باب به ډیرنازنین تصویرونه ورسره وي،خو د قلم د کمزورۍ په وجه به یې نه سي انځورولی.خو له ده سره دا هنر شته چی څنګه له تورو او کلماتو څخه ګلونه جوړکړي،او خپل مقابل لوری یوڅو شېبې له ځان سره شاعرکړی. ښاغلی سحرپه هغه شعرکې چې ګران استاد غضنفر ته یې لیکلي داسي وایې :

پرون واخست لاس کې لمر، یوه سړي

کړ تقسیم یې برابر،یوه ســــــــړي

لپې لپې یې ویشه په تــولـــــو باندې

و تم کړی سمندر،یوه ســــــــړي

پاچا نه و،یوملنګ غوندې ســـړی و

د انصاف تاج و پرسر ،یوه ســــــړي
په بشر باندې مین و لــــوی انسان و
نه یې غوښت د چا ضرر یوه سړي
په جنت کې یې کتاب مخې ته پروت و
یا دا وه په کې بشر یوه سړي
په سپوږمۍ کې یې ستا حسن راته وښود
څومره تېزدرلود نظـــر ،یوه سړی
له سندرو نه پردی و ،خو مین و
په کتاب بدل کړل زر یوه سړي
ښکلا ،مینه پیداشوې له ښه خویه
داسې ووې په منبر یوه سړي

یا مو وخت په کار تېرېږي یا په مینه
موږ ته وښود دا هنر یوه سړي
ترووږمۍ کې یې تیندك وخوړ، ونه لوېد
تر لاس ونیو ژر سحر ،یوه سړي

نو د سحر له دې شعرڅخه معلومیږي چې د ده د شعرپه دنیا باندې د استاد غضنفرد قامت د سیوری برکت دی.چې د مینی اوحسن په تعریف کی ورسره مرسته کړې ده.

سحرنه یوازې په ازاد فورم کې بلکې د غزل په فورم کې هم ډیره ښکلې شاعري کوي که څه هم د غزل په فورم کې شاعري یوڅه ګرانه ده ځکه د نورو شاعرانو له خوا د قافیو مکرارتکرار د دې سبب کیږي چی نوی شاعرهم د هغوی له موضوع ګانو سره شریك تصویر را خپل کړی،خو سحربیا هم توانیدلی چې ځان له نورو بیل کړي،او په غزل کې هم ځانته خپلې خبرې اوخپل انځورونه ولري.خو که  له موضوع لیرې لاړنه سو زه بیرته خپلی مخکینۍ خبرې ته راګرځم،هغه دا چې هرهغه ځوك چې له خپلوعینکو دنیا ته وګوري او یا په خپلې معشوقې پسې په خپلوسترګو وژاړی خامخابه یې غږ اوویرنوی وي.که چیري د نورو په سترګو وژاړو اوهغه څه چې نور وکړی موږ یې هم راواخلو بیا نوکله هم د ځانته د لارې درلودو خبره نه شو کولی.

خدایه چې غواړم یې،هغه راځنې لیرې ګرځي

ټول رانژدې دي،خو یوه راځنې لیرې ګرځي

که ګلاب نه یمه، د پوندې اغزی هم نه یمه

حیران په دې یم چې وږمه راځنې لیرې ګرځي

زه د خپل ځان پرخوا روان یم،رسېدلی نه یم

په دې سفر کې مې سایه راځنې لیرې ګرځي

زما په زړه خو هسې هم بله لمبه د مینی

په کار مې نه ده ،که ډیوه راځنې لیرې ګرځي

ارمان مې ستا له اننګو په ژړا ته، ویل یې

کاښی درود یم ،آئینه راځنې لیرې ګرځي

**درښا څړیکه**

تیاروکې څړیـــــکه د رڼا وه،ماوې ته یې هغه

سپوږمۍ کې پاتې څه ځلاوه ،ما وې ته یې هغه

پوه نه شومه دوی وې ملایکه راغله، بېرته ولاړه

باران و،تالنده،برېښـــــنا وه،ماوې ته یې هغه

راته موسکۍ وه او زمـــا په زړه یې لاس ایښی و

دزړه مې بل رنګه درزا وه ،ما وې ته یې هـــغه

جنت ته راغلم،حوري ټولې وې حــــیرانې راته

ترغوږ مې ستا غوندې خندا وه ،ما وې تـه یې هغه

زه وم څـــــــبره مې وه،خو لیرې تښتیدله رانه

زمـا له تن څخه جـــــلا وه،ما وې ته یې هغه

د سحرصاحب دغه شان ښکلي غزلونه چی کله لولم نو وایم کاشکې حمزه بابا ژوندی وای چی ورته ویلي می وای، بابا مبارك دې شه ستا په شان یو بل ملنګ هم را پیدا شو چې غواړي د غزل حق ادا کړی.

علم ګل سحر د شاعري ترڅنګ لنډې کیسې،طنزونه او داستانونه هم لیکي چی ماشاالله په دې لارې کې هم بریالی دی.او امید شته چې په لنډوخت

کی به د هغوتللیو ځایونه چې تراوسه تش دي بیرته ډك کړی. پای کی ګران سحرته د خپل غزل د یوه بیت په ډالۍ کولو سره خپلې خبرې لنډوم.

مـــدام په خپلوسترګـــو ژاړه

تاسره خپلې اوښکې ښې ښکاري

نورمحمد لاهو



## د استاد علم ګل سحر اند او فکر

پښتنانه د تاریخ په رڼا کې ډېرو تاړاکونو ځپلي دي او ډېر ځلې يې ډېرتاريخي، ادبي،سياسي او فرهنګي شته له لاسه ورکړي دي،چې ډېر ځلې يې د تاريخي شتو تر څنګ ډېرې ځېرې هم د زمانې تاړاك ځپلي دي خو زما په اند خدای تعالی ورته د بيټ نيکه دا دعا چې ويلي يې دي:

دا وګړي ډېرکړې خدايه

لويه خدايه خدای ورته په ريښتونې توګه قبلوې شوې او خدای تعالی د بيټ نيکه دا غږ اوريدلی دی او تل يې د زمانې په هر پړاو کې په دوی کې داسې ځيرې را پيدا کړي دي چې د دوی ډېر له لاسه تللي مادي او معنوي ارزښتونه يې بيرته را خوندي کړي دي چا ورته د احمدشاه بابا او ميرويس نيکه په ځير تورې وهلي او ځينو خو يې ورته د ستر خوشال خټک بابا په ځيرتوره او قلم دواړه چلولي دي. خدای تعالی ورته داسې ځيرې ورکړې چې ډېر يې له ناسمو راسمې ته او له کږو سيخو لارو ته را بللي دي، تل د نورو لخوا ورته کوهي کيندل شوي دي خو د داسې کسانو لوړفکر او حوصلې دا هرڅه د خپل کړيدلي اولس لپاره زغملي دي او هڅې يې همداسې پسې جاري ساتلي دي.د دې لپاره چې خبره را څخه اوږده نه شي موضوع ته به راشم. زه چې ځان د ليك او لوست په دنيا تر اوسه يوازې لوستی بولم يانې په دې مانا چې يو څه لوستی شم او د ليك لوست نړۍ ته راغلی يم تردې وړاندې مې د يو چا نوم اوريدلی چې علم ګل سحر يې باله. ما ډېر ارمان کوی چې که خدای مې دا ارمان پوره کړي او په قدرمن استاد مې سترګې ولګيږي، شپې ورځې ښې ډېرې تيرې شوې او زما دا ارمان خدای پوره کړ او د دې وياړ مې په برخه شو چې ښاغلی استاد ووينم. زه د استاد د علميت په اړه ځان ته د دې اجازه نه ورکوم چې څه پرې ووايم خو يوازې د ده شخصيت په اړه درته هغه څه وايم چې ما پکې ليدلي دي:

استاد سحر تل د ځان نه بلکه د ډیرو په اړه فکر کړی دی او ډیرو ته یې داسې مشوره ورکړې لکه څنګه یې سړی باید ځان ته ور کړي،د هیواد د ځوریدلي پښتون قوم په دردونو تر نورو ښه پوهیږي او ډیرسیاسي بهیرونه یې له سره تېر کړي دي او په هرسیاسي بهیر کې په هیواد کې پاتې شوی دی او په هیواد کې یې د هیواد والو خدمت کړی دی.استاد سحر یو لیکوال دی چې ډیرې لنډې کیسې،علمي څیړنیزې مقالې، طنزونه، ژباړې،سیاسي مقالې.... یې لیکلي دي،استاد سحر شاعر دی خو داسې شاعر چې شعر یې تل له کلیوالو انځورنو،سیمه ایزو خوندونو، دردنونو او ښکلاوو څخه ډك دی،په شعر کې یې د دې ښکلاوو ترڅنګ ډیری تاریخي پیښې هم خوندې شوي دي او د خپل قوم لپاره پکې ځینې وړاندوینې هم شوي دي،استاد یو ښه مشردی خو داسې مشر نه دی چې "ما زر ما ټول یې زما" کله یې چې وس شوی د خولې مړی یې هم له خپل ځوریدلي قوم سره نیمه کړې تل د پښتون په درد درمن شوی او په خوښیې خوشال شوی دی .استاد لیکوال داسې خو داسې لیکوال چې په هره لیکنه کې یې د لیکوال او لوستونکي دواړو د زړه درد موندل کیږي. استاد د دومره لویې حوصلې څیښتن دی چې د ده دې حوصلې ډیرو نورو ته هم حوصله ورکړې،استاد تل غواړي له خپل اولس سره نیژدې پاتې شي د دوی د ستونزو په برخه کې هڅه وکړي او څه یې چې وس وي هغه ورته تر سره کړي. استاد د څوکۍ شوقي نه دی هغه څه کوي چې د قوم خیر یې پکې وي داسې نه کوي چې د قوم په ګټو کې خپلې ګټې ولټوي ده د ځوریدلي اولس لپاره ډیر کړاوونه په سر ګاللي دي او د دې ځوریدلي قوم لپاره یې ډیرې دروازې ټکولي دي او ډیر یې تر خپلې پراخې لمنې لاندې د هدایت په نیت پټ کړي دي تل یې په لیکنه او شعر یانې نظم او نثر کې پیغام جوت دی په خبرو ډیر شخوند نه وهي لکه څنګه یې چې شخصیت دی همداسې یې لیکنه هم ده. استاد قوم ژبې او اولس ته د خدمت په موخه ډیر لوړ لوړ مقامونه تر خپلې دې شته ملنګي پورته نه دي بللي. استاد د خلکو لاربنود دی او د خلکو په منځ کې پاتې شوی دی او لا هم د خلکو په منځ کې داسې ژوند کوي چې د ده دې کړنو ډیر تر خپل ژور اغیز لاندې را وستي دي.

که د استاد منظوم او منثور اثار په غور سره وګورئ ډیرو نا ویلو او نا لوستو شیانو ته به مو پام شي او تاسو به پکې داسې څه وموميئ چې په ژوند کې به مو د تغیراتو توپان راشي.د انسان ذاتي جوړښت داسې وي کله چې یو موقف ته رسیږي ځان ترې ورك شي او ډیر نه لیدل کیږي چې ښې بیلګې یې زموږ په ټولنه کې شته دي خو استاد علم ګل سحر په هر وخت کې په یو حال دی.ډیر څه نه وایي خو ډیر څه کوي. د دې لپاره چې خبرې را څخه اوږدې نه شي او کړې خبرې مې لوستونکو ته په یقین بدلې شي د استاد د کلام څو بیلګې دلته را اخلم او ډیرې لنډې خبرې پرې کوم:

## غزل

که بدرنګ مو په سرو وهي میخونه

خو دا ښکلي مو په زړو وهي میخونه

چې نه وګورو نه ښکلي چیرې یاد کړو

زموږ په سترګو او په خولو وهي میخونه

له نا دودو څخه کوم پلو ته لاړ شو

وخت زموږ په ارادو وهي میخونه

دراوازې د زندانونو یې پرانیستې

د مکتب پر دروازو وهي میخونه

ستا د ښکلي مخ تصویر چې پکې نه وي

دا تور زړي پر اوبو وهي میخونه

څه به پټه کړي رڼا زموږ له سترګو

د لمرونو په شغلو وهي میخونه

بس د مینې سخت سفر یې دی په مخکې

خوار سحر بیا په خپلو وهي میخونه

استاد دا غزل ما ډیر مخکې اوریدلی و او که هر څوك یې ولولي پکې د خپله زړه درد اوریدلی شي،چې په هر بیت کیدی شي بلا خبرې وشي او پکې ډیر دردونه وموندل شي د بیلګې په ډول استاد وایي:

که بدرنګ مو په سرو وهي میخونه

خو دا ښکلي مو په زړو وهي میخونه

دلته زما په اند که یو مین دا بیت ومومي او ویې لولي کیدی شي د خپلې مینې یو کټ مټ انکاس پکې و ویني خو ماته یې مانا بیا داسې ده چې چې دلته زما له بدرنګو څخه موخه کیدی شي پردي وي او له ښکلو څخه مې موخه خپل وي. کله اوسني حالاتو ته راشو ډیری هیواد وال په اوسنیو حالاتو کې له پردو ګیله کوي چې زما په اند د دوی دا ګیله له بدرنګو څخه ده،خو ځانونو او خپلو مشرانو ته لاس نه نیسي زموږ هیواد چې داسې یو حالت ته رسیدلی دی ډیری منقصر پکې زما په اند په خپله افغان مشران دي. همدارنګله پرسر له میخ ویلو څخه زما بله موخه هم مادي مرګ دی یانې کیدی شي یو څوك راڅخه موټر،کور او اولاد ټول واخلي خو له زړه څخه زما موخه بیا معنوي ژوند یانې علمیت دی،اوس ډیرې داسې کړې شته چې پر سر یانې مادي ژوند نه بلکه د پښتنو پرمعنوي ژوند باندې میخونه وهي او دوی له سیاست،علمیت،ادبي هلو ځلو له نورې نړۍ سره له اړیکو څخه ساتي.

چې نه وګورو نه ښکلي چیرې یاد کړو

زموږ په سترګو او په خولو وهي میخونه

واه دې کې څومره ښکلی قوي انځور دی دلته بیا هم زما په اند د پښتنو اوسنی ژوند ډیر ښه انځور شوی دی تاسو وګوری د پولې هې خواته یانې په کوزه پښتونخوا او د پولې دې خواته یانې په افغانستان او بره پښتونخوا کې د پښتنو پر وړاندې څه ډول دسیسې روانې دي. زه ډیر داسې کسان پیژنم چې د نورو قومونو او ژبو خلك دي اوس په ښو ښو دفترونو کې ژوند کوي او یا هم د نړۍ په ښو پوهنتونونو کې ژوند کوي خو پښتانه بس یوازې او یوازې جګړو او د یو بل د جنازواو چتولو ته پاتې دي او یوازې شپه ورځ تېروي دلته یوه لنډۍ را یاده شوه چې وایي:

دفتري کار ټول په دري دي

خواره پښتو یم تش جګړو ته مې ساتینه

همدارنګه د استاد په دې غزل کې دې بیت ته هم وګورئ:

له نادودو څخه کوم پلو ته لاړ شو

وخت زموږ په ارادو وهي میخونه

استاد په دې بیت کې د پښتون قوم د ژوند د څو زره کلن تاریخ یو داسې انځور وړاندې کړی دی چې له چنګیز څخه نیولې بیا تر مغوله،انګریزه، پروني روسي ښکیلاك او نني غربي ښکیلاك پورې پکې د پښتنو ژوند ډیر ښه انځور شوی دی د وخت ښکیلاك چې څومره پښتانه ځپلي دي دومره به هیڅ قوم نه وي ځپلی تل د وخت نادودو د پښتون قوم پر سر لوبې کړې که تیر دیرش کلن تیرشوي وخت ته ځیر شو تر ټولو ډیر ځپل شوي وژل شوي او ټپیان شوي به پښتانه وي خو هغه متل دی چې وایي "تورې دې لالا وهي مړۍ دې عبدالله" بس تل زموږ پرسر سودا شوې. د استاد په هر بیت که خبرې وشي په هر بیت یې زما په اند یوازې څو کربنې او څو مقالې نه شي خلاصه کیدي استاد نه یوازې یو نسل ته بلکله نسلونو او نه یوازې یو قرنه ته بلکه قرنونو

ته شاعري کړې او د ده شعرونه به د قرنونو په سینو کې خوندي وي او هر ځوك به يې د خپل وخت سره سم تفسيروي.

استاد سره چې لکه کله نه زما معرفت شوی دی نو تل مې ورته د زړه حال ويلی دی،ډير ځلې داسې شوي دي چې د استاد په ليدو مې ډك زړه ترډيره ډك پاتې دی.استاد يوې سيمې او يو ولايت ته نه بلکه لر او برپښتون ته ژمن سړی دی.چا چې زما په شان مخکې نه وي ليدلی او لومړی يې و ويني د ده له پاکې مينې او احساس څخه به سړی داسې درك وکړي چې په اوسني حال کې ماته ښه مرستيال، ښه ملګری، ښه لارښود او ان ښه معنوي پلار يوازې او يوازې استاد علم ګل سحر دی. په پای کې استاد ته د اوږد عمر غوښتونکی يم او په دې هيله چې پښتانه خپل دا ژوندي ماخذونه او ژوندي کتابتونو د دوی په ژوند ونازوي او د دوی په ژوند له دوی څخه ډيره ګټه واخلي او تل يې د عمر د اوږديدو دعا وکړي.

محمدالله ارين احمدزی




کــابل- څلورمه کارته

## ښاغلي سحرد طنز په ډګر کي

ښـاغلی علـم ګـل سـحر پـه ډېـرو هنـري ليکنـو کـي برلاسـی دی، لکـه شعر ،لنډه کيسه، ناول،طنز او داسي نور. زه د ده د ليکنو په نورو برخو کي د ښې څېړني صلاحيت نه لرم، بس يوازي به د ده د طنزونو او په طنز کي بـه هـم پر درو اړخونو ياني د طنز پر موضوعاتو، فورم او تخنيکونو يو څه ووايم.

د سحرصاحب اکثره طنزونه د فساد او جنګ جګړو د دورې انځور ګري ده، په تېره بيا "شيطان ځراغ" نومي طنزي ټولګه چي اکثره طنزونـه يـې د شر او فساد په دوره کي د کابل برخي تـه ځـانګړې سوې دي. څرنګه چي ښاغلی سحر هغه مهال په کابل کي اوسېده، نو دغه مقطع يې له نژدې او په ډېر دقت عکاسي کړې ده. سحر صاحب چي د فساد او جګړې عاملين په نښـه کـوي نـو دا يو داسي وخت دی چي د ملت ډېری خلك ژاړي،چيغي وهي او پرسر خاوري دوړوي،څرنګه چي له يوې خوا دا حالت څو کاله دوام پيدا کوي او له بلي خوا څوك دغو چيغو تـه پـام هـم نـه کـوي نـو دغـه حالـت د خلکـو د ژونـد يـوه برخـه ګرځي او خلك ورسره عادي کېږي،که ښاغلي سحرصاحب هغه مهال د خلکو ژړاوي د ژړا په ژبه ليکلي وای نو دا به کليشه غوندي وای، دلته سحرصاحب نوښت کړی چي دغه ناخوالي يې د طنز په ژبه مسخره او د يوې نوي لاري يې د ولس پام يې ورته را اړولی دی.

د ده طنزونه که څه هم پرونۍ خبري دي خو نن يې هم خلك خوښوي او زه باور لرم چي سبا به يې هم خوښ کړي،ځکه نن خلك تر پرون ډېر بوخت دي او ښايي تر نن سبا ډېر بوخت وي،هغه مهال به خلك د تفريح لپاره ځانګړی وخت و نه لري خو دا چي تفريح د انسان اساسي ضرورت دی نو په دې صورت کي به خلك له خپلو ورځنيو کارو سره تفريح هم ملګري کوي، نـو هغـه مهال بـه خلك هغه ليکني ډېري لولي چي د پيغام تر څنګ خندا او تفريح هم لري.

دغه ډول انتخاب يوازي په جنګ جګړو پوري اړه نه لري، د پرون په شان به نن او سبا هم خلك هنري ليکني خوښوي، د هنري خبرو يـوه ځانګړتيـا دا ده

چي خبره نيمه لوڅه او په اشارو کېږي، يا په بله مانا خبره نا مستقيمه کوي چي موږ په خپل ورځني ژوند کي هم دغسي خبري لرو او خلك يې ډېرخوښوي،لکه يوه لنډۍ لرو چي وايي:

ماته په سترګو کي حال وايه

واړه کوځې له غمازانو ډکي دينه

د دې لنډۍ هنريت په دې کي دی چي په سترګو کي حال ويل او يا په اشارو څه ويل غيرمستقيم پيغام لري او د دې ترځنګ په خبره کي تلوسه او د خلکو توجه جلبوي چي طنز هم دغسي يو ترکيب لري.

سحرصاحب د جنګ جګړو ډېر مهم موضوعات په خپلو طنزونو کي رانغښتي دي،لکه ډله ييزي وژني، پاټکونه، شخصي زندانونه، چورچپاول،فقر،بې کاري،بې سوادي، جهالت،بې کوري، کډوالي او د دولت په لوړو پوستونو کي د ناوړه خلکو کار کول يې يو څو بېلګې دي.

ځيني ليکوال وايي چي بايد هغه لنډ مهاله موضوعات راوا نه خلو چي ژر زړېږي،لکه سياسي موضوعات. زما په فکر د موضوع په انتخاب کي تازه والی او اهميت ډېر ضروري دی،تلپاتي موضوعات په نه يوه ډول تکراراو سولېدلې وي، مثلا مينه يوه داسي موضوع ده چي له بابا دمه تر دې دمه ليکني پر کېږي او تر قيامته به هم مينه يو انساني ارزښت او مهمه موضوع وي،خو پر دې موضوع به هم يوازي هغه اثار د خلکو خولو او زړو ته لوېږي چي هنري قوت ولري. د يوه هنري اثر ژوند ، ځواني، زوړوالي او مړينه په موضوع پوري نه، بلکي په هنري قوت پوري تړلې ده.

که يوه موضوع په هنري ډول او هنري فورم کي راواخيستل سي تر ډېره وخته نه زړېږي،ځکه چي هنر له معقولاتو سره نه، بلکي له انساني احساساتو سره اړه لري، که يوه موضوع د مکان او زمان له مخي ارزښت له لاسه هم ورکړي خو هنر يې له زوړوالي او مرګه ژغوري.هنر سړی لاس نيولی له اوسنۍ

زماني څخه هماغه پخواني زمان او مکان ته بيايي او په دې ډول يې له پخواني معقوليت سره تړي چي سړي ته دا اثر بيا هم بيخي نوی او تازه ښکاري، ځکه چي هر هنر د خپل مکان او زمان په کاڼي تلل کېږي.

مثلا يوه ډېره پخوانۍ کيسه چي په هغه کي حيوانات، مرغان او ونې خبري، که دغه ليکنه له هنري پلوه غني وي نو موږ يې په خوند او شوق لولو، که څه هم موږ اوس د حيواناتو، مرغانو او ونو پرخبرو باور نه لرو خو د دې اثر هنري جادو مو د دې کيسې پخواني مکان او زمان ته بيايي او په موږ دا مني چي دغسي موجودات هم خبري کولای سي.

که موږ د نن موضوعات يوازي په دې دليل را وا نه خلو چي سبا زړېږي نو هيڅ داسي يوه موضوع به پيدا نه کړو چي د سبا د نه زړېدا تضمين دي يې ولري، تر څنګ به مو يې دا تاوان کړی وي چي د ننني موضوع مينه وال به موهم له لاسه وتلی وي.

د کابل ناخوالي به ډېرو مورخينو او ليکوالو ليکلي وي خو راتلونکي نسلونه به دغه ډول ليکنو په پرتله په دې اړه جوړ سوي فلمونه، ليکل سوي داستانونه، ناولونه او شعرونه ډېر خوښ کړي،ځکه چي هنريت پکښې دی.

بله خبره د سحرصاحب د طنزونو فورم دی،طنزخپل ځانګړی فورم نه لري او په هر فورم کي اچول کېدای سي، زما په اند هغه څوک چي ښه شاعر،ښه کيسه ليکوال، ښه ډرامه ليکوال او ښه ژورناليست نه وي نو په دغو فورمونو کي ښه طنز هم نه سي ليکلای.

سحرصاحب خپل اکثره طنزونه په داستاني فورم کي ليکلي دي،لکه لنډه کيسه او ډرامه چي زه يې د برياليتوب يو راز همدا بولم. د طنز لپاره د داستاني فورمونو ګټه دا ده چي هم يې طنز او هم يې فورم هنري دی، که طنز په کوم ژورنالستيك ژانر کي وليکو نو فورم يې هنري نه دی،بس نو بخت و طالع که اثرمو د محتوا په مټ وځلاوه ښه تر ښه او که نه نو يوه ناچله سيکه

به مو په لاس کي وي،خو د سحر صاحب لنډي کيسې او ډرامې له طنز پرته هم غني او په تول پوره دي.

د سحرصاحب په طنزونو کي بله موضوع د طنز د تخنيکونو ده. طنز له دوو اساسي ارکانو څخه جوړ دی چي يو يې انتقاد او بل يې هم ظرافت يا خندا ده، ترکيب يې داسي دی چي انتقاد په بېلابېلو ډولونو سره د ظرافت په پوښ کي نغښتل کېږي او بيا ټاکلی هدف په نښه کوي. په هغه طنز کي چي د انتقاد پله درنه وي نو تريخ يا تور طنز بلل کېږي او که د ظرافت انډی يې دروند و،نو سپين يا خوږ طنز يې بولي. طنز ځکه سړی خندوي چي په هغه کي دوه متضاد اړخونه سره يو ځای او يوه حقيقت ته له دوو خواوو کتل سوي وي. دوه متضاد اړخونه سره يو ځای کول ډېر تخنيکونه لري لکه پېغور،آيروني، پارودي، مبالغه، تناقض و تباين،عدم تناسب، ناڅاپي حالت او داسي نور چي تقريبا ټول يې د متضادو اړخونو له يو ځای کېدو څخه سرچينه اخلي.

سحرصاحب له دغو تخنيکونو څخه ډېر ښه کار اخيستی چي دلته يې څو بېلګي راوړو.د "لوی او کوچنی" په نوم طنز کي يو ټکسي له يوه کاماز موټر سره ټکر کوي چي په نتيجه کي يې ټکسي چيختاڼ او له پېژندلو وزي،ټکسيوان چي يو سپين ږيری سړی دی، ټپي او په وينو سور کېږي، د کاماز موټروان چي يو وسله وال ځوان دی روغ رمټ پاته کېږي، دی ټکسيوان بېچاره تر ګرېوان نيسي او په کشولو کشولو يې د ټرافيکو مديريت ته بيايي. تر يو لړ پوښتنو ګروېږونو وروسته د ټرافيکو مدير په مودبانه ډول وايي چي زموږ په کلتور او قانون دواړو کي لوی او کوچنی،کشر او مشر معلوم وي.

دلته له (ناڅاپي) نومي تخنيك څه کار اخيستل سوی دی خو ناڅاپه پرېکړه د خلکو د وړاندويني سرچپه راوزي، ځکه لوستونکی لومړی داسي فکر کوي چي فيصله به د ټکسيوان په ګټه کېږي خو د ټرافيکو مدير وايي چي کاماز لوی او ټکسي کوچنی موټر دی، نو په دې اساس ټکسيوان ملامت او بايد چي کاماز والاته پنځه لکه افغانۍ تاوان ورکړي. يو بل طنز دی چي

نوم يې دی: دا وختونه کله کله وي. په دې طنز کې توپکی قوماندان خپل انډيوالان په غلاوو ګماري،انډيوالان يې د برېښنا سيمونه،د ښوونځيو کړکۍ او دروازې غلا کوي، وروسته يوه دفتر ته ورځي، په دفتر کې تلويزيون چالان وي، په تلويزون کې هماغه قوماندان خبري کوي او وايي: هيوادوالو دې ډاډه وي چې موږ د خپلو خلکو د سر او مال خوندي ساتلو لپاره شپه او ورځ کار کوو. قوماندان لانوري خبري هم کوي خو توپکی پټو ورته اوار او تلويزيون هم را په شا کوي. دې تخنيك ته تناقض او تباين وايي، ځکه چې د يو چا عمل او خبري سره په ټکر کې دي او کله چې دا خبري او عمل سره يو ځای سي نو د خندا وړ ګرځي. په شيطان څراغ نومي طنز کې لولو چې پر کابل د راکټونو باران اوري او هره ورځ په سلګونو خلك مري خو ولسمشر او کابينه يې پر دې بحث کوي چې د فلاني کانټينر ولي بې ځايه سوی دی او بايد چې بيرته پر خپل ځای کښېښوول سي؟ دې تخنيك ته عدم تناسب وايي، ځکه چې د کانتينر موضوع له کمي او کيفي لحاظه د ولسمشر له موقف، ارګ او سياسي فرهنګ سره سمون نه لري. په دې طنز کې پر مخ لولو چې ولسمشر خپل يو وزير نه پېژني، وروسته معلومېږي چې دا وزير د يوه والي له خوا مقرر سوی او والي خپله خارج ته تښتېدلی وي، دې تخنيك ته آيروني ويل کېږي، ايروني چندان سړی نه خندوي، که يې خندوي هم، نو دا يوه ترخه خندا وي، ياني د سړي زړه ډېر درد کوي. سحر صاحب د طنز له نورو تخينکونو څخه هم ډېر ښه کار اخيستی چې د ټولو څېړنه د مقالې له وسه وتلی کار دی.

سحرصاحب د خپلو طنزونو لپاره د موضوع په انتخاب کې پوره دقت کړی دی،د طنزونو هدف او په نښه کړي کرکټرونه يې هم ښه واضح دي، د طنز لپاره يې داسي فارمټونه ټاکلي چې دی وربانديې پوره مسلط دی. د طنز تخنيکونه هم ښه پېژني او په پوره مهارت يې کارولي دي، ژبه يې هم ښه روانه او ساده ده، څرنګه چې هنريت د طنز د ملاتير دی نو ويلای سم چې د سحرصاحب طنزونه له هنري پلوه ښه غني او په تول پوره دي، په پای کې وايم

چي خدای دي سحر صاحب ته توفیق ورکړي چي نور طنزونه هم ولیکي او په دې لار کي ښه پر مخ ولاړ سي.

یادونه: دا مقاله په هغه غونډه کي لوستل سوې چي د روان لمریز کال د غبرګولي پرپنځمه نېټه په کابل کي د قلم نړیوالي ادبي ټولني له خوا د ښاغلي علم ګل سحرد ادبي اثارو د کره کتني او درناوي لپاره جوړه سوې وه.

عبدالنافع همت



# شیطان ځـــــــراغ

زمـا پـه انـد لابـه هـم دهیـواد پـه ځینـو سیمـو کـې د یوشـمیر بیوزلانـو پـه کورونه کې شیطان ځراغ وي او کنه وي نـو د کوټـو پـه دیوالونـو کـې خوبـه یـې خامخالا هغه وړوکی تاخچګۍ موجودي وي. شـیطان ځـراغ خـو ښـه پیژنـو لـه ختې جوړکنډولي چې لکه د اوسنیو سګریټ دانیو په څیـر څـو کونجونـه لـري او پـه ځنډو کـې یـې د پیلتـې د ایښـودلو لـه پـاره وړوکـی جرهـم لـري،د اور پـه واسطه پوخ اوکلک وي، په د او روستیو کې به له ځینو کوچنیو بوتلونو څخه هم د شیطان ځراغ کار اخیستل کیده. د شیطان ځراغ رڼا به کـه څـه هـم تتـه او لړزیـدونکي وه خـو مـوږ تـه بـه د پـام او سـاعت تیـري وړوه. زمـوږ واړه واړه سیوري به یې راته لوی اوموږ به هم د خپلـو وړوکـو لاسـونو د ګوتـو پـه واسـطه ډول ډول د ونو،انسانانو، ژویو،څیري اورسمونه جوړول.هغـه مهالـل بـه مـوږ تـه دا یوه لوبه برېښیده او داسې به موانګیرله چې ګویـا دا رښـتیاني نـه دي مـوږ ورڅخه نه ویریدو، خو اوس راته جوته شوه چې د سحر پـه لاس کـې د شـیطان ځراغ په تته رڼا کې هغه د انسانانو،ژویو سیوري اوڅیرې راته پـه واقعـې ښـه ښودل کیږي؛خلک ویروي،غم جوړوي،د وطن د هسـتي او شـتمنې لوټـول ورتـه یوعـادي کاربریښي،هغوی د یوې ډیرې اړتیا لـه املـه پـه وچ زوراړ کیـږي چـې شیطان ځراغ ولګوي خو په عین حال پرې خوښ هم نـه دي ځکـه تیـاره د دوی په ګټه ده،هغوی له نورو رڼا ګانو کرکه لري،ویریږي. ترډیره هڅه کـوي،چې د پوهې، پرمختـګ،زده کړې،رڼـا ګـانې غلـې کـړې. دا کسـان ټـولې هغـه دینـي توصیي او ارشادات هیـروي چـې پـه عملـي کولـو سـره یـې ټولـو انسـانانوته د دارینو نیکمرغې ورپه برخه کیږي،دوی دهوس اونفس دغوښتنومنلو تـه غـاړه ایښي. سحر دغو کسانو پـه زغـرده نصیحت نـه کـوي اوپـه دې بـاور دي چـې د شیطـان ځراغ په سوزونکو لمبو یي داغـل ښه دي،ځکه یـو خـو بـه دغـه داغونـه دوی خلکـو تـه ښـه وروپیژنـي،او بـل بـه یـي عبـرت هـم کـړي.هغـه ځکـه شـیطان ځراغ په لاس او کوڅه په کوڅه ګرځي چې هغه څوک یې چـې رڼـا تـه اړتیـا لـري ورڅخه ګټه واخلي، او په دې توګـه بـه یـې د رڼـا لـه برکتـه لـه تیـارو راووځـي. اوهغه چې رڼا ته یې سترګې بریښي، له رڼا سره یې جوړه نه ده پرې وداغـې کـه

په دې ډول سره وتوانیده چې سمې لارې ته راشي،سحر د خپل ځراغ رڼا ، اوسوزونکې لمبې دواړه دټولنې ټولوغړو ته یوشان ډالۍ کوي،او ورته خپل سخاوت هم په ګوته کوي،هغه له هیچا څخه خپله مرسته نه سپموي،زما په اند تر ټولو ښه مرسته داده چې یوچا ته په خندا خندا لاره وښودله شي. وایي د هرعیب دورکولو اواصلاح له پاره تر ټولو ښه نصحت طنز دي.نوځکه سحرله دې وسیلې څخه کار اخلې،اوپه مالګینه خندا خندا ، د ټولو هغو کسانو اصلاح ته لیځې رانغاړې چې تر ډیره درونند مسولیت،او واک او ځواک لري،سحرهڅه کوي هغه وپوهوي چې د خدمت کول داسې نه وي لکه دا ته چې یې کوي.

دلته راځئ وګوره چې هغه د خپل ځراغ زرینې وړانګې.مشرصیب، وزیر صیب، ریس صیب، او ان پیردار ته څنګه په پوره اخلاص سره وړاندې کوي. ورته وایي دا ستاسو دا ډول کړه وړه د مسولینو په توګه د چا له پاره د منلو وړنه دي، داسې باید ونکړئ. ځکه چې ولس ورڅخه د داسې کولوتمه نه لري.او یو مسول د خلکو سر اومال د ساتلو دنده لري نه دا چې د هغوی دروازې ورماتې کړې اومال یې یوسي. سحر داسې مسول د دې ترڅنګ چې متوجې کوي خوخلکوته یې هم داسې ورپیژنې. دا یې څلورم ځل و،چې د مانۍ د کړکیو د ماتو ښیښو پر ځای یې نوې ښیښې اچولې وې.سره له دې چې ښیښې یې لا پرون پوره کړې وې او اوس دومره یخني نه وه، خو د کار او کادرونو د چارو وزیر ناروغ و،نورو وزیرانو او مشرانو به ویل چې وزیر په هغه شپه چې د یو توغندی ګولۍ د کړکیو ښیښې ماتې کړې، په یوه کمپله کې ویده شوی او د خپلې سرزورۍ له امله زکام شوی دی. وزیر دا څو ورځې د هغه او دغه له جیب څخه ډېرې ګولۍ خوړلې وې او خپل همښتنی شین چای یې هم په تور چای بدل کړی و،خو ناروغي یې لا پسې سخته شوې وه، د روغتونونو لارې د نورو وسلوالو ډلو په واک کې وې. وزیر پکول ایسته کړی و او تر سر یې برګ دسمال ټینګ تړلی و،له ځایه راولاړ شو،له دروازې یې یوې او بلې خوا ته وکتل،پیره دار په دېګدان پسې اور اچولی و،وزیر پرې غږ کړ: اغا شیرینه! دوا دې راوړه؟ اغاشیرین چې په یوه لمده لښته د اور په منځ کې

لرګي سره اړول، را اړول، مخ راواړوه: ټول بازار بند و،یو درملتون هم خلاص نه و.

ــ ولې،برچه او کلاشینکوف دې نه لرل چې کولپ (قلف) دې مات کړی وای؟ ها! چې هغه څه ونه ویل، په امرانه لهجه یې پسې زیاته کړه: ژر لاړ شه، له یوه درملتون څخه د ټوخي او زکام دوا راوړه. اغاشیرین چې هماغسې په اور کې لرګی واهه، پوښتنه وکړه: ډاکټر خو به نه وي، څه رقم دوا راوړم؟

دلته موږ وینو چې زموږ دزمانې یو مشر اووزیرد ځان د روغتیا په مقصد بې له دې چې له سالمې لارې یوه چاره ولټوي. خپل پیردارته په امرانه لهجه وایي: لاړشه او له درملتون څخه دوا راوړه، دلته سړي ته هغه خبره وریاده شي،چې که د ملک مشر او واکدار له بڼ څخه یوه مڼه وشکوي عسکربه یي ټول بڼ لوټ کړي، سحر د دغه کار د مخنیوي په موخه د ځراغ په لمبو وزیر صیب داغې. چې داسې مه کوه .او دا هم ورته په ګوته کوي چې ته له هغه چا څخه چې هغه خپلې روغتیا ته پام نه کوي د څه له پاره مرسته غواړې،او مشرواکمن ته داپه ګوته کوي چې دغه ناروغ ،عملې، اونامسلکي سړی چې تا ولس ته دروغتیایي خدمتونو دوړاندې کولو په موخه ګمارلی تیروتی یې،سحر په دغه نصحت کې په ځومره ښه انداز مشر ته وایي چې که نور څه نه شي کولای دپوهنې له رڼا خو مه تښته. او دلته هم شیطان ځراغ د هغه چا په لاس لګوي چې باید ویې لګوي، سحر دلته دوئ ته په خندا خندا کې اصلې خبره کوي او ورته وایي: پوهنه رڼا ده، داخبره سحرصیب ځکه دیوه پوځې له خولې کوي ترڅو په کنایه کې مشر وپوهوي چې نورخو لا نور خو پوځیان دې هم باید په دغه ټکي پوه وي او پوهې ته په درنه وګوري. سحر په دغه طنز کې نه یوازې. خپلو لوستونکو ته خندا ورکوي،بلکې یوه ترخه تاریخي پیښه هم بیانوي. د جګړې له لاسه نا اهل دواک په ګدۍ ناست خلک ورښيي،دی ورته دا خبره هم کوي چې جګړه څنګه عزتمن خلک بې عزته کوي. اوځنګه نااهله واک ته رسوي، دلته سحر په نرمه نرمه واکمن ته وایي: چې ته

خبریي کنه ؟ دومره ګډوډې ده چې یو والي وزیر په دنده ګمارې چې داسې سرچپه کار د تاریخ په اوږدو کې نه دی شوی. او دا هم ورته په ګوته کوي چې له چا څخه وړل شوی مال باید څوک ورته ورکړې، د خلکو له ماله څوک ساتنه وکړې، پولیس که د اقتصاد وزیر؟ که د اقتصاد وزیر د وکاندار ته کانتینر ورکوي نومعلومدار چې عسکر خونه لري چې له هغه قوماندان وړل شوی کانتینر راوړي نو له بیت الماله به یوڅه ورکوي. چې په دغه کار سره هم له خلکو سره جفا کوي،او په دې سره ګټه بیا هم قوماندان وکړه. داسې وزیر چې دا لا ورته معلومه نه وي چې زما ټاکل د چا کار دی، ضرور همداسې کوي لکه مخکې چې مې یادونه وکړه. هغه وایي: "د اقتصادي امورو وزیر وظیفه لري، چې د ښار یوه دکاندار چې موږ ته یې عریضه رسېدلې ده، د کانتینر د بېرته ورکولو په باب اجرات وکړي. د ده کانتینر زموږ یوه قوماندان په زوره ترې وړی دی، باید چې دا..."

د رئیس د نابلده وزیر څېرې ته پام شو، کښته- پورته یې ورته وکتل، کاغذ یې یوې خوا ته کړ،پوښتنه یې وکړه:

ته څوک یې؟

ـ زه د اقتصادي چارو وزیر یم.

ـ عجیب، ته چا مقرر کړی یې؟ زه خو تا نه پېژنم.

ـ صاحب! زه والي صاحب مقرر کړی یم،هغه ما ښه پېژني.

رئیس تلولی شو:

عجب! نو هغه بل څه شو؟

ـ خبره داسې ده چې پخوانی وزیر ګاونډي ملک ته خپل کورته تللی دی،والي صاحب ویل چې هغه ورته ویلي چې بیا نه راځي. بس ما ته یې وویل چې ته هلته وزیر شه. د ده په خپله هلته ښه ساعت... سحر دغه طنزې

ټوټه په څومره ښځو او وزن لرونکو کلماتو سرپای ته رسوي .لوستونکې ته وريه يادوې چې په هغوو ځايونو اومانيو کې چې له هغه ځايه د قانون رڼا نوروسيمو ته خوريده قانون نشته، ويارونه ترخاورو لاندې دي، اوهيڅوک هم نشته چې د دغو ويارونو، اوقوانينو د ترلاسه کيدوله پاره خو يو څه وکړي، بلکې يوازې دهغه بيرغ ريتاړې او د ځراغ لړزيدونکې لمبې دي چې دا هڅه کوي .سحروايي: "شيطان ځراغ يوازې پاتې شو. شا و خوا د توغنديو ګولۍ لګېدلې، داسې معلومېدل چې ټولو لاړ ورکه کړې وي، بس يوې بلې خوا ته يې منډې وهلې. تا به ويل د سپوږمۍ تتې رڼا ته په ګوليو د لګېدلې څيرې څيرې بيرغ رتياړې او په مانۍ کې د باد په مخ کې د شيطان ځراغ لړزېدونکې لمبې د ارګ په تللې برم پسې لاسونه اچوي."

په پای يوازې دومره ويل غواړم ووايم چې تر کومه بريده چې زه سحرصيب پيژنم. په وطن اوخپلو خلکو دومره مين سړی دی،چې په ډاډ سره ويلای شم ډير ځله خو د خلکو په تريخ ژوند اوښکې له سترګو څڅيدلې،هغه په ژبه اوعمل کې يو ډول دی، ډير ښه اوغوره خوی خو يې دا دی چې هيڅکله چل ول نه کوي،له سياست سره يې جوړه ده خوپه کې درواغ نه وايي. چې رښتنولۍ يې په خپلو ليکنو کې هم ښه له ورايه ښکارې په مينه سحرصيب قلم د لاچالان اوسه.

اسدالله بلهارجلالزی

غـــزني ښار- البيروني واټ



# په "پاس سپوږمۍ ده لاندې ته یې" کې فلسفي افاقیت ته یوه ځغلنده کتنه

موږ په دغه لیکنه کې تر وسه وسه پورې هڅه کوو چې په پورتني کتاب کې هغه څه ولټوو،چې په اصطلاح فلسفي افاقیت ورته ویلای شو.موږ نه غواړو چې د دغه کتا ب په فزیکي او تخنیکي اړخ باندې خبرې وکړو بلکې یواځې مانیزه پانګه اوهنریت او په هغه کې د یو شمېر فلسفي اندونو اوانځورونو څېړنه کوو.

دغه کتاب د هېواد د ځوان او نامتو شاعرعلم ګل سحر وروستۍ خپره شوې شعري ټولګه ده چې د ده د تر ټولو وتلې او نامتو شاعرۍ بېلګې په کې خوندي شوي دي.

موږ ډېر ځله په ژوند کې یو شمېر خبرې او اصطلاحګانې لرو چې په غیر شعوري یاځان ناخبري ډول یې کار وو،دا توکې چې کله بیا یوه شاعر ته په لاس ورشي هغه بیا د خپل هنر په مټ ورڅخه د فلسفي اندونو او الواکونو د څرګندو بېلګو په توګه ټولنې ته وړاندې کوي.

موږ په دغه لیکنه کې دا هڅه نه ده کړې چې د سحر کتاب د کره کتنې په تول وتلو، دا نه ارزو چې په پښتو ادب کې د دغه کتاب خپرېدل څومره پرځای او ستره زیاتونه ده، دانه ګورو چې نور خپاره شوي کتابونه څومره ارزښتمن و او د سحر دا یې پر ارزښت څه ډول زیاتونه وشوه،خو دومره ویل اړین بولم چې د تېرو څوکلنو په ترڅ کې زما لاسته راغلی تر ټولو ستر کتاب "پاس سپوږمۍ ده لاندې ته یې" ده.

دغه کتاب پرهنري ارزښتونو برسېره د یوې داسې شاعرۍ بېلګې له ځانه سره لري،چې سرې یې له مخې پرېکړه کولای چې پښتو ادبیاتو شعري برخه اوس هم روانه ده څو پورې چې ځان د بشپړتابه پړاو ته ورسوي. کېدای شي چې په دې برخه کې یو زیات شمېر کتابونه خپاره شوې وي خوهغه ښکلا

اوهنریت چې په دغه کتاب کې شتون لري زموږ ادبیات به یې له ځانه سره کمې بېلګې لري.

د یونان ستر فیلوسوف افلا تون وایې : "انسانان له آره ټول شاعران دي او کله چې دې نړۍ ته راشي نو بیا په دوو برخو ووېشل شي چې یوه ډله یې د ده په وینا ناطق یانې خبرې کوونکي او بله ډله یې صامت یانې ګونګ دي. "

دی وایې ناطق انسانان کولای شي چې خپل احساسات د شعر په ژبه څرګند کړي خو صامت بیا له دې چارې څخه بې برخې دي مګر د ده په وینا کله چې ناطق انسانان چې د ده موخه دلته شاعران دي ګړېږي نو صامت یا ګونګ انسانان هم دا وړتیا لري چې دهغوی له خبرو څخه خوند واخلي.

خوخبره یوائې دا نه ده چې څوك افلا تون د ناطق په کټګورۍ کې شامل کړي وي نو هغه دې ټول یو ډول وي،د دغو خلکو تر منځ هم ژور توپیر شتون لري یو شمېر یې داسي دي، کله چې چاته د شعر په ژبه ګړېږي نو نور وګړي خوند ورڅخه اخلي،خو یو شمېر نور یې بیا داسې دي چې یوائې په دې کټګورۍ کې شامل دي خو نور د دې جوګه نه دي چې نور وګړي یې له خبرو څخه خوند واخلي.

له نېکه مرغه په "پاس سپوږمۍ ده لاندې ته یې" کې موږ سحر داسې موندلی دی چې په لومړۍ کټګورۍ راځي ده هغه څه ویلي دي چې هرڅوك د لوستونکې په توګه خوند ترې اخیستلای شي. په پورتني کتاب کې موږ په هنري ارزښتونو سربېره یو عام خیال هم وینو او دغه خیال د انسانیت په چورلیځ باندې راچورلي، په دغه خیال کې له انسانیت سره مینه،هغه ته درناوی او دهغه د ځای ځایګي په اړه ډېرڅه وینو.

موږ د میني او انسان په اړه په پخوانیو اسطورو برسېره په معاصر ادب کې هم ډېرڅه لوستلي دي خو نن چې سحر په کوم انداز کې ورته نغوته کړېده هغه ورسره یو مخیز توپیر لري. زموږ دیني روایات د قران کریم پر بنسټ انسان په ځمکه کې د خدای خلیفه ګڼي "اناجعنافی الارض خلیفة... الایة "

او په دې توګه د انسان درنښت راته زباتوي، دغه راز انسان د ټولو کایناتو تر منځ ښکلی راپېژني "لقد خلقنا الانسان في احسن التقويم... الاية."

پردیني روایاتو برسېره زموږ دودیز روایات هم د انسان درنښت رازده کوي او دا کومه نوې خبره نه ده، خو هغه چې علم ګل سحر یې وایې اوموږ ته یې راپېژني هغه بل شی دی.

د انسانیت په وړاندې له ارزښتونو ورها خوا موږ خنډونه هم وینو، تاسې پوهېږئ چې چابه د بېزوګانو اولاد باله، او اوسني انساني پېرته یې د هغه د ژوند د تکاملي پړاو په سترګه کتل په دې مانا چې انسان لومړی د بېزو نسل وو چې د وخت په تېرېدلو سره یې د اوسني انسان بڼه غوره کړه. چابه د ځمکې په مخ د نورو ژویو سره ورته باله او دارزښت په اړه یې هېڅ هم ورته نه درلودل.

د دې ترڅنګ ډېر ځله په ډېرو ټولنو کې له هغه سره د یو بل دودیز ژوي په توګه د پېرلو او پېرودلو چال چلند تر سره کېده او داسې نورې ډېرې معاملې دا په زبات رسوي چې انسان له څومره خنډونو سره مخ و، چې دغه خنډونه په ځانګړې توګه د ښځو په اړوند لاښه څرګند بدل. له ډېرو پخوانیو زمانو څخه د ښځو په اړه داسې یوې انګېرنې شتون درلود چې ایا ښځه ذې روح ده او کنه؟ او ایا هغې ته کوم عذاب رسېږي او کنه؟

دې ته ورته نورې بېلګې هم د بشر په تاریخ کې شتون لري.خو د سحر په کتاب کې له انسانیت سره د فوق العاده مینې بېلګې وینو، ده هغه څه ویلي دي چې ربښتیا هم د انسانیت د معراج د زبات لپاره بسنه کوي.

دوی حیران دي چې په تا ولي مین یم

دا خو ځکه چې انسان راباندې ګران دی

پاس سپوږمۍ.... ۲۹مخ

او لکه په لاندې بیت کې چې د انسان ذاتي شتون اوهستۍ ته د درنښت سر ټیټوي او د یار په نامه درست انسانیت ته په خطاب کې وایې:

زه دې ښکلا نه ګورم زه دې یم په روح مین

ګوره چې خپه نه شې، ښکلې بې له شکه یې

پاس سپوږمۍ ده ....۶۸مخ

دلته سحر له ظاهري ښکلا نه یو ګام ورها خوا ځي، دی یو ځل د انسانیت ښکلا په زبات رسوي او هغه ته وایې چې بې له اړنګه ښکلی یې خو زه دې په روح مین یم. له دیني ارزښتونو ورها خوا موږ په دودیز ډول ډېرځله په هغه څه باندې مینه کوو چې محسوس وي. خو دا چې له روح سره مینه کول وینو له دې څخه ښکاري چې سحر څومره لویو ارزښتونو ته په درنښت ټینګار کوي.موږ له ښکلا سره په مینه باندې عادي و خو له روح سره مینه کول له سحره څخه اورو او داموږ ته په زبات رسوي چې له یو شي سره مینه کول دهغه د ارزښت شاهدي ورکوي او کنه؟

سحرنه یوائې له روح سره مینه کوي بلکې هومره ژور تللی دی چې د خپلې مینې په مټ د ښکلو زړونو او روح ته رسېدلی دی:

دا ښکلي هسې له موږ مخ اړوي ځان کنجوي

موږ یې په روح موږ یې په زړونو کې لاروغ پاتې یو

پاس سپوږمۍ... ۲مخ

موږ ولې مینې ته اړتیا لرو؟

دا داسې یوه پوښتنه ده چې هر چا د خپل اند له مخې ځواب کړې او تعریف کړېده،ځینو د انسانیت د دوام لپاره یو اړین شرط مینه بللې ده،ځینو د ژوند د داسې اړتیا په توګه یاده کړې ده چې له نشتوالي څخه یې کېدای شي چې د نړۍ نظام ګډوډ او ړنګ شي. د دیني روایاتو پر بنسټ که

مینه نه وی نو انسانیت بشپړنه دی، انسانان تل هڅېدلي دي چې په مینه کې ژوند وکړي،یو شمېر نوربیا په دې گروهه دي چې که په بشر کې د مینې تلوسه شتون ونه لري په ژوند کې به هېڅ خوځښت او خوند نه وي. دوی وایې چې که په ژوند کې د مینې د هڅتابه خاکه نه وای نو د ډېرو ورو ستونزو په وړاندې به انسانانو خپل مقاومت له لاسه ورکړی و او له پښو به لوېدلي و. او دا کار په ټوله کې د بشر د تاریخ د له منځه تللو یو لوی لامل کېدای شوای. د مینې په وړاندې د بشریت ترمنځ د کرکې په نوم یو بل مفهوم هم شتون لري چې انسانیت یې له ګواښ سره مخامخ کړ ی دی. سحر د دغو دواړو مفهومو تعریف او لومړي ته د انسانانو اړتیا په لاندې نظم کې په ډېر ښه ډول انځوروي.

## د رڼا تناب

ته یې سپېڅلې!

ته اروا د مریم

ته لکه پرخه په ګلپاڼو باندې

ته لکه وړانګه پاکه

ته د بلبل اوښکه یې

روح دې منیځلې د زمزم په اوبو

ته یو احساس ته عاطفه یې ګلې!

ته له ګنا پاکه یې

خو دلته هر پلو ګناه ده ګناه

لکه چې ته دلته بې وخته راغلې

لاخو کېنې خورې دي

لاخو کرکې خورې

لاخو د مينې جامې رنګ دي

د ګناه په وينو

لاد قابيل- هابل کېسه ده

د هر چا په ژبه

او د بلقيس او سليمان مينه

له ټولو هېره

ځمکه فساد نيولې

اسمان کې ورېځې دي د کرکې خورې

لاد يزېد توره

ريبي سرونه

لاخو دهر چا زړه کې کرکه شنه ده

لاخو دهر چا زړه کې بل د انتقام اورونه

لاخو په مينه هېڅوك نه پوهېږي

نو دا منې راسره؟

چې ته بې وخته راغلې

دې د نفرت نړۍ ته

ته چې د چا زړه کې کینه ووینې

دا ستا په سترګو کې د وېر فصل

راوټوکېږي

تاته د زور او زرو سترګې اوړي

ته د قارون، ته د پاچا، ته د جابر

له څنګه تېره شې

موسکۍ شې وایې

عجب ساده خلك دي

دومره په زور او زر مغرور ولې دي؟

ته د سندرو سېپارې

په مینه مینه لولې

ته لکه زه په یوه ورکه پسې سترې ښکارې

مینه، مینه، مینه!

اوه، نه پوهېږم

ښایې داهم سترې وي

ښآیې چې مینه هم

تیارو کې سر ګردانه ګرځي

د یوه زړه په لټه

داسې يو زړه چې کرکه نه پېژني

چېرې بهٔ وي؟

نه پوهېږم، نه پوهېږم

××××

ته يې سپېڅلې!

ته اروا د مريم

ته يوه پاکه فرښته يې ګلې!

ګوره ابلېس مينې ته خاورې شيندي

د فرښتو د لارښوونې

خوب يې بيا لېدلی

ابليس د مينې دښمن

فرښتې! تاته وايم

له خپلو شونډو

دولاحولو توري مه غورځوه

ابليس لباس دی

کله،کله په بدل لباس کې

راشي د کرکې اوګناه تخمونه وشيندي، ځي

په لباسي خندايې مه غولېږه

چې ولاحولو درنه هېره نه شي

ايت د مينې تل پر ځان چوف کوه

ابليس په سپين لباس کې راشي

فرښتو ته لارښوونه کوي

ابليس د مار زهر

د مينې په پيالو کې راوړي

نو

فرښتې تا ته وايم

اعوذبالله او ولاحولو

تل پر شونډو لره

×××××

ته يې سپېڅلې!

ته اروا د مريم

ته يې د نور لارښوده

زه دي چې سترګوته په ځير ګورمه

ما خپل ارمان ورك کړی

زه دې په ښکلو شرابي سترګو کې

د رڼا لارې ګورم

او

زما دعقل بېړۍ

دا ستا د ښکلو سترګو

د سمندر په توپاني څپو کې

غرقه ښکاري

او زه تیارو کې بندي

په تروږمۍ کې

له برهوت څخه فریاد کومه

ته په وړانګینو لاسو

دا د رڼا تناب راخور کړه

ما در واخله ښکلې

چې دې نفرت،نفرت جهان کې مې

نور زړه تنګ شوی

پاس سپوږمۍ.... ۱۹مخ

د سحر شعر لـه سره تـر پایـه پـورې کـه څوك ولـولي نـو درسـتې انسـاني ښېګڼې یې نغاړلې او په ټوله کې له مینې څخه ډك دی. سحر انسـان د مینـې سېمبول ګڼي او بدۍ ټولې د ده له پنځه (فطرته) سره په ټکر کې ګڼي. مـوږ تـه دلته د فرانسـې د نـامتو فیلوسوف ژان ژاك روسو یوه خبره رایاد بېږي. روسو وایې چې انسان په فطرتي ډول ښهٔ پیدا شوی دی او د طبعـي حالـت پـر بنسـټ نه شي کولای چې بدي وکړي. موږ که د سحرشعر راګوروهم نو ګام په ګـام مـو

د انسان، او د هغه د فطرت په اړه د مینې د ژبات په دلایلو باندې سترګې نښلي.

دلته اړینه بولم چې د ښه شعر په ارزښت هم څو خبرې وکړم چې ښه شعر کوم دی او څه ارزښت لري.

د بدیع او بیان پوهان په دې ګروهه دي چې ښه شعر باید لاندې ځانګړنې لکه وزن، ښه فکر، لوړتخیل او خوږه ژبه ولري، یو شمېر خو یې په قافیه باندې هم ټینګار کوي خو په اوس مهال کې دا شی په ازادو شعرونو کې له پامه لوېدلی توکی دی. خو یوشی چې زما په اند د شعر تر ټولو ارزښتناك توکی دی هغه پیغام دی، کله چې قران کریم نازلېده هغه مهال په عربو کې شاعري بېخي زوراخیستی و ان تر دې بریده پورې چې کله به د قران کریم یو ایت نازل شونو مشرکینو به هڅه کوله چې د هغه په وزن او قافیه باندې برابریو شعر جوړ کړي او په دې توګه به د قران شعریت ثابت او پیغمبر به شاعر وبلل شي او دغه کتاب به د خدای نه بلکې د ده له خوا د شعر یوه جوړه شوې ټولګه وبلل شي.

کله چې د(القارعه) سورة نازل شو نو یو مشرك راولاړ شو او داسې شعریې جوړ کړ چې "الفیل مالفیل وما ادراك مالفیل له خرطم طویل"

تاسې وینئ چې په پورتنیو کلیماتو کې وزن او اهنګ شته او یو شی چې نشته هغه پیغام دی، ځکه ټول لو ستونکي په دې خبر دي چې فیل څه دی؟ ته څه شي خبر کړې چې فیل څه دی؟ فیل اوږ خرطم لري. یو ځل خو که یې د قران د مقابلې خوا بېخي له پامه وغورزول شي او دې ته راشو چې په دې شعر کې نوی شی څه دی؟ نو دابه راته په ګوته شي چې دلته هېڅ داسې څه نشته چې لوستونکی ورسره لېوالتیا وښیې. پیغام په شعر کې هغه ارزښت دی چې شعر ابدي کوي او د هغه ژوندي ورپسې تړلی دی او شاعر د خلکو زړونو ته ننباسي. ویل کېږي د روم امپراطور نیرون وغوښتل چې ځان شاعر کړي، ده د خپل وخت تر ټولو ستر شاعر هومر لیدلی و چې څنګه دخلکو په زړونو کې

ځای لري. نو یې له ځانه سره وپتېله چې باید په روم کې دټرای ښار وسوځوي کېدای شي چې شاعر به شي، ځکه غمجن به شي او هغه مهالل به بیا وشعر ویلو ته بیخي جوړ وي.نیرون هماغسې وکړل لکه غوښتل چې یې دټرای ښکلی ښاریې د لمبو خوراك کړ خو دی شاعر نه شو. ابله د هغه اور د ننداري په مهال یې دا ځوکلمې له خولې راوتلې چې اې د روم خلکو ستاسې واکمن هم ستاسي په شان بې کوره شو او داسې نورې یې هم څو خبرې وکړې خو نه هغه ابدي شوې او نه هم دی پرې شاعر شو. تاسې پوهېږئ چې دا کلېمې ولې نه شعر شوې او نه ابدي شوې؟یواځنی لامل یې دا دی چې په هغوی کې پیغام نه و،او نه پکې کوم تاریخي ارزښت پروت و چې سړی یې له داسې زاویې څخه کتلای شي چې ابدیت ته یې غاړه کېږدي.

تر موږ پورې رارسېدلي شاعرۍ په غوچ ډول هغه شاعرۍ دي چې ولس ته یې پیغام لرلی. موږ که په ځانګړې توګه د پښتو ادبیاتو د لرغونې دورې د شعر په اړه پرېکړه کوو، نو ارو مرو وایو چې هغه څه چې موږ یې وینو د یوه پیغام په مټ تر موږ پورې رارسېدلي دي. د امیر کروړ شعر چې په پښتو شته اثاروکې ترټولو لرغونې بېلګه ده ولې له منځه نه ځي؟ زما په اند یواځنی لامل یې هغه مانېزه پانګه ده چې د پیغام په ډول یې خپلو لوستونکو ته رسوي.

د پښتو ادبیاتو لرغونې دوره شپږمه پېړۍ تاسې وګورئ،کله چې د مغلو بریدونه پیل کېږي بابا هوتك څه وایې:

په سورغر بل راته نن اور دی

وګړیه جوړ راته پیغور دی

په کلي کورباندې مغل راغی

هم په غزني هم په کابل راغی

تر پایه پورې...

له دې ټول خبرو څخه سړی دې پایلې ته رسېږي چې د شعر ابدیت په یوه پیغام پسې تړاو لري. بابا هوتك چې کله په اصطلاح د مقاومت د ادبیاتو بنسټ اېښود په همدغه شعریې پیل کړ او خپل شازلمي یې د مغلو په وړاندې مقاومت ته وهڅول.د سحرد شعر تر ټولو ستره ښکلا هم په دې کې ده چې هربیت یې ځانته پیغام لري،ټولنیز پیغام،انساني پیغام،سیاسي پیغام او نور...

یتیم ماښام پورې په خاورو کې لوبېږي وایې:

یواځې نه ځمه خپل کور ته بابا وروسته راځي

دوی وایې وکړئ ګوزاره له ښامارانو سره

د بر زورور دي، کوه طور نه امسا وروسته راځي

پاس سپوږمۍ...۳-۴مخ

هنداري ټولې ماتې کړي څو کاڼي دلته پرېږدي

یو څو لیونیان ووځي یو څو بېرته ښار ته راشي

په کور کې څراغ نه لري چې کښیني یې رڼا ته

چې توره شپه خوره شي سحرځکه یار ته راشي

پورتنی کتاب ۱مخ

امان الله! ستا غوندې نه دی چې به غم خوري زموږ

بس ګوزاره کوي، ژوندی دی، پاچا هېڅ نه وایي

پورتنی کتاب ۱۸مخ

سپېنزوا يو له هغو فيلوسوفانو څخه و چې په ژوند او ژواك کې يې سول ته بشپړواك ورکاو، دغه مکتب چې سول ته بشپړ واك ورکوي د Rationalism په نوم يادېږي. سپيوزا پخپل يوه نامتو اثر کې چې "اخلاق" نومېږي خپل فلسفي، الهي، او اخلاقي افکار په دې ډول راوړي دي چې درست هندسي قضيو ته ورته دي،په دې ډول چې لومړی يې بحث تعريف کړی وي،وروسته حکم ورته راوړي او بيا برهان وايې.

په زړه پورې او د پام وړخبره دا ده چې د سحرپه شاعرۍ کې دې ته ورته قضيې بيخي زياتې راغلې دي په ځانګړي ډول په ازادو شعرونو کې چې دا کار زه د سحر د شاعرۍ له ځانګړنو څخه بولم. سحر د "باباته" په نوم يو ازاد شعر لري:

بابا ته !

بابا موږ ستا لاره بيا وپالله

موږه هم ستا په لاره ګام ايښی دی

موږه هم وواتو جنته ځني

په دغه فرق چې:

تا غنم وخوړل جنت نه ولاړې

موږ ستا دا ولاد له ظلمه تنګ شو

په غنم پسې د وزخ ته ولاړو

او اوس د وزخ کې په يوه ګوله مړۍ پسې

ستومانه ګرځو

پاس سپوږمۍ...۳۵مخ

موږ که چېرته پورتنی شعرتجزیه کړو نو عینا مطلب به مو لاسته راوړی وي.

سحر له ځانه سره دشعر په ژبه یو لړ داسې پوښتنې مطرح کوي چې سړی دې ته اړباسي چې فلسفې ته ولاړ شي. که څه هم دی یې ځواب هم پخپله وایې خو زما لپاره یو شمېر نورې پوښتنې ترې راولاړېږي او دا ځانګړتیا موږ په عین بڼه په فلسفه کې وینو دبېلګې په توګه لاندې شعرونه ګورو:

که ښکلې نه وای

که ښکلې نه وای

زموږ ژوند به څه و

په څه امید به موږه ژوند کولو

په کومه هیله به ژوندي پاتې وو.

که ښکلې نه وای

لمر به څومره یخ و

لمر به تیاره و

اوسپوږمۍ به نه وه.

که ښکلي نه وای

نو په بڼ کې سرو غوټو به څنګه

داسې موسکا کوله

اوسره ګلونه بهٔ په څه غوړېدل

د لمر ګلونو به نوکوم پلوته

داسې په ځیر- ځیر کتل

که ښکلې نه وای

دا اسمان به په دې ښکلو ستورو

تر دې لا هم مغرور و

ځکه هغه وخت به یوائې اسمان ستوري لرل

که ښکلې نه وای

دا جګرې به تر دې هم ګرمې وې

دهر چا زړه کې به د کرکې اور و

د هر چا زړه به له ژوندونه تور و

که ښکلې نه وای

نو د شعر پري به

له کومه لوري الهامونه راوړل ؟

که ښکلې نه وای

زموږ ژوند به څه و؟

په کوم امید به موږ ژوندي پاتې و؟

پاس سپوږمۍ...۵-۶مخ

یا لاندنی شعر

يم کمزوری له تا لېرې ځم انسانه

اوس مې زړه د چا لپاره نه درزيږي

اوس د چا له غمه وېښ درسته شپه نه يم

اوس د چا په انتظار کې ستړی نه يم

اوس ژړاوې راته مکرغوندې ښکاري

اوس خندا د جلادانو وروستی قهر

بې اثره اوس خبرې راته ښکاري

اوس مې زړه د چا ښکلا لړزوی نه شي

په کې ((خو)) له ډېره لېرې راته ښکاري

اوس بې غمه سترګې پټې کړم ويده شم

تر سهاره هېڅ څوك نه راځي په خوب کې

×××××

په ما څه که د بلبلو اوښکې څاڅي

په ما څه که مرغۍ ګرځي بې وزرو

په ماڅه که مير دزانو يې وژلی

په ما څه که الوت نشته د کوترو

له ښکاري سره اوس زه په يو نظر يم

زرکې ښکلې نه دي غوښې يې خوږې دي

زه خوځمه لنډه لاره لټومه

زما څه که لارې شنې، که تکې سرې دي

په ما څه که له بوډۍ ده لاره ورکه

په ما څه بودا ولویده په ځمکه

په ما څه که یې امسا ترې اوړکو یوړه

څه خبر یم پر چا ولویدله ټکه

په ما څه که د سوالګر کچکول لویدلی

په ما څه که رویو سپیو دی داړلی

احساسات دې رانه لیرې تښتیدلي

عواطف مې له خپل ذهن نه مینځلي

اوس غمونه مصنوعي راته ښکاریږي

او پردۍ ټولې خوښۍ راته ښکاریږي

ښاپیریانې له دیوانو سره ناځي

فرښتې ابلیس ته وایې راته ګرانه

اوس پر هیچا اعتبار کولای نه شم

زه یم نوی راستون شوی له خپل ځانه

د افکارو په ځنګله کې لاره باسم

یم کمزوری له تا لیري ځم انسانه

اوس مې زړه لکه چې نشته خبر نه یم

او که وي ټوټې ټوټې به چېرته پروت وي

تايې وانه وريد اواز د ماتېدلو

ستا وروستۍ خبرې دومره اثري وې.

پاس سپوږمۍ.... ۷۱مخ

په پورتنيو دواړو شعرونو کې په هنري ارزښتونو برسېره يو ډول فلسفي پوښتنې مطرح شوې دي چې ځواب هم ورته ويل شوی دی،خو د پام وړ دا ده چې سړي ته يې له لوستلو وروسته نورې پوښتنې پيدا کېږي او لکه مخته چې وويل شول دا د فلسفې يوه ځانګړنه هم ده.

افلاتون چې په خپل ژوند کې له ټر ټولو سترې مسلې سره مخ و هغه دا وه چې ايا هغه نړۍ چې انسانان يې په خپل چاپېريال کې محسوسوي واقعيت دی؟ که چېرته واقعيت وي نو بيا ولې بدلون مومي ثابته ولې نه ده؟ او که واقعيت نه وي نو دا چې شته هغه څه شی دی؟

د افلاتون لپاره دا ډېره عجبه وه چې د نړۍ په اړه ولې سم نه پوهېږي. افلاتون که پوهېده هم مګر بيا يې هم د واقعيت په اړه پوښتنې کولې.

دا پورتنيو پوښتنو ته ورته پوښتنې سحر هم په خپلو شعرونو کې مطرح کړېدي چې له پورتنيو شعرونو څخه به مو هم څرك لګولی وي.

چې دغه کار د سحر د شعر خواږه يو په دوه زيات کړي دي .

زما په اند د سحر د شعر مانيزخوځښت او ژوند له دې څخه هم سرچينه اخلي چې خپلې تجربې يې لوستونکو ته وړاندې کړې دي، يا يې د شعر ډېره برخه پخپلو تجربو باندې ولاړه ده.

ويل کېږي پخوا په لوديځ کوم هېواد کې يوه انځورګر يوه تابلو رسم کړې وه، په تابلو کې يو ماشوم ښکاريدو چې مور يې له لمنې څخه ټينګه نيولې وه او داسې ښکاريده چې مور يې ځي او دی يې نه پرېږدي. څوسوه کاله وروسته د هغه هېواد واکمن وغوښتل چې انځورګران راوغواړي او دغه تابلو را کاپي کړي.

خو چې انځورګرانو وربانديې هرڅومره زور وازمايو سره له دې چې تر پخوا يې ښه وسايل هم په لاس کې و مګر بيايې چې هر ځل به يې انځور را کاپي کړنو چې نندارچيان به راغلل بيا به يې هم هغه لومړی انځور خوښا و.

وروسته پاچا پوه شو چې په دې کار کې ارومرو يو راز نغښتی دی چې مور يې په هر څومره مدرنه توګه را کاپي کړو بيا هم خلك هغه څو سوه کلن ساده انځورخوښوي،نو له هېواده څخه يې ارواپوهان راوغوښتل چې د دې خبرې راز معلوم کړي. کله چې اروپوهان راغلل نو يې وغوښتل چې د لومړي انځور د کښونکي بکراونډ بايد ځانته معلوم کړي او له هغه وروسته نو بيا کولای شي چې په زغرده پرېکړه وکړي.

کله چې اروپوهانو د لومړي انځورګر بکراونډ وليد نو ښکاره شوه چې په ماشومتوب کې يې مور وفات شوېده او دی ترې يتيم پاتې شوی دی.

له دې سره اروپوهانو پاچاته وويل چې د دغې تابلو ترهغه پورې د کاپي کېدلو شونتيا نه لري چې څو پورې بل داسې انځورګر نه وي پيدا شوی چې په ماشومتوب کې د مور له غېږې څخه بېل شوی وي او هغه دردونه، نه وي پرې تېرشوي کوم چې په لومړي انځورګر تېرشوي وو.

سحرهم له خپلو تجربو څخه کار اخيستی دی،او د شعر ټوله تومنه يې له هغو دردونو څخه جوړه شوېده چې د ژوند په اوږدو کې ورسره مخامخ شوي دي. زما په اند د سحر د شعر ټوله ښکلا د همدغو تجربو په بنسټ ولاړه ده او دا کار د نورو لپاره هم يوښهٔ پيغام دی چې شعر که د تجربو په بنسټ وليکل شي ډېرخوندور راځي.

ځوان شاعرنذیراحمدنذیر،راته یوه ورځ کیسه کوله چې په خیال کې یې د یوه ناول کیسه جوړه کړېده خو په کیسه کې زندان،اعدام،مینه،قاچاق او داسې نورې چارې شته. ده وویل کله چې مې یوه پوه سړي ته په دې اړه خپل هوډ وښود چې دغه کیسه غواړم په ناول یې بدله کړم نو هغه ورته یوه ډېره پخه خبره کړې وه هغه دا چې ایا په ناول کې راتلونکې پېښوکې ته تجربه لرې؟ ده ورته ویلي و چې نه. نو هغه ورته ویلي و چې خپلې تجربې نه لري نو دا ناول مه لیکه ځکه ته به ښه ناول ولیکي ټول جزیات به لري خو هنریت به په کې نه وي نو د یوه اوږده ګذارش بڼه به لري، په لوستونکو به هېڅ اغېزه ونه کړي.

دا ډېره پخه خبره ده موږ وینوهر هنري اثر چې په خپلو تجربو ولاړ وي ټول ارزښتونه به یې پخپل ځای خوندي وي. زه بیا هم وایم چې د سحر د شعر ښکلا په دې کې راته ښکاري چې پخپلو تجربو باندې ولاړ دی نو بریالی هم ځکه دی.

زموږ د اوسنۍ شاعرۍ یوه ستونزه زما په اند د نفسي اشباع یا ځاني مرېښت ستونزه ده،ډېری شاعران موهڅه کوي چې داسې څه ووایې چې ډېر لوڅ وي،د دې په ځای چې ذهني یا اروایې اشباع لوستونکي ته ورپه برخه کړي. دوی ښه بولي چې نفسي اشباع ورکړي او د دې په ځای چې په دې کار سره لوستونکي له نفسي اشباع څخه برخمن شي نور هم ستومانه او نا ارامه کېږي. موږ چې کله شعر لیکو نو د اوس مهالې ستونزو په لړ کې سړی دا هم یادولای شي چې په بدهیاتو ولاړ شیان لیکو،نه استدلال ته اړتیا لرو او نه قراینو ته. که څه هم شعر که یو خیالي توکی وګڼو ښایي دا خبره به ډېره راسره ونه مني چې شعر دې استدلال ته اړتیا ولري خو په شعر کې استدلال لکه د ریاضیاتو د ثبوت لپاره نه دی بلکې لوستونکو ته د ذهني باور ورکولو او دهغوی د پام د زاویې بدلولو لپاره په تجربو ولاړ استدلال ډېر اړین دی.

خو په اوس مهاله شاعرۍ کې تر ټولو ستره چاره دا ده چې ستا ترکیبونه څنګه دي او دهغه بل څنګه دي نورهېڅ شي ته هم پاملرنه نشته.

زموږ د اوس مهالي شعر د يوې ستونزې په توګه د بازار يادونه هم کولای شو او بازارهم په غير شعوري ډول هغه څه مني چې د اروايې مړيدلو او سکون په ځای لوستونکي له لوړې او اروايې ناارامي سره مخامخ کوي.

خو د سحر شعر له دا ډول شيانو څخه بيخي پاك دی او د لوړو ارزښتونو انځورونه يې رانغاړلي دي. يو بل سکالو چې دلته بايد ورته نغوته وکړم هغه د حمزه بابا په خبره جمالياتي ذوق دی. دغه ذوق په مستقيم ډول زموږ له اروا سره اړيکي لري او موږ د دې جوګه کوي چې د فطرت او پېښې ښکلا حس کړو. جمالياتي ذوق موږ ته هغه مهال ښکاره کېږي چې يوه سړي ته عين شی ښکلی ښکاري او بل ورڅخه خوند نه شي اخيستلای.که څه هم جمالياتي ذوق په بشپړه توګه نه شم تعريفولای خو دومره ويلای شم چې دغه جمالياتي ذوق د فلسفې غوندې له اجساموڅخه د هغوی بشپړ او داسې انځور اخلي چې څنګه وي. موږ چې کله فلسفه او دهغې ارونه او بنسټيز اصول مطالعه کو نو دوه څېزه وينو:

۱- د ټولو انسانانو د تجربوهم غږي کول

۲- له ټولو انساني تجربو څخه يو بشپړانځوراخيستل. نو په دې بنسټ يو فيلوسوف بايد له انساني تجربو څخه په خپل ژوند کې يو جامع تصوير ولري.

موږ که چېرته په جمالياتي ذوق خبرې کوو،نو دا هم يوه اروايې تجربه ده او پايلې به يې له اروايې محصولاتو سره ملې وي. د سحر اروايې محصولات دهغه شعرونه دي. موږ که د سحر په شعر کې وګرځو نو ډېر ځله به په هغه کې د جمالياتي ذوق يوه داسې بېلګه ومومو چې زموږ د ادعا زبات وکړي.

خو جمالياتي ذوق داسې نه دی چې د هر چا لپاره لکه وړاندې چې هم وويل شول يو ډول به وي،سحر چې څه وايي دا اړينه نه ده چې ټول به يې منو خو دا ورڅخه ښکاري چې دی څومره پوخ جمالياتي ذوق لري.

وګورئ:

مات ستوري

وینم له تانه، لا د پرې ښکلې

د پرې سرې سپینې، د پرې آغلې

خو بې له تانه، باور پرې وکړه

نظر مې نه شي، په کومې بلې

××××

زه پروت رنځورم، تا دا مسا کړم

د مړو له ډلې، تا راجلا کړم

تا خو له سره،یو ژوندون راکړ

دغه احسان دې،څنګه ادا کړم

××××

سپوږمۍ ته لاس کړم، ستوري را شمار کړم

څو را نه مات شي،څو بند په تار کړم

دا به ستا وړ وي،او که به نه وي

په دې سوچونو،شپه راسهار کړم

××××

سهار چې ولاړ شم،د ګلو بڼ ته

څو ستا په شانې، ګلونه بېل کړم

د پرخو څاڅکي،سره راټول کړم

چې تا ته جوړترې، ښکلی امېل کړم

××××

خو لمر را تود شي، او ورك شبنم شي

وړانګي له ګله، پرخې پنا کړي

زه مې د خپلې،بې وسۍ وير کړم

لکه يتيم چې،څوك په ژړا کړي

××××

د لمر شغلونه، لاسونه تاو کړم

وايم لمرونه،ټول تا ته درکړم

خو وړانګې نه وي،هغه هم ته يې

د عشق ګلونه،ټول تا ته درکړم

پورتنی کتاب **۵۵** مخ

په دې سکالو کې لږ نورهم وړاندې ځو. موږ که د رابندرانات ټاګور "ګيت آنجلي" راګورو نو ټول به په يوه خوله ووايو چې ټاګورشهکار شعرونه ويلي دي، خو د دغو شهکارونو د پنځولو په لامل ياعلت باندې سوچ نه کوو چې ټاګور څه ډول دغه شهکارونه پنځولي دي، او په دې هم پوهېږو چې دغه کار ارومرو يو لامل لري.

په فلسفه کې موږ د علیت د اصل (لامل والي د آر) په نوم یو شی لولو او هغه موږ ته دا راښیي چې هر شی چې شتون ولري هغه به یو لامل هم لري او دا چاره موږ د ټاګور په شهکارونو کې لټوو.

ما چې ترکومه بریده پوري ټاګور مطالعه کړې دی نو یواځنی شی چې دهغه په شعرکې وینم هغه درست بشریت ته د مینې او انسایت پیغام په جمالیاتي پلوشو کې نغښتی رسوي، او زماپه اند د ټاګور تر ټولو ستر بریالیتوب هم په همدې کې و. تاسې وګورئ چې ټاګور په څه ډول سره انساني ارزښت د خدای له جلال او جمال سره غوټه کوي،د انسان په ژبه هغه جمال ته څه ډول اواز کوي او هغه ته څه ډول رنګ ورکوي.

تاسې پوهېږئ چې تر ټولو اغېزمن شی هغه څه دي چې سړی لومړی پخپله ګروهه پرې لري او ورسته یې بیا نورو ته وړاندې کوي.

که څوك د خدای په وجود او یا په نور څه باندې ګروهه نه لري نو څه فکر کوئ کله چې دغه سړی موږ ته د خدای د وجود د ثبوت په اړه خبرې کوي څومره باور به پرې وکړو او په موږ به څومره اغېزه وکړي.

دا باورونه که په هره برخه کې وي لومړی د سړي لپاره پخپله ډېر اړین دي او بیا یې باید په نورو کې اغېزې ولټوي. تاسې د سحر په شعر کې هغه څه وینې چې دی پخپله پرې باوري دی او هر څه چې یې ویلي دي د زړه له تله یې ویلي دي ځکه نو لوستونکی هم اغېزمن کوي.

دغه راز موږ د ټولو وتلو شاعرانو لیکوالانو او په ټوله کې د فیلوسوفانو په ژوند کې پټ وینو،دوی ټولو پخپل وارسره هغه څه ویلي دي چې ګروهه یې پرې درلودله.

د ښېلګې په ډول ټاګور یاد ولای شو چې ټول یې هغه څه ویلي دي چې ده پخپله ګروهه پرې درلودله.

دې ته ورته نور شاعران او پوهان هم دي. د دې خبرې يوه بله بېلګه د ابن سېنا په فلسفه کې وينو. ابن سېنا پخپل کتاب (شفا) کې د مېتافزيك په اړه ډېر په زړه پورې بحث لري. ابن سېنا د ماورالطبيعت پوهه الهي پوهه بولي داسې يوه پوهه چې يوائې د همدغې پوهې له لارې خدای پېژندل کېدای شي. هغه د دوو لاملونو په بنسټ له نورو پوهنو سره د خدای تړاو ردوي. که څه هم که دغو دوو لاملونو ته سرې لږ ځير شي نو وبهويني چې دا پخپله هم دلايلو ته اړتيا لري.

۱ - نورې پوهې که عملې وي که فزيکي او که رياضي،نه شي کولای چې د خدای په اړه څه ووايې.

۲- دی وای که خدای په مېتافزيك کې مطالعه نه شي،نو په هېڅ پوهنه کې بيا دا کار شونی نه دی.

که څه هم وروستيو پوهنو په بېلابېلو ډولونو سره د خدای شتون په زبات ورساو خو په څه شي چې ابن سېنا ګروهه درلوده همدغه شی اوس هم د ده د فلسفې د مينه والو کړۍ ورځ په ورځ پراخوي.

اوس که را شو د سحر شعر ته نو دا غېزو له مخې يې په زغرده پرېکړه کولای شو چې ده په شعر کې هغه څه ويلي دي چې دی پخپله پرې ګروهه لري او تشه تبليغاتي بڼه نه لري.

په پای کې د بېلګې او پاېلې په توګه تاسې د دغه شعر لوستلو ته رابولم او سحر ته د تر دې هم اوچت ګام د پورته کولو لپاره خپلې لپې پورته کوم.

## يوازې ستا لپاره!

له زړه مې ټولې کرکې وايستلې

اوس مې له بڼکار ځنې توبه کړېده

اوس له کاریز نه بغدادي کوترې نه کتهوم

او بس تمامه ورځ لګیا یم

په دامونو کې مرۍ پېیمه

سپینو کوترو ته پایزېب جوړوم

اوس د بې موره وري له اوښکونه

شراب جوړوم

او پرسخت زړو یې ارزانه پلورم

چې یې له زړونو کېنې کډه وکړي.

له زړه مې ټولې کرکې واېستلې

اوس مسافر په کاڼو نه ولمه

اوس ګلان نه شکوم

له لارو نه اغزي ټولوم

په لاره تلونکې ماشوم ښکل کړم

د سپین ږیري بوډا لاس ونیسم.

له زړه مې ټولې کرکې وایستلې

اوس له دښمن نه کسات نه اخلمه

اوس د غومبسو کور په خټو باندې..............نه پټهوم

په مار د کاڼي ګوزار وکړم ..................خو خطایې ولم

بس هسې ځان ترې ژغورم

هغه هم هسې درحمان د یارانې په خاطر

اوس له خوبونو مرور یم

ټوله شپه په تلاوت تېروم

او د قران زرینو پاڼو کې ..................یو نوم لټوم.

له زړه مې ټولې کرکې وایستلې

اوس مې ټوپك پراوړه نشته

او له میل نه یې شپېلۍ جوړه ده

په کې د مینې ترانې غږوم

دا ټول دا ستا لپاره

ځکه دوی وایې:

په جنت کې حورې ستاغوندې دي

پاس سپوږمۍ.....۲۴-۲۵مخونه

همیم جلالزی

غزنی

## د میني شاعــــــــر

علم ګل سحر هغه روڼ سحر ته ورته دی چې د ژوند د امیدونو ډیوې یې د لمرد وړانګو په لاسونو کې نیولې وي او د میني لار پرې روښوي. سحر فطرتاً شاعردی او شاعري یې په ختمه کې اغږل شوې ده. د سحر شاعري او شخصیت لازم او ملظوم دي.څرنګه یې چې شعر له تصنع پاك، له بې ځایه مبالغو نه مبرا او د بې مفهومه سمبولونو په دام کې نه دی نښتی، داسې یې شخصیت هم سپیڅلی دی، په ناسته ولاړه کې یې تصنع نه لیدل کیږي. بس د خپل شعر مجسم تصویر دی.

پورتنی پراګراف هغه کلیشه یي خبرې دي چې هرلیکوال یې د هرشاعر په شعرونو لیکي او په کار ده چې ولیکل شي خو په هغه صورت کې چې شاعر یې وړتیا ولري.او سحرصاحب دا وړتیا لري.هغه تل هڅه کوي چې په شعر کې نوښت رامنځته کړي،په روایایتي او سولیدلو خیالونو خپل وخت نه ضایع کوي. شعر کم مګر ښه لیکي.

په سور سپین مخ او ګلابي شونډو له پاسه یې تك توربریت داسې مزه کوي لکه بورا چې د ګلاب په ګل ناست وي. پراخه تنده لري. خوله یې تل له خندا ډکه وي. کله هم ما د غوسې په حال کې نه دی لیدلی. زموږ د یارانو له جملې څخه یې یوازې نورمحمد لاهو د دنګې ونې سره سیالي کولی شي. د پریمانه مطالعې خاوند دی مطالعه یې هضم کړې ده او پریمانه مالومات یې لاس ته راوړي دي. خو کله چې دا مالومات د خبرو له لارې مخ په مخ تر ما او تا رارسوي، نو خبره یې په ژولو دومره ځپلې وي چې د مطلب لاس او پښې یې ورماتې کړي وي. خو بیا چې دا مالومات د قلم له نوکي نولي،دومره په تول پوره وي چې لوستونکی ګوته په غاښ کړي.

په ختمه پښتون دی او په سوچه او خوږه پښتو ژبه خبرې کوي.پښتو او پښتنې روایات ورته تر هر څه مقدم دي. په یوې خبرې ولاړ سړی دی او دومره ولاړ وي چې میدان پریږدي خوخپله خبره نه پریږدي. په شعر کې یې شعریت او

تغزل نـه دومـره پريمانـه دی چې د بنـده پـرې د پيرمحمـد كـاروان او درويـش دراني د شعرتنده ماته شي او نه دومره له شعريت او تغزله پريوتی دی لكه . . . . . شعرونه. بس د عصر په ژوندو شاعرانو كې يې ځان ته ځای موندلی دی. غزلې يې ساده، روانې، په تـول پـوره او د موسـيقۍ د پـردو خويندې دي. د خيال اوډون يې په ډېر هنرمندۍ سره كړی دی. آزاد شعرونه يې د خيال د تسلسل موزونې كړۍ دي چې د لنډې كيسې تنده پرې د سرې ماتيږي. او هرشعر يې سپيڅلی پيغام لري. له شعرونو پرته لنډې كيسې هم ليكي او ښې يې ليكي. د كيسو بنيادي خيال يې د پښتنو د بدبختيو، بدمرغيواو د افغانستان د پنځه ويشت كلنې غميزې نه سرچينه اخلي. په پيښور كې يې د بي بي سي راډيو د نوي كور نوي ژوند د ډرامې د ليكوالو په ډله كې ډېر كلونه كار كړی او په سلګونو صحنې يې ليكلي دي. اوس د ازادۍ راډيو سره د پښتو فلكلور په برخه كې پروګرامونه جوړوي او تقريباً هره اونۍ د بي بي سي دفتر ته په ليكوالانو پسې راځي او د خپل پروګرام د غنامندۍ له پاره قوي دليلونه په فري كهاته كې راټولوي. بس په ټولو يارانو يې زور رسيږي ماته خو كله كله وايي كې په دې فلانۍ موضوع راته داسې داسې ووايي نو ډېره به ښه وي. بس داسې يې وبولئ لكه وزرماتي باز ته چې زمری په مخ كې ودريږي او په پټو سترګو پرې هغه څه ومني چې د زمري خوښه وي.

دا وه د پيښوريانو په اصطلاح د علم ګل سحر خاكه اوس به دې خبرې ته راشو چې علم ګل سحر شاعر دی او په ټوله مانا د مينې شاعر دی، د شاعرۍ ايډيل يې مينه ده.مينه يې يوازې د ځان له پاره نه ده خوښه بلكې په ټوله دنيا يې مينه لوريږي. مينه خپل شعار ګڼي او له كركې يې بد راځي. په مينه كې ماته مني خو د مينې هوډ له لاسه نه وركوي. دی دومره د مينې پلوي دی چې د خپل محبوب ناكردې په دې خاطر له خلكو پټې ساتي چې ګوندې ټوله دنيا كركه نه شي.

هسې نه ټوله دنيا كركه شي، كينې خورې شي

چا ته مې ستا د ناكردو خبره نه ده كړې

په پښتني رواياتو کې دا خبره له پيړيو نه راروانه ده چې وايي " "پښتون سړی دی" پښتو يې راسره وکړه "يا دا چې ته خو بيخي په پښتو نه پوهيږې" د پښتو په لاره نه يې تير شوی. دا او دې ته ورته په لسګونو انځوريزې جملې موندلای شو چې پښتو د تکلم نه راباسي او د يوه منلي او غښتلي قانون اړخ ته د بنده پام ور اړوي.

سحرصاحب هم د خپلو رواياتو په پام کې نيولو سره پښتو ژبه يوازې د تکلم ژبه نه ګڼي. په خپل شعر کې داسې يو سپيڅلي قانون ته هم اشاره کوي چې ټول پښتانه او پر پښتني رواياتو او اقدارو مين ورته عقيدت لري. تر دې چې د خپلې محبوبې په اقرار په دې خاطر بې باوره دی چې لا يې ورته په پښتو نه دي ويلي:

ورته حيران يمه باور يې اوس په مينه وکړم!

لاخو يې ماته په پښتو خبره نه ده کړې

خو زما په ګډون به بلا شاعران د خاطر افريدي د دې بيت پلويان وي چې:

ستا په ژبه باندې هره ژبه خوند کړي

يا آشنا يا پيښوری يا کابلی شه

او کله خو سحرصاحب بيا په مينه کې دومره غرق لاړ شي چې هر څه ورته د خپل محبوب له لوري ښکاري او دومره په خپله مينه باوري شي چې په تياره کې ورته د رڼا څړيکه او په سپوږمۍ کې ورته ځلا د خپل محبوب له نوره بريښي.

تيارو کې څړيکه د رڼا وه، ما وی ته يې هغه

سپوږمۍ کې پاتې څه ځلا وه، ما وی ته يې هغه

سحرصاحب له غزله پرته په آزادو شعرونو کې هم خپله لاره نه ده بدله کړې. په آزادو شعرونو کې يې هم له کرکې سره په جنګ کې د مينې توره او ډال را اخيستي دي او د خپل محبوب په لور پرې په برياليتوب سره لاره وهي.

راځۍ چې د یوه آزاد شعرمحتواته یې لږ تم شو او وګورو چې د کرکې پر ضد د مینې وسله څومره په خلاص مټ چلوي.

د "یوازې ستا لپاره" آزاد شعر کې یې له زړه ټولې کینې ایستلي دي. له ښکار نه یې توبه کړې ده، د کاریز له غاړې بغدادۍ کوترې نه شړي، ټوله ورځ مرۍ پیي او کوترو ته ترې پایزیبونه جوړوي، د بې موره وري له اوښکو شراب جوړوي او په سخت زړو یې ارزانه پلوري،مسافر په کاڼو نه ولي، ګلان نه شکوي، له لارې ازغي ټولوي، ماشومان ښکلوي او د سپین ږیری بوډا له لاسه نیسي، له دښمن نه هم کسات نه اخلي، د غومبسو ځالې په ختو نه پټوي، حتی په مار هم خطا وار کوي، ټوله شپه تلاوت کوي، د قرآن زرینې پاڼې د یو نوم په خاطر اړوي، د ټوپك له میل نه یې شپیلۍ جوړه ده او د مینې ترانې په کې غږوي.

سحرصاحب په دې ښکلي آزاد شعر کې هغه تنکي زلمي ته ورته ښکاري چې د زلمیتوب د مستۍ په دوره کې له آزاري کارونو خوند اخلي خو دی له هماغه وخته له ازاري کارونو توبه کوي او عاطفې ته مخه کوي. تر دې چې له دښمن نه کسات نه اخلي او په مار چې ګوزار کوي نو هم خطا یې کوي.

سحرصاحب یوازې په شعر کې له مینې کار نه اخلي بلکې ژوند یې هم له مینې ډك دی. موږ د رشاد بابا له جنازې سره کندهار ته تللي وو. کله چې ټول مراسم پای ته ورسیدل او په بله ورځ یې کابل ته راستنیدو، نو موږ سره په موټر کې سحر صاحب هم ملګری و. کله چې د غزني ولایت ښار ته راورسیدو نو سحر صاحب وویل چې که خوښه مو وي چې د غزني د ښار یوه دوره وکړو. اول رحمان رودوال چې د موټر جلب ته ناست و وویل:

"ډیره ښه خبره ده د زیارتونو ښار دی لیدل یې په کار دي. " زما د زړه پریکړه شوې وه نو ځکه مې ځان غلی ونیو.سحر صاحب د موټر په مخ کې سیټ کې ناست و. موږ په ښار کې ولیدل چې د چا به هم په سحر صاحب سترګې ولګیدې نو ضرور به یې لاس پورته کاوه او د پاتې کیدو اشاره به یې کوله. ما د سحر صاحب نه پوښتلي وو چې:

**و الکه سحره! ته خو زرمتی یې دا غزنیوال درته څنګه دوه لاسي سلامونه کوي.**

سحرصاحب زما غوږ ته خوله رانیږدې کړه او ویې ویل:

"زه په اصطلاح په توره دوره کې دلته چارواکی وم."

ما ویل د تورې دورې چارواکي خو خلك په کاڼو ولي دا تا ته څنګه خلك دوه لاسي سلامونه کوي؟

ویلي یې وو:

"ما د د واك په وخت کې له خلکو سره ډېره ښه ګوزاره کړې ده، تل مې د خلکو د ستونزو د هوارۍ کوښښ کړی دی او هیچا ته مې آزار نه دی ورکړی، تردې چې له ښاریانو سره مې د چارواکو د زور زیاتي مخه هم نیولې. خو ما ورته ویلي وو چې دا ستا کمال نه دی. دا ستا په زړه کې د هغه با درده او حساس شاعر کمال دی چې علم ګل یې سحر کړی دی او د مینې په مقدس مزي یې تړلی دی.

سحرصاحب د دې دومره مینې او عاطفې سره سره د چا خبره په دماغو کې د ضد یوه وسله هم ګرځوي او تر ډېره یې پالي هم. دا خبره ځکه کوم، کله چې د بابرزي صاحب په کوښښونو او د احسان الله کاموال د مینې له برکته موږ د یار موسسه کې د بهیرغونډې پیلولې،نو د دواړو غونډو "بهیر" او "رشاد کره کتنې" د شتون له نادریو وروسته په دې خبره رضا شوو چې باید یو قوي کاري ټیم ولرو چې چارې په ښه توګه پر مخ بوزو. علم ګل سحر د دواړو غونډو اداره چې وټاکل شو. په دې تشکیلاتي غونډه کې زموږ یو بل بهیروال عبدالهادي هادي نه و او د چا وریام شوی هم نه و. خدایزده له علم ګل سحر سره یې څه نادرۍ د غونډې د پریکړې پر سر راغلې وې چې پوره شپږ میاشتې سحرصاحب غونډو ته را نه غلو او یو کال یې هادي صاحب له غونډو نه لیرې وساته. دا خو دې د بهیروالو او رشاد کره کتنې د یارانو کورونه ودان وي چې د اروابناد ننګیال یاد یې تازه کړ او د هادي جان ستریې ورمات کړ.

یادونه: دا لیکنه د علم ګل سحر د کتاب "پاس سپوږمۍ ده لاندې ته یې" په مخکتنه کې اورول شوې دې

بازمحمد عابد

## سحـــر او تصويرونه

سحرصاحب ته هسې غټ تندی او ښه اخلاق ورکړي دي چې نيک اخلاق د سړيتوب ښښه ده راځم د سحرصاحب شعر ته ګرچې زما لپاره به ګرانه وي چې د سحر په شعر ارزونه وکړم ځکه ارزونې د حرفوي ليکوالو کار دی او زه حرفوي ليکوال نه يم خو ما د څو خبرو لپاره د سحر د پار يال د خوبونو ټولګه انتخاب کړه.

① کابل چې د افغانستان پلازه مينه ده او په هر افغان ګران دی خو سحر ورباندې عاشق دی ګرچې شعر د مينې دوهم نوم دی او بې مينې شعر نه ليکل کيږي او که څوك يې د زړه په زور وليکي نو بې خونده به وي لکه زما شعر که څوك او د سحر شعر مطالعه کړي نو حتمي وايې چې سحر په کابل کې خاپوړې کړي دي نو له دې نه څرګنديږي چې په سحرخپل وطن ډيرګران دی حال دا چې وطن په کموکسانو ګران دی.

② پار يال اوسريزې:

په پار يال باندې درې تنو سريزې ليکلي دي چې ښاغلي پسرلي صاحب پرې د کارخبرې ليکلې دي،ځکه سريزې هرسړي ته څوك نه ليکی ګرچې ځنې ليکوال ډيرسخيان وي د چا خوا نه بدوي هرچا چې کتاب ورکړ يو څه پرې ليکي که د کارخبرې يې ونده نه کړې نو دوخت نه په ګټې اخيستو سره د خپل زړه ناويلې خبرې خو خامخا ليکي او ځينې ليکوالان خو دومره بخيل دي چې سريزه د نبوت مهر بولي چاته يې وړيا تر هغې نه ورکوي چې ترڅو په کړۍ کې شامل نه شې لکه....

③ د پار يال خوبونه ـ شعرى ټولګه چې په هغې کې د سحرصاحب غزلې او نظمونه چاپ شوي دي سحر په کې ښکلی شاعري کړې ده،د خيال نيلی يې په خلاص مټ په کې ځغلولی دی.

د سحرصاحب د شعرموضوع له اړخه ډیرغني دی د دیرش کلنې غمیزې نه نیولې د یتیم تر اوښکو وکونډو ساندو نه ټولي تولنیزی نا خوالې په کې بیان شوې دي اوهرلوستونکی په کږ د خپل زړه دردونه موندلی شي نو ویلی شم چې سحر ډیر زړور انسان دی ځکه نیوکه دهر بې زړه کار نه دی.

بله په زړه پورې خبره دا ده چې سحر په دې ټولګه کې تولې نیوکې کړې دي د ټولنیزو چارو نه نیولی تر سیاسي چارو پورې خو په ډیرماهرانه اوظریف انداز یې دا کار کړی دی د سولې په خاطر یې هرسړې ته لاس غځولی دی اوهرانسان ته یې د دې عالي ارمان د پوره کیدو لپاره لمن نیولې خو لاس یې تورې ته نه دی اوږد کړی؟

لکه دا بیت (۱) لومړی مخ .

د جادوګرو ښاماران د ښکلا زړه را کاږي

له کومې خوا به د موسا اسا راویښه نه شي

نو زه سحر ته زیری ورکوم چې د موسی میراث پښتنو ته رسیدلی دی د زمانې دا ښاماران به هم دلته سر وخوري یا دا بیت چې د یو کتاب خبرو څرګندونه کوي، دریم مخ (۱).

تشې رڼا ته د سپوږمۍ یې پټ دیدن کومه

په زړه کږ خدای،خدای یادوم چې دا راویښه نه شی

رښتیا هم په بوره شپه کې د سپوږمۍ رڼا ته د یار په پټه دیدن ښکلی تصویر دی.

اود پښتنو مینې او دیدنونه خوهسې هم دغلا کار دی خدای،خدای کوی چې په څنه پورې یې مرمۍ ونښلي یا دا بیت ،پنځم مخ.

ګل دوړمو په اسویلي په ځي

ګودرمو تږی په منګي پسې ځي

پروسږ شونه مرور تللی وو

د کلي پیغلې په سپرلي پسې ځي

پـه تضـادو مفـاهمو پـه شعرکې د کلمـاتو کـارول ښـکلی تصـویر جـوړوی پخـوا بـه منګـي پـه ګـودر پسـې تلـل خـود وخـت ناتـار ګـودرونـه وچ کـړل ،اوس ګودرونه په منګي پسې ځي.

یا دا بیتونه:

د خپلو لاس تړلي د پردو لاسونه سره دي

کوربه په خوب ویده د میلمنو لاسونه سره دي

بس دلته بهارونو له خزانه رنګ اخستی

زموږ د باغ په وینو دوړمو لاسونه سره دي

پـورتني بیتونـه واقعـاً عـالی پیغـام لـري اود اوسـنیو خـالاتو تـر تولـو ښـه ترجماني کوي.

یا دا بیتونه:

زما د زړه د څانګې سپینه مرغۍ

نن ستا د سترګو په بام شپې تیروي

نــظر د ښــکلو د ښوګوتو کې

لــکه بادار او غـلام شــپې تیروي

په پورتنیو بیتونو کې بانه د غشو پر خلاف د بام سره تشبه شوي دي چې نوې او ښکلې خبره ده ،خو په دوهم بیت کې مینه ،حسن او روان حالات په ډیرظریفانه اندازسره تړل شوي دي،او ښکلی تصویریې جوړ کړی دی چې داسې بیلګې د سحرصاحب په شعرونو کې ډیرې دي خو دوره به کفایت کوی،ځکه د وخت په پام کې ساتل هم په کال دی خو یوه خبره چې له یاره مې ونه وځي هغه دا چې د سحر صاحب نثری لیکنې هم ښې دي خوشعرته یې نه رسیږي نوپه نثر دې غزل نه خوښې کوي،ځکه هغه عناصر چې د هنري شعرد لیکلو لپاره پکاریږی لکه هنر ښکلي لفظونه ښه تصویرونه عالي پیغام دا ټول د سحر په شعر کې شته دی خو راځم څونیمګړتیاوته اشاره کوم:

(۱) د استاد تحریك یا د دې پخیر وي که هغه وای نو حتمي یې دا خبره کوله چې په دې شعری ټولګه کې د یاګانو خبره راته جړه ښکاري د تحریك یاد دې ژوندی وي دا ستونزه شته دي.

(۲) نه پوهیږم چې سحر صاحب لهجه به هم داسې وې اوکه دا به کمپیوتري غلطي وي لکه د شپیتم مخ دابیت:

زموږ ماضي په وینو رنګ دی حال مو څه پوښتې نور

له زمانشاه څخه ئې سترګې بیا خپل ورونه باسي

چې داسې کارونې ډیرې دي.

(۳) په ځینو بیتونو کې دوه ترکیبه کلیماتو نه له قافیې لپاره کار اخستی دی لکه د وړانګي دوه کلیمه یې ترکیب یې د بیت روح ده یې ځان رسولی دی ځکه په دي ترکیب کې د غږحرکت ډیرخفیفه دی خبرې نورې نه اوږدوم خدای دې وکړي چې د سحر ژوند تل سحروی.

په درنښت

شمس الدین شمس

## "د ډيرو کلونو خبره" په کيسه انتقادي نظر

يو وخت په کلي کې اوسيدم، هغه وخت مې لاڅه نه ليکل، خو د کيسو له لوستلو سره مې جوړه وه، کليوال ژوند و، چاپي مطبوعات کم پيدا کيدل، ليکوالان مې هم نه وو ليدلي،خو ځيني مې په غياب کې پيژندل او د هغوی لنډې کيسې مې خوښيدلې، په دوی کې يو ښاغلی علم ګل سحر و. د سحر صاحب لنډې کيسې ښې راباندي لګيدې، له لوستلو مې خوند اخيست او په ډيرو کيسو کې يې يو ژور درد پروت و.

ده په روانه ژبه کيسې ليکلې، په ليکنو کې يې مانا پرته وه، يو هدف پکې نغښتی و او لوستونکی يي د کيسو له لوستلو وروسته هم فکر کولو ته هڅاوه.

د سحرصاحب اوسنی کيسې هم همداسي دي، يا نوي موضوع را اخلي او يا هم په زړه موضوع له يوې نوې زاويې داسي څه ليکي چې لوستونکو ته په زړه پوري وي، دا د کامياب ليکوال يوه نښه ده.

"د ډيرو کلونو خبره" نومي لنډه کيسه هم يو خوند لري، زه د دې کيسې په نورو اړخونو څه نه وايم،يواځې د ځينو کلماتو،جملو او فعلونو په اړه لنډې خبرې لرم.

په عمومي توګه د کيسې نثر،خوږ،ساده او روان دی،خو په لنډو فاصلو کې د يو رنګه کلماتو او فعلونو کارول ښه نه راځي، دلته که ټولو ټکو ته اشاره وکړو خبرې به اوږدې شي،غواړم چې په دې کيسه کې د نمونې په ډول څو لنډې جملې او کلمات را واخلم.

په لومړيو دوو پاراګرافونو کې دوه ځايه ليکل شويدي "قلم يې راواخيست" "کاغذ يې راواخيست."

په دومره لنډه فاصله کې دوه ځایه د "راواخیست" کلیمه ښه نه راځي، که یو ځل "راواخیست" لیکو، دوهم ځل باید په یو ه بله کلیمه یا فعل پسې وګرځو،مثلا "کاغذ ته یې لاس کړ."

یا دې ته هم اړتیا نه شته، مستقیما په لنډه توګه، پرته له دې چې دوهم ځل د راواخیست فعل و کاروو، لیکلی شو "کاغذ یې په لاسونو کې وچړموړه"

بل ځای داسي لیکل شویدي " تر لیکلو کرښو لاندې یې هسې ګډې وډې کرښې و ایستلې، د کرښو تر څنګ یې یوه غټه سترګه انځور کړه..."

په لنډه فاصله کې درې ځایه د" کرښې" کلیمه راغلی دی.

دلته که یوځای کرښه لیکو، بل ځای لیکه ښه راځي، دریم ټکي ته هیڅ ضرورت نه پیدا کیږي.

"د کرښو تر څنګ یې یوه غټه سترګه انځور کړه" که داسي ولیکو "ترڅنګ یې یوه غټه سترګه انځور کړه" هماغه مانا ورکوي." خپله د " څنګ " توری، هماغه د " کرښې ترڅنګ راښیې.

بله جمله:

" کتابچه یې له نورو کتابونو سره په پلاستیکي پاکټ کې کېښوده او په هغه څوکۍ کې یې کېښوده چې څو شیبې مخکې نصیر ناست و... "

دلته د لومړي "په پاکټ کې کېښوده " پرځای "په پاکټ کې واچوله" ښه راځي، په دې توګه به مو په لنډه فاصه کې دوه ځایه د "کیښوده" کلیمه نه وي کارولې.

بل ځای لیکل شوي دي "یو ځل بیا د نصیر سترګو ته ځیره شوه، دومره ورته ځیره شوه..."

دلته که لومړی ( وکتل ) راشي، له يورنګه والي څخه يې ژغوري.

بل ځای: "فريبا تر پښو لاندې ځمکې ته کتل، تر ژبه لاندې يې وويل..."

دوه ځله د لاندې کليمه راغلې، " فريبا تر پښو لاندې ځمکې ته کتل" دلته د لاندي ټکی اضافه دی،که ساده وليکو" فريبا ځمکې ته کتل " هماغه مفهوم لري، که فريبا پر ځمکه پل ايښی وي، بيا څنګه تر پښو لاندي ځمکې ته ګوري.

بله جمله: "ډيره ډيره مننه،د تابلو او کتابچې په خاطر ځانته مننه کوم."

که يو ځای مننه ليکو، بل ځای د مننې پر ځای کوم بل توری کارولی شو." کور ودان ،ژوندی اوسې يا داسي نور"

بل ځای "فريبا يې لاس په لاس کې ونيو" که وليکو "فريبا يې لاس ونيو" هماغه مانا او هماغه تصوير لري.ځکه نيول د لاس په واسطه تر سره کيږي.

بله جمله "د مريم ښکليو سترګو ته يې وکتل، هغې هم ورته وکتل..." که وليکو "هغې هم سترګې ور واړولې" نو په لنډه فاصله کې به دوه ځايه د "وکتل " ټکی نه وي راغلی.

بل ځای "نورهم انځور ته نږدې شو، ښه ورته ځير شو"

داسي ليکلی شو" نور هم انځور ته نږدې شو، په ځير يې ورته وکتل" په دې توګه يو ځای د " شو" ټکی کمې دی شي.

په کيسه کې داسې ډيرې يو رنګه کليمې شته چې په لنډو فاصلو کې سره راغلې دي، دا په مفهوم او مانا کې کوم بدلون نه راولي، ټولو ته د پوهاوي ورډي او د عادي لوستونکو دومره پام هم نه وراوړي، خو توري او کلمات د خښتو په څير دي، که په يوه ديوال کې يوه خښته راوتلي وي او ياهم په خپل مناسب ځای نه وي ايښودل شوي، ټول ديوال ښه نه

ښکاري،ځکه نو په هره ليکنه کې د تورو او کلماتو انتخاب او مناسب ځای ته دقت په کاردی.

پښتو يوه غني ژبه ده،يوه شي ته ډير کلمات لرو، په مختلفو نومونو يې يادولی شو، دا نوموه دومره ګنګ هم نه دي، ټول پرې پوهيدای شي، نو ځکه جمله بندي او د کلماتو کارولو ته بايد پام وکړو.

که يو ځای ليکو "راته ويي کتل" بل ځای "سترګې يې راواړولې" ښه راځي، "مخ يې راواړاوه" هم همدا مانا ورکوي.

په يوه کيسه کې مې ولوستل: " انځرګل ځوان و، د پلار يو زوی و او له رنګه ښايسته و."

درې ځايه په لنډه فاصله کې د " و" ټکی راغلی دی. کيدای شي داسې يې وليکو:

انځرګل ځوان و،پلار يې همدا يو زوی درلود، له رنګه ښايسته ښکاريده.

يا نورې جملې،خو شرط يې دا دی چې په لنډو فاصلو کې يورنګه توري او کلماتو را نه وړو،ځکه د ژبې خوند ته زيان رسولای شي.نظرونه مختلف دي.

نصير احمد احمدي

## سحر په یو شعر کې

مونږ ډیر شاعران او ډیر شعرونه لرو خو مونږ ښه شاعران او ښه شعرونه کم لرو.د همداسې کمو ښو شعرونو له جملې څخه د علم ګل سحر صیب یو ښکلی ازاد شعرګوتو ته راغی . بار بار مې ولوست چې څومره مې لوسته هومره یې خوند راکاوه او هومره مې نوي شیان پکې پیدا کول. دا شعر "یوازي ستا لپاره " نومیږي راځي چې د همدې شعررنګینې زینې په پوړیو د خیال او فکر په پښو په مینه مینه د شاعر تر ذهن او زړه ورشو.

**یوازي ستا لپاره!**

له زړه مې ټولې کرکې ویستلې

اوس مې له ښکار ځینې توبه کړې ده

اوس له کریزه بغدادۍ کوترې نه کټوم

او بس تمامه ورځ لګیه یم

په دامونو کې مرۍ پییمه

سپینو کوترو ته پایزیب جوړوم

او د بې موره وري له اوښکو نه شراب جوړوم

او په سخت زړو یې ارزانه پلورم

چې یې له زړونو کینې کډه وکړي

وګورئ ! شاعر په څومره هنري انداز د کرکې له تورې نړۍ د مینې او ترحم رنګینې او سپینې نړۍ ته اوړي او ټینګار کوي چې باید له زړه نه کرکه او کینه ویستل شي ځکه چې زړه د بدن پاچا دی .پاچا باید پاك، سپیڅلی،عدل او مینه ناك وي که کرکه په زړونو مسلطه شي نو د انسانیت

ترمنځ د بدبختۍ دیوالونه ودرولی شي چې انسانیت ته یې تاوان نه جبرانیدونکی وي او ښکار چې په اسلام کې هم مباح بلل شوی یانې نه ثواب لري او نه ګناه.نو مونږ باید د بشریت له مخې هم فکر وکړو چې ولې ښکار کوو؟ ولې کوترې،هوسۍ او داسې نور... وژنو؟ ولې د طبیعیت ښکلاوې وژنو؟ ولې د خدای پیدا کړي مخلوق چې هغوی هم زمونږ په شان د ژوند حق لري وژنو؟ مونږ خپل هوس مړوو او خپل شوق پوره کوو خو دا نه ګورو چې دا کار زمونږ محیط او بشري محیط ته څومره تاوان اړوي؟ او د شعر په دې کړۍ کې له کریزه د بغدادیو کوترو نه کتهول او هغوی ته د دامونو په ځای په تارونو کې مرۍ پېیل استعاره هم کېدلی شي. په کلیو او باندړو کې زیاتره کریزونه ګودرونه وي چې نجونې پرې راټولې وي چې د ګودر په مفهوم باندې ټول پښتانه پوهیږي ضرور نه ده چې ډیرې خبرې پرې وکړم خو سپینو کوترو ته پایزیب جوړول. کله چې کوترې الوزي پایزیب یې په پښو کې وي په هوا کې نرۍ نرۍ شرنګا جوړیږي مونږ د نجونو په پښوکې د پایزیب خبره اوریدلې ده خو د کوترو پښوکې د پایزیب خبره ډیره نوې ده. څومره ښکلی او روان تصویرلري.عجبه سندریزه لوبه ده. او د بې موره وري له اوښکو نه شراب جوړول. دا هم استعاره کیدای شي. خو که ظاهري تصویر یې وګورو ډیرعاطفي حالات انځوروي. کله چې د یو وري مور مړه شي او وری د خوراك په وخت د یوې بلې میږې خوا ته ورځي پر هغې د مور ګومان کوي خو میږې یې بوی کوي او کله چې پرې پوی شي چې دا زما اولاد نه دی نو بیا یې په سر باندې وهي له ځان یې لرې شړي. او د فلکلوریکو راویتو له مخې هم دا خبره کیږي چې د یتیم وري له سترګو نه اوښکې څاڅي. شاید سحرصیب دا حالات لیدلی وي .شاید ده ته د یتیم وري حال د یو افغان یتیم حال ور په زړه کړی وي چې د ښار واټونو کې یا د کلیو په کوڅوخیرات غواړي یو چاته د یوې ډوډۍ په خاطر لاس غزوي او ورنږدې کیږي خو مقابل لوری د دې په ځای چې مینه او مرسته ورسره وکړي توهینوي یې او ان چې وهي یې. نو شاعردلته د بې موره وري اوښکې څمکې ته نه پریږدي له هغوی نه د مینې شراب جوړوي او د هنر په جام کې یې په ډبرزړو وړیا پلوري .

اوس مسافر په کاڼو نه ولمه

اوس ګلان نه شکوم

له لارو نه ازغي ټولوم

په لاره تلونکی ماشوم ښکل کړم

د سپین ګیري بوډا لاس ونیسم

له زړه مې ټولې کرکې ویستلې

وګورئ! ټولنیز اخلاق پکې څومره ښه انځور شوي. ځینې خلك مسافر په کاڼو ولي چې همدا حالات یو وخت په مونږ هم راغلي وو. مونږ یو څو انډیوالان د ایران له لارې دوبي ته تلو. د ایران پولیسو ونیو.مونږ به یې چې کله له یوې پولیسي تانې نه بلې تانې ته یوړو.په لاسونو کې او پښو کې به مو زولنې پرتې وې نو ځینو ایراني پولیسو او ان عوام خلکو به په کاڼو ویشتو. مونږ کوم مجریمین نه وو خو خپلې غریبې او بدبختۍ اړ کړي وو چې د ایران له لارې دوبی ته لاړشو خوري اوغریبي وکړو. او شاعر همدا انساني پیغام په خپل شعرکې راوړي وایي مسافرو ته تکلیف مه ورکوي .اوله ښکلا سره مینه له طبیعت سره مینه د شاعر ښکلا پرستي د ګل له نه شکولو څخه معلومیږي

او له لارو نه ازغي ټولول د ماشوم ښکلول یاني خپل اولاد غوندې یې ګڼل او سپین ګیري بوډا لاس نیول او هغه د خپل پلار غوندې ګڼل هغه ته احترام کول د غوره اخلاقو اوچتې بیلګې دي چې د سحرصیب په ژوند کې مونږ د داسې ښو کړنو شاهدان یو.

اوس له دوښمن نه کسات نه اخلمه

اوس دغومبسو کور په ختهه باندې نه پټهوم

په مار د کاڼي ګذار وکړم

خو خطا يې ولم

بس هسې ځان ترې ژغورم

هغه هم هسې د "رحمان" د یارانې په خاطر

اوس له خوبونو مرور یم

ټوله شپه په تلاوت تیروم

او د قران زرینو پاڼو کې یو نوم لټهوم

په مونږ کې د بدو په بدل کې ښه کول خو ډیرکم لیدل کیږي ان چې د ښو په بدل کې هم بد کوو.همداسې نو کسات یا د غچ نه اخیستل خو خپله بې غیرتي ګڼو .ځکه چې مونږ ته د انسانیت په ځای رواجونه ډیر ارزښت لري خو شاعر دلته له همدې رواجونو څخه ښکلی بغاوت کوي او انسانیت ته په پوره مانا قایلیږي وایي چې باید د کسات یا د چا بدو په مقابل باید مقابل لوري ته مینه ورکړو او ښه ورسره وکړو. ځکه چې کسات ګټهه نلري تاوان لري او مینه ده چې خدای خوشالوي او انسانان سره نږدې کوي. د ښه او خوارړه ژوند د جوړولو زمینه برابره وي.

شاعر د غومبسو د کور یادونه هم کوي چې مونږ د ماشوماتوب ښکلې دنیا ته ورګرځوي.ځکه په ټکنده غره کې د شوخو ماشومانو هم دا کار وي چې څنګه د غومبسو کورګي په ختهو وولي او غومبسې را وبهوي. خلك پرې

وچیچي. او له شوخۍ نه خوند واخلي خو شاعر د غومبسو په عذاب ول ښه کار نه ګڼي او وايي چې باید له دې کار څخه ډډه وشي او دا خبره یې څومره ښه راخیستې چې په مار د کاڼي وار کوم خو خطا یې ولم هغه هم هسې د "رحمان" د یارانې په خاطر. معمولاً په کلیو او بانډو کې نالوستي کسان د مارپه اړه یو نظر لري او یو شعر وايي

چا چې ولیدلو مار

چې پرې ویې نکړو ګذار

هغه نه دی زما یار

که څه هم دا شعر خلك په رحمان بابا پسې تړي.خو د رحمان بابا له شعري سبکه او له غزلیزې شاعرۍ جوته ښکاري چې دا د رحمان بابا شعر نه دی بلکې د کوم ولسي شاعر له خولې وتلی شعر دی. سحر صیب هم دلته د ولس له خولې غږیږي خو پیغام یې د خدای له بشر سره مینه ده .

راځی چې د شعر اخري برخه یې وشرنګوو

اوس مې ټوپك پراوړه نشته

او له میل نه یې شپیلۍ جوړه ده

پکې د مینې ترانې غږوم

دا ټول ستا لپاره!

ځکه دوی وايي

په جنت کې حوري ستا غوندې دي

ټوپك زمونږ سمبول دی مونږ د تورې او ټوپك په زور تل له خپل وطن او ناموس نه دفاع کړې ده .او تل مو د یرغلګرو په وړاندې کارولي دي خو له

دې نه هم سترګې نه شو پټوي چې ټوپك زمونږ دښمن هم دی .زمونږ بربادي له ټوپکه رواتې ده. مونږ د غصې او جنګ په وخت کې په ورور هم ټوپك چلو بل هم پرې وژنو ځان هم پرې وژنو. خو شاعر دلته ټوپك له اوږې کوزه وي او هغه ټوپك چې قتل پرې کیږي له خولې نه يې لمبې وريږي له ميل نه يې شپيلۍ جوړوي د مينې نغمې او ترانې پکې غږوي او اخر کې وايي دغه ټول ښه کارونه د ستا لپاره کوم ځکه چې دوی وايي چې جنت کې حوري ستا په شان دي .ياني دا ټول کارونه شاعرد یوچا د مينې په خاطر کوي نو که داسې يو مين د یوچا د یوې مينې په خاطر انسانيت او طبيعت ژغوري نو دا انسان دې سل ځله مين شي او د سلګونو مينو له کړکيو دې سل ځله انسانيت وژغوري.

سيدجيلاني جلان

کابل- ژوندون راډيو تلويزيون

۱۳۹۰/ تله /۸







## لاهم خارمه ستا لارې

داسې مېن غونډې يم،د کور کليانې مې هم ورکې کړلې. دا د سحرصاحب د يوه ازاد شعر دوې جملې وي.

ما چې د سحرصاحب د شعر پخوانۍ ټولګه څوکلونه پخوا لوستې وه،هلته مې فکر کاوه چې سحر صاحب يوازې سپوږمۍ ته شعرونه وايې،خو چې نوی ټولګې زما نظر بلې خواته هم وغزاوه، سحرصاحب په دې ټولګې کې دولس لپاره ډيره شاعري شوي ده.

د شاعرې دي برخې ته راګرځو خولومړی سپوږمۍ ته ورځو، سحرصاحب وايي:

څومره نژدې و- څومره ليري شوو له يو بل څخه - څومره پردۍ شوې رانه

دا شعر د سحر صاحب د تازه شاعرۍ څخه راخستل شوی و،هغه وړندې داسي نه و،

د شعرونو پريماني وه، په هغه وخت کې يوځای وايې:

مخ واړوي بل خوا، چې ما ويني

ورځ کې به يو شعر ډالۍ کوم درته

د دغه رمان د يوه غزل يو جانانه بيت داسې هم دی،چې شاعري يې د داسي يوه سافټ ويرسره تشبه کړې چې په دې پروګرام کې د سپوږمۍ غمونه ژړل کيږي، دا چې څوك داسافټ وير نه لري،شاعر خفه دي چې دوی نو ديار غم ژړلای نه شي.

دا بیت دارنګه دی.

زه دې غم خپلوشعرونو سره ژاړم

ته به څه کړې چې شاعره یاره نه یې

په دې لاندې شعر کې شاعر د مینې کولو عمرتېر نه بولي،یعنې په همدې وختوکې سړی پرلپسې ځوان پاتیږی،بل کارلا دا کوي چې د سپوږمۍ پرعمر دغه کلونه هم وراضافه کوي، په دې شعرکې د سحرصاحب خپل انداز هم پروت دی،شعر دغه دی.

دا څوکلونه مې پخپل عمر کې نه شمیرمه

پوهیږې کوم کلونه؟

هغه کلونه چې له تاسره مې مینه وکړه

هغه کلونه چې مې عقل رانه تا وړی و

هغه کلونه چې مې ذهن کې یوازې ته وې

هغه کلونه ستا د عمر په کلو زیاتوم

اوس به سحرصاحب دوهم ډول شاعرۍ ته راشو،د دې شاعرۍ لومړی شعر پاچا ته ویل شوی دی په دې شعر کې سحر صاحب ارګ ته تللی دی،ارګ یې انځورکړی دی.

لکه دارګ شان وشوکت ته چې هیښ وړوي،

سپوږمۍ ته د پاچا کیسه داسې کوي.

پاچا ورغوښتی یم

زه د ماښۍ په دروازه کې انتظار ولاړیم

پاچا عادل دی ډیر زړه سواند دی

پاچا د ټولو په درد ښه پوهیږي

خوځه کولای نه شي

خو پاچا ګرم هم نه دی

هغه نوځه پوهیږي

دا کیسه داسي اوږدیږي،سپوږمۍ یې اوري،خو کله چې په توره شپه کې له ارګ ځخه راوځي، شاوخوا حالات ګوري بیا داسي وایې:

ځراغ یې لګي ترسهاره دلته

ځوك ناروا ته ناروا نه وایې

د دي وروسته بیا نوره پښیماني هم کوی .دی وایې:

پرون مې ذهن کې افکارو مظاهره کړې وه

چې ولې ما ستا په ستایلو عجله کړې وه

په هر حال، سحرصاحب تر ټولو وړاندې شاعر دی،کلونه کلونه شاعري کوي هم د دیدن غوندي ده،هیځوك نه پری مړیږي،هر لوی شاعر د یوه بې شانه ښکلي شعر په تمه شاعري کوي.

راځئ د سحرصاحب د دغه انتظار یوه صحنه وګورو،چې سپوږمۍ ته ولاړ دی، او ژوند سره حساب کوي.

خدای پامانی سخته شیبه ده

د بدمرغیو دروازه ده

خوښي د ژوند یوه شېبه ده

دیدن د بارو پیمانه ده

نه به پرې مورشې نه به وترې بارونه.

په درنښت

جاوید اوربل


د افغانستان د نامتو شاعر او لیکوال
علم گل سحر
د اثارو د مخکتنې او ادبي خدمتونو د درناوي غونډه
Afghan PEN

## پاس سپوږمۍ ده لاندې ته يې

شعر د الهي هغه عظيمه ډالۍ ده چې هر چاته يې نه ده ورکړې او يوازې او يوازې شاعر يې په دې رنګينه ډالۍ نازولی دی.

شعرهغه څه دی چې که په ويلو يا اوريدلو يې کاڼي زره زره او نرم نه شي خو له کاڼو څخه سخت زړونه نرمولی او اوبه کولی شي.

شعرد هرقوم ژبه او کله کله توره او ډال هم کيدلی شي،شعر يو محکوم قوم دآزادي او سرلوړي مقام ته پورته کولی شي،شعر د ازادي سمبول او ناارامه زړونو ته ارام ورکولی شي.

دا چې د پښتنو په تاريخ کې له پيړيو پيړيو شعراو شاعري راروانه ده خو په دې پيړۍ کې په کومه کې چې موږ ژوند کوو ډيرو شاعرانو زوکړه کړې ده،همدارنګه داپيړۍ هم يا خو د "کاروان" په شانته د نازك خيالو او يا خو د "سحر" په څير د درديدلو او هوډمنو شاعرانو شاهده ده.

دا نن چې موږ په کومه شعري ټولګه خبرې کوو دا د يوه زړه سواند ،انسان دوست اوهروخت له کرکې نه په تيښته شاعر"علم ګل سحر" دريمه شعري ټولګه ده چې د شعر مينه والو او د پښتو ادب دغني کولو لپاره يې د خپل زړه په وينو ليکلې ده.

که څه هم په دې ښکلي نوم يعني"پاس سپوږمۍ ده لاندې ته يې" ډير څه ليکل کيږي،ځکه ډير ښکلی او په زړه پورې نوم دی او ډير ښکلي او خواږه شعرونه پکې خپاره شوي دي خو ما يې په ځينو اړخونو څه نا څه ماته او ګوډه ليکنه کړې ده هيله ده چې خوښه مو شي.

په دې ټولګه کې غزلونه،آزاد شعرونه او منظومې ډير په خوند ځای پرځای شوي دي چې هر يو يې پخپل ځای خوند او رنګ لري.

علم ګل سحر په داسې وخت شاعري کړې ده چې هغه وخت دانسان وینې او مینې ارزښت نه درلود ،خوسحر بیا هم خپله مینه د انسان او انسانیت لپاره په ډیرسخت وخت کې تر سره کړې ده.

په رښتیا هم شاعر ډیرهو ډمن او د کلك عزم خاوند دی، ده مقاومت کړی او دهیڅ توپان او کرکې پروایې نه ده کړې او ځان یې خپل محبوب ته رسولی او دزړه له کومي یې مینه ورسره کړې ده،ځکه خو په یوه غزل کې داسې وایي:

په تورتمونو او اورونو کې لاروغ پاتې یو

تر کانړې کلك یو توپانونو کې لاروغ پاتې یو

هره خوا کرکه وه کینې وې،موږ به مینه کړله

عجیبه نه ده؟ امازونو کې لاروغ پاتې یو

همدارنګه سحر صاحب چې څومره د وطن غمونو،نیستیواو کړاونو ځپلی دی خو د یوې بلې داسې بو ګنوونکې پیښې سره مخ شوی چې ترعمره به یې هیره نه شي،دا چې هرچاته خپله مور دومره ګرانه او مهربانه وي چې هیڅوك به یې قیمت او حق ادا نه کړي مور د الله ج داسې نعمت دی چې انسان ټول عمر د خوشحالیو په زانګو کې زنګوي.

نوموړی په داسې حال کې چې مور یې د خپلو ورونو او خویندو د لیدلو لپاره دهجرت چاپیریال ته تللې وه ،دی په کابل کې د چوکۍ پرسر په خونړیو تنظیمي جګړو کې ګیر پاتې شوی و،له بده مرغه په همدې وخت کې دی د مورجانې له نوم او دهغې د جار قربان څخه ابدي محروم کیږي او هم هلته په پردي وطن کې خاورو ته وسپارل شوه او څه موده وروسته نوموړی هلته میرانشا ته ورځي، د مور د مزار خړو خاورو ته د خپل زخمي زړه غوټه خلاصوي او د مور له مزار نه خدای پاماني اخلي او وایي:

...زما معصومې مهربانه مورې

زما په سردې کړاوونه ګالل

سختو شيبو ته شوم يوازې پاتې

ما په ارام د ژوند خوبونه ليدل

د مزار خاورې ښکلوم درنه ځم

تا په پردي وطن پرېږدم درنه ځم

مورې په زړه دې ارمانونه لرل

تا زما ژوند ته اميدونه لرل

زما شيبې په خوشحالۍ تيريدې

خو تا په زړه کې ډير غمونه لرل

په هيلو خاورې اړوم درنه ځم

تا په پردي وطن پرېږدم درنه ځم...

که څه هم علم ګل سحر د وخت شيطانانو ډير ځورولی دی هر وخت په خپله مينه ويرېږي او په ډيرهنر پخپل ورځني ژوند کې قدمونه پورته کوي او هروخت له خدايه خيرغواړي،د فسادګرو او هغه چانه امان غواړي چې انسان ته په سپکه ګوري او انسان په يوه او بل نوم غولوي دهغو له وينو ناوړه ګټه پورته کوي، خو دی په ډيرو ريږديدلو شنډو د خپلې مينې پرښتې ته د"رڼا تناب" په نوم شعر کې داسې نصيحت کوي:

پرښتې تا ته وايم

له خپلو ښکلو شونډو

د ولاحولو توري مه غورځوه

ابليس لباس دی

کله کله په بدل لباس کې

راشي د کرکې او ګناه تخمونه وشيندي،ځي

په لباسي خندا يې مه غوليږه

چې ولاحولو درنه هيره نه شي

آيات د مينې پخپل ځان چوف کوه

ابليس په سپين لباس کې راشي

پرښتو ته لارښوونه کوي

ابليس د مار زهر دمينې په پيالو کې راوړي...

"يوازې ستا لپاره" دا د سحر صاحب هغه شعر دی چې له خپلې مينې سره په ډير اخلاص وعده کوي،بيا هم يو ځل بيا د خپلې خوږې او انساني مينې ثبوت وړاندې کوي او داسې ښکاري چې دی د مينې لپاره د قرباني په هر ډګر کې په کلك هوډ ولاړ دی او هر هوډ او پريکړه يې ځوانمردانه ده، ځکه ژمنه کوي او په مينه کې يې زړه دومره نری او مينه ناك شي چې له ښکاره هم بې زاره وي ،سحر صاحب خپله ژمنه په داسې شکل پيل کوي :

له زړه مې ټولې کرکې وايستلې

اوس مې له ښکار ځینې توبه کړې ده

اوس له کاریز نه بغدادي کوترې نه کتهوم

او بس تمامه ورځ لګیا یم

په دامونو کې مرۍ پیایمه

سپینو کوترو ته پایزیب جوړوم

اوس دبې موره وري له اوښکو نه شراب جوړوم

او پر سخت زړو یې ارزانه پلورم

چې یې له زړونو کینې کډه وکړي...

که څه هم په سحر خپل جانان ډیر ګران دی خو په څنګ کې یې ایمان او وطن هم ورسره تړلی دی ،دا چې ځان،ایمان او وطن رښتیا هم سره تړلي دي خو ډیر خلك موږ ولیدل چې په دې درې واړو یې سوداوې وکړې او کوي یې.

خو دا چې شاعران پاك او نرم زړونه لري هروخت مینه غواړي ،د انسان حق غواړي هر وخت پخپلو او د قوم په ورکو پسې ګرځي ،دلته سحر صاحب خپلې مینې ته د زړه له کومې په ډیر اخلاص خپله مینه داسې اظهاروي :

څومره ډیر مې خپل جانان راباندې ګران دی

لکه ځان لکه ایمان راباندې ګران دی

لکه خپله خوږه ژبه راته ګرانه

لکه ګران افغانستان راباندې ګران دی

کله، کله سحرد ماضي په طرف هم مخ وراړوي او د تنکۍ ځواني او تاندې مينې په يادولو خپل زخمي زړه ټکوروي. د سحر صاحب يوه ښکلي نظم ته تم کيږو چې د ښکلا او مينې د خاطرو ښکلې تابلو ده:

لکه چې ستانه هير دي

لا ډير کلونه وړاندې

په يوه بله زمانه کې موږه

سره مين و،دواړه

هغه وو،نوروختونه

هغه وخت کرکه هيچا نه پيژندده

کينه له سره پيدا شوې ،نه وه

هرخوا د مينې واکمني چليده

ته وې ميينه پرما

او زه مين وم پرتا

لکه چې هير دې ،درنه

هغه مهال يادوم

چې دا تور زړي خلك نه و،پکې

د مينې نوم به په درنښت يادېده

مينه به ټولو عبادت بلله

خو موږه نه پوهيدو

چې وخت بدلیږي ورو ورو

ددې وختونو سیلۍ

ناڅاپه راغله پرموږ...

زما په نظر کله شاعر دومره زورورشي چې هر طرف سترګې غړوي، دا ټول کاینات ورته شعر ښکاره کیږي، یعني هر څه ته چې ګوري له هغه نه یوه کړۍ جوړوي. خو کله په شاعر مینه دومره زور شي چې هر څه ته ګوري هغه ورته خپله مینه ښکاري او په هرڅه کې د جانان تصویرګوري،خو کله دا یادونه شاعر دومره ځور وي چې فریادونه یې له خولې وزي او رنګین شعرونه ترې جوړیږي دا دی د سحر صاحب په یو ډیر په زړه پورې نظم کې چې دهمدې ټولګې نوم هم له همدې نظم څخه غوره شوی "پاس سپوږمۍ ده لاندې ته یې" څخه یو څو بیتونه را اخلو:

پاس سپوږمۍ ده لاندې ته یې

زه یم تږی ته اوبه یې

په خیالونو کې مې ته یې

په فکرونو کې مې ته یې

په سندرو کې مې ته یې

په شعرونو کې مې ته یې

په خوبونو کې مې ته یې

په رګونو کې مې ته یې

کله ستن کله مرهم شې

په زخمونو کې مې ته یې

زه که ستا په زړه کې نه یم

خو زما په زړه کې ته یې

زما عقل ستا په لاس کې

نه پوهېږم چې ته څه یې

پاس سپوږمۍ ده لاندې ته یې ...

انسان کمزوری دی یوازې پاك رب په هرڅه قادر او توانا دی،خو علم ګل سحرهم کله، کله په ګیله منه ژبه له خپل رب سره خبرې کوي او هغه ورڅخه غواړي چې ترې نه لیرې ګرځي او دا امکان هم شته چې یو وخت به یې همراز و، سحرهغه محبوب له خدایه غواړي چې د ده د زړه دنیاګۍ یې ټوله نیولې ده، د سحرصاحب زړه په یو داسې چا پورې تړلی دی چې که کرکه ترې ونه لري نو دنازونو په لمبو کې یې خامخا را ګیر کړی او سوزوي یې، نو سحر صاحب خپله ګیله په یوه غزل کې داسې بیانوي :

خدایه چې غواړم یې هغه راځینې لیرې ګرځي

ټول را نږدې دي خو یوه راځینې لیرې ګرځي

که ګلاب نه یمه ،د پوندې اغزی هم نه یمه

حیران په دې یم چې وږمه را ځینې لیرې ګرځي

ارمان مې ستا له اننګوپه ژړا ته،ویل یې

کاڼی د رود یم آیینه راځینې لیرې ګرځي...

په پای کې علم ګل سحر ته د لا زیاتو بریو هیله کوم او هیله لرم په راتلونکي هم د هغه همداسې ښکلي شعرونه ولولو.

محمد صابر بې ریا



## د سحر په لټه

د افغانستان قلم ټولنې لخوا د استاد علم ګل سحرد ادبي خدمتونو د لمانځ غونډې په پلمه.

زه هغه مهال د لسم ټولګي زده کونکی وم، زما ټولګیوال ذبیح الله به چې ټولګي ته راغلی نو ترهرڅه وړاندې به یې راته ویل کماله راډیود نیولې وه مابه ورته ویل کومه راډیو ولې آزادۍ راډیو "د ژوند په شېبو" کې خپرونه دې وانه وریده، نوزه به پوه شوم چې څوک یادوي.

ښه ستا مطلب علم ګل سحر دی،هو، د سحرصیب غږمې ډېرخوښېږي. یره کماله چې یوځلې خومو له نږدې لیدلی وی، چې دی به ځوان وي، زوړبه وي دا به څنګه سړی وي.

زما هم د ذبیح الله غوندې په زړه کې د سحرصیب د خبرې انځورونه تلل اوراتلل. شپې او ورځې تېرېدې د دولسم ټولګي نه فارغ شوم د کابل د ښونې اوروزنې پوهنتون کې شامل شوم یوه ورځ مې سهار لمرتلویزیون نیولی وو چې یوشاعرانه موزیك پیل شو د تلویزیون د پردې په یوه څنډه ولیکل شول شاعرعلم ګل سحر ليناشریفي د سحرصیب شعر "یوازې ستاپاره" په زړه راښکونکي آوازد کلمه کړ،شعرچې خلاص شو د کاکا زوی ته مې وویل د آزادۍ راډیو نه ده درته مالومه هغه راته وویل څه کوې هلته ماویل دا شعرهم دعلم ګل سحروو غواړم چې له نږدې یې ووینم. د کاکا زوی مې راته وویل: افغان ادبي بهیرته لاړشه هلته هره جمعه راځي. یوه جمعه مې له ډېرو ستونزو ورسته افغان ادبي بهیر پیدا کړ،زه نابلد هم وم هرڅوك به چې غږېدل مابه یې خولې ته سترګې نیولې وې چې سحرصیب به څه وخت غږېږي. له نېکه مرغه سحرصیب په دې ورځ راغلی وو. د غونډې ویاند د سحرصیب نوم واخیست ستیج ته یې د شعر ویلو لپاره بلنه ورکړه. ما چې کله سحرصیب ولید خیالي انځورونه مې له سره والوتل اوپه رېښتینیو بدل شول. کله چې غونډه خلاصه شوه،نوهڅه مې وکړه چې زه باید د سحرصیب سره خبرې وکړم

نږدې ورغلم پرڅای د دې چې خپله ځان وروپېژنم نوماورته وویل : آیا ته سحرصیب یې د ژوند په شېبوکې خپرونه هم په آزادۍ راډیو کې وړاندې کوې سحرصیب په ډېره مینه راته ځواب راکړ بلې زه خپله سحریم. زه له ډېرې خوښۍ په جامو کې نه ځایدم سحرصیب هم حیران وو،چې دا لیونی ګوره ، له ډېروخبرو وروسته مې سحرصیب ته وویل ته هره جمعه بهیرته راځې؟ سحرصیب وویل هو ته هم راځه دلته ډېرشاعران اولیکوالان راځي ډېرڅه به زده کړې.

له دې وروسته به زه هره جمعه د افغان ادبي بهیر ته تلم د استاد سحراونورو استادانو شعرونه اوخبرې به مې په غوراوریدلې،استاد سحربه چې تل ماته زیاته سپارښتنه کوله هغه به راته دا ویل چې تل مطالعه کوه ادبي اوټولنیز کتابونه ډېر لوله د شپو او ورځو په تیریدو سره زه اوس سحرصیب ډېر وینم تل راته د خپرونو سکریپټونه اصلاح کوي یو څه چې ما او زما ټولوهمکارانو ته سحرصیب راکړي دي هغه د سحرصیب مینه اوتشویق دی. زه مې خپلې خبرې نه اوږدوم.

استاد علم ګل سحرهغه شاعراولیکوال دی چې خپلې لیکنې دعام ولس لپاره په ساده او روانه ژبه کوي استاد ترخپلې وسې د پښتو په ولسي ادب کې په زړه پورې هڅې کړې دي په آخره کې د الله ج د درباره ده ته د ډېر عمرپه لرلوسره خپل لاسونه لپه کوم.

په پښتنه مینه

ظهورالدین کمال

## لاهم څارمه ستا لارې

وايي چې شاعر کيدل يا شعر ليکل يوخاص استعداد ته اړتيا لري چې له دغه استعداد څخه د الله تعالي ځيني دوستان برخمن دي چې له هغو څخه يو هم د هيواد تکړه ليکوال ،شاعر، او ژورنالست استاد علم ګل سحر دی. چې د ادب په ډګر کې يې هر اړخيزې هلې ځلې کړې دي او د شعر په ژبه يې تل نورو ته ډاډ ينه ورکړې، د ژوند ښکلا يې ورپيژندلې او د هغوی حوصله يې تل اوچته ساتلې ده.

سحرصاحب نه يوازي له هيواد سره مينه کړې بلکي د الله تعالي هر يو مخلوق ته يې په درنه سترګه کتلي دي. د هر يو څيز حقيقي حالت يې د شعر په ژبه بيان کړی دی.

"لاهم څارمه ستا لارې" په دي ټولګه کې چې څومره شعرونه دي ټولو کي يو خاص د ميني ډک پيغامونه پراته دي هر يو شعر يې ښکلی انځور لري او له نورو انسنانو سره مينه او دهغوی په حالت کې يې ځان شريک بللی خپلې خوښي يې د نورو په خوښي کې لټولې دي .لکه چې په يوه ځای کې وايي:

لرګي مې ډير اخستي

لاندي مي هم کړی دی

ځان او اولاد ته مې وړينې جامې ډيرې کړې

بخارۍ تل ګرمه وي

که ژوند و سړ ژمی به ګر م تير شي

سرېکال به یخ په مخه هم رانه شي

خو څه فایده چې د کور خواته مې یو بل انسان

له یخه ریږدي .....

په دې شعر کې له ورایه معلومیږي چې سحر صاحب څومره د خپلو خلکو په غم کې ډوب دی او تل د نورو په فکر کې دی. دی هسې په شعر کې نه وایي بلکې په عملي ژوند کې هم همداسې دی .

لکه څنګه چې رحمان بابا او خوشحال خان خټک داسې شعرونه لیکلي دي چې هیڅ لوستونکی نه پوهیږي چې رحمان بابا په چا مین و، د هرڅیز په مینه کې دومره ډوب و چې فکر کیږي رحمان با با په همد غه شي مین دی. ما ته د سحر صاحب شعرونو کې هم داسي یو څه ښکاري هغې هر یو څیز ته دومر ه ښکلي رنګ او انځور ورکړی دی چې ګویا هم هغه شعرکې انسان خپله هغه حالت ګوري .لکه په لاندي بیلګو کې:

ستا د ښکلا د خپلولو هیله هم نه لرم

د خپلو سترګو د ساتلو هیله هم نه لرم

که بې مقصده هر څوک زړه راوړي نو زړه ورکوم

داسې هم نه ده صرف د ښکلو هیله هم نه لرم

یا :

مامي له زړه سره د سترګو اختیار تاته درکړ

بیامي د چا په لوري ونه کتل

شونډو مي ستا د نامه ذکر کاوو

ما وې دي ښار کې بس یوازې ته یې

د چا مي نه اوریدل

د اوریدو حس مي تا وړی و

ما د ارمان ګلونه

ټول ستا په لارو شیندل

تا مي د زوه پر سر چاړه تیره کړه

ما یې پروا ونه کړه

ځکه هغه مي او ستا ګنلو

ارمان مي تا ته قرباني کړ داسې...

په زړه کې مې اوس ناست يې،جنګ له تا سره مشکل دی

دا زړه به مې هم ستا وي،دا ځيګر به وي ستا لاس کې

یو وخت دومره مغرور شي د پاچا سلام وانخلي

خو کله شي وړوکی بس سحر به وي ستا لاس کې

په دې پورتنیو بیلګو کې د یوې بې الایشه مینې ځرك لیدلای شو. د سحر صاحب په ټولو شعرونو کې مینه ،ښکلا ،حقیقت،پروت دي او د شعر په خوږه ژبه یې بیان کړي دي.

"لاهم څارمه ستا لارې" د شعري ټولګي ټول شعرونه په زړه پوري دي په ځانګړي توګه ازاد شعرونه يي ډير خوندور دي..الله تعالي دي ورته لوي عمر ورکړي زه خپلي خبرې د رحمان بابا په دي شعر رانغاړم.

هغه زړه به له طوفانه په امان وي

چي کښتۍ غوندې د خلګو بابردار شي

سوله نيازۍ



## کیسه ییز شعرونه

ځیني کره کتونکي په دې باور دي چې په پښتو ژبه کې شعرته ترکیسې ډیر کار شوی دی.خو که هنر ته په هنر وکتل شي لیدل کیږي چې ځینې شعرونه سره له دې چې شعرونه دي،کیسې هم دي یعنی غوږ لاغوږ.

زما په آند دا ډول کیسه ییز شعرونه یو خاص تاثیر لري او د ذهن په کونج کونج کې ځای نیسي .د عادت له مخې خپله لیکنه په بې ضرورته خبرو نه پړسوم، د کیسه ییزو شعرونو د بیلگې په توگه د گران شاعر علم گل سحر یو شعر د هغه درانه په اجازه ستاسې مخې ته ږدم،قضاوت پرتاسې:

### خوب

بېگاه مې خوب لیدلی

ته وایه ښه!

مانا یې مه راکوه

بېگاه مې نیمه شپه بیا خوب کې راغلې

له سرو گلابو دې جامې جوړې وې

په گریوانه دې ټکوهلي ستوري

اوله دنگې مانۍ

دوو ښایستو نجونو ته راز د خپل زړگي ووایې

یو څوك مین دی پرما

بېگاه مې خوب کې پر پالنگ راوخوت

بېگاه یې دواړې شونډې اېښې وې

زما پر شونډو

دا دواړي توري ښايستي جينکۍ

له تا نه نوم ستا د مين وپوښتي

خو ته يې نه ورښيي

هسې نه دوی يې په نوم کوډې وکړي

زه تر مانۍ لاندي پرخپلوغوږو لاس کېږدمه

هسې نه نوم يې واورم

مکتب مې پرېښود

کتابونه کې يې ستا نوم نه راښود

ما د زرمت باغو کې سنړي مرغان ټول وليدل

چې په نغمو کې يې ستا نوم وارومه

له بلبلانو څخه هم هېره وې

زرمت يو ښکلی ځای دی

بېلا تشبه لکه جنت داسې وو

رڼو اوبو کې به منيځلې اوبه راغلې مورته

خو ته به نه وې

زه ترې ووتم

دې سبا په لټون

ما د بابا پر پله، پل کېښود بیا

دروغ مې نه زده

مابه ښکلو ته په ځی،ځیر کتل

په دې امید

چې ستا د حسن رڼا ووینمه

د کوه قاف ښکلې مې ولیدلې

خو ستا د حسن جلوې نه وې په کې

ټولو مې مینه غوښته

خو زه وم ستا په لټون

***

دا دی تر ډېرو کلو ورسته تا ته ورسېدم

ملا به "ح" خو مابه "خ" ویله

د ملا خوله کې د حلوا مزه وه

ما د خدایي حسن رڼا غوښتله

ملا به "پ" ویله

زما تلوار و، ما به "ف" ویله

هغه پرون، خو زه سبا ته تلمه

ملا خو ناست وو

زما مخې ته یو لوی سفر و

ملا دځان له غمه مړ و

زه دا ستا له غمه

زه ستا په نوم پسې ستومانه ومه

ستا نوم به و

خو ملا نه راوښود

د ښوونځی په کتابونو کې

ستا په نوم پسې پنځه کاله زه وګرځېدم

معلم ریاضي راښوده

خو زما یوازې "جمع" زده وه په کې

"تفریق" مې بد ایسېده

ما له کتابه د "تفریق" او "تقسیم" پاڼې ټولې وشکولې

ټولې د زرمل د راده،خړو اوبو یوووړلې

ورځ به مې ټوله باغ کې تېره کړله

د یوه ګل په لټه

چې تا ته ورته وي لږ

شپه به پر بام څملاستم

یوازې ستا لپاره!

دوی وایي ستوري ځوك شمېرلی نه شي

ما به په شپه کې ستوري ټول وشمېرل

خو ته به نه په کې

چې ښه به سترۍ شومه

خوب به راغی

خوب کې به ښکلې ښاپېرۍ

راته خندل په مینه

مابه وې ته یې

پسې ولاړم به تر لیروغرونو

خو ښاپېرۍ به رانه لیري ولاړه

کټ مټ همداسې، لکه ته چې رانه لیرې ولاړې

چې نا امیده شوم

جومات ته ولاړم

د ملا لښتې مې هم ستا لپاره ومنلې

ما ترې سبق پیل کړ

ملا "الف" او ما به "ب"

ویله

چې کېنې خوروي

له میل یې تا ته غاړګۍ جوړوم

د ملا خوږغږ مې غوږو ته راغی

ما وې ستا نوم یادوي

سترګې مې پرانیستلې

خو ته نه وې

مابه بیا وژړل

ژړا مې زیاته شوله

ما یوه مینه غوښته یوه دردمنه مینه

د مور د د مینې لاس ورپورته کړمه

په هغه لاس کې

د دنیا مینې وې

دروغ مې نه زده

د مور غېږ کې مې ته هېره شولې

اه، د مورکۍ غېږخو نو تل هم نه وي

زه ځنې ولوېدمه

لکه پاچا چې هم له تخت، هم له وطن لیرې شي

بېرته شوم ستا په لټه

حواس مې ټول سره ګډوډ وو

تا په نوم پسې به ټول ستړي وو

موږه یې ببل کړو سره

ته رانه لېرې ولاړې

ما له خپله ځانه

ستا د تلو خبر پټ وساته

خو زه په ځان پوه نه وم

ژوند مې ولیرې تښتېدلی رانه

د وخت سېلۍ

د بېلتانه سرود په ژبه راغله

موږ له یوه بل نه ببل شو

***

په دویم ژوند کې په زرمت کې ومه

له یو خوارہ خوبه راپورته ومه

خوب کې له تاسره وم ما ژوندون نه غوښت

خو په زور یې راکړ

مابه ژړل

دوی خوشحالي کوله

ما سترګې نه پرانیستې

ځکه له تا بېلېدم

پلار راته اس او ټوپك په نذرانه کې ومنل

په اس به ستا پرلور سفر کومه

ټوپك به مات کړم

اجمل تورمان



## د خپلې ژبې او ادب ريښتينى خدمتګار

دغه ستا د ښکلا وړانګې دي جانانه

چې د هر زړګی تيارو ته يو "سحر" شوې

استاد علم ګل سحر د ادب د نړۍ هغه ځلانده لمر دی چې تل د نورو د زړونو د ادب خونې رڼا کوی،او د هغو خلکو چې تر اوسه د ادب نړی ته يې نوی سترګې غړولې استاد علم ګل سحر يې په ډېره مينه او اخلاص لاس نيولی او په دې لاره يې د تګ چل وربښودلی.

او له هغوکسانو نه يوه زه يم چې استاد علم ګل سحر مې لاس ونيو او بی له کومې خبرې يې له ماسره د ليکنې او شعرونو په اصلاح کولو کې ډېره زياته مرسته وکړه،اوهمدا شان زه د دې خبرې شاهده يم چې استاد سحر د ادب په آسمان کې ډېرې نور هم ستوری ځلولی له هر چا سره يې په ورين تندي مرسته کړې ده.

که دا استاد په څير يوځو کسان پيدا شی (سحر) وړانګې به تل په ځلېدا شي، کله چې ما په لومړي ځل استاد علم ګل سحر وليد نو هيله منده يې کړم چې زه به وکولای شم په راتلونکی کې خپل هيواد او خپلې ژبې ته د خدمت جوګه وګرځم.نو که زه د استاد په اړه په کتابو کتابو خبرې وکړم بيا به هم لږ وی، خو هيله منده يم چې تل د ادب په آسمان کې لا ډېر وځلېږې او د ادب د نړۍ يو تلپاتی لمرشی،چې د هرمينه وال او د ادب د مينانو زړونه روښانه اوهمداسې بريالی،سوکاله ،خوشحاله او نيکمرغه اوسې.

د استاد سحرد لابريا په هيله

ګلمينه يوسفزۍ

## يوازې ستا لپاره!

له سحر صاحب سره زه له ډېرې مودې راهسې د انډويالۍ تارلرم، دی که شاعرهم نه وای،قلم ټولنې نفسي د ده د ښواخلاقو په خاطرهم بايد داسې غونډه ورته جوړې کړې وای، له غونډو خوهسې هم نه درېږو چې سيل مو نه وړي شيلګۍ به موهم نه رغړوي، هيله مې دا ده چې که داسې غونډې هم دود شي بد به نه وي،راځي چې په انسانيت اوسرېتوب مين اوخواخوږي انسانان هم ولمانځو.

شروع به يې له انډوالۍ او ملګرتوبه کړم سحر صاحب په انډيوالۍ کې ډېر بې ازاره سړی دی،د انډيوالۍ تار تر ډېره وخته نه اومړی کوي، په هره ښه و بده کې درسره ولاړ وي،دوهمه خبره دا ده، کوم اور چې د ده په زړګي بل دی هغه اور د دې ولس په خيردی،دی به ورسره ستړی او په عذاب وي خومونږ ته يې ډېرخير رسېږي، پکو يې پکې غوارم، دی ډېر پراخ روابط لري اوهغه پالي وخت ورکوي يوه ورځ مې ماسخوتن تيلفون ورته وکړ،ځواب يې راکړ چې په يوه غونډه کې يم،بيا تيلفون درته کوم،د شپې لس بجې وې، تيلفون يې راغی ويل يې اوس په يوهوټل کې يم واده دی. غونډه، واده، د شپې تر ناوخته پورې د دوستانواو اشنايانو پالل د نورو هڅونه دا ټول يو حساب کتاب غوارې چوټه انداز نه کېږي،څه وخت به اولاد ته ورکوي،څه به کار،ژوند،تفريح، ښې او ګندې ته،خو زه چې سحر صاحب ګورم، د ده ډېر وخت له فرهنګي مسايلو سره تېرېږي همدا اوس د راډيو او ټلويزيون ترڅنګ ګڼې ټولنې هم پالي،د مېرمن ادبي بهير د ده له برکته دې حال ته رسيدلی دی،ما او ده يو وخت په لمر تلويزيون کې کار کاوه، دواړه په يوه تعميرکې وو، ترمونږ دوه تعميره بر د تلويزيون د دوبلې برخه وه، سحر صاحب هغه وخت د خبري برخې اډيټر و،نه پوهېږم اوس به يې نوره هم ترقي کړې وي،دی به مې ليدچې وخت ناوخته به د دوبلې برخې ته روان و،هلته به يې په انجونو،هلکانود پښتو کتابونه ويشل، د ده له خولې مې اوريدلي چې اوس ډېرې داسې انجونې شته چې مورنۍ ژبه يې دري ده خو په پښتو ګلالۍ

شاعري کوي. دا ټول د ده برکت دی. ما ډېر وخت داسې لیدلی چې نن له یوې غونډې راغلی په بله اوښتی،دوهمې او درېیمې ته هم په ورین تندی روان شوی، ولو که یوه به د وطن په یوه او بله په بل سرکې وه، د دغو ټولو مصرفیتونو په منځ، منځ کې وخت په وخت خبرېږو چې د سحر صاحب نوي کتابونه هم چاپېږي.

سحر صاحب په لیکونو کې هم ډېرتنګ لاسی نه دی، شاعري کوی، ناول لري، لنډې کیسې، طنزونه، فلکلور،خاطرې اودا ټولې خوا یې پاللې دي. د ده د ناول په لومړی برخه کې یو کرکټردی چې په یو کورکې محاصره کېږي ما چې هغه برخه ولوسته ډېرخوند یې راك، بیا ده ته رادیو ته ورغلم پوښتنه مې ورځخه وکړه چې د ناول دا برخه دې ماته په زړه پورې وه، ده راته وویل کوم کرکټرچې ستا خوښ شوی دا په رښتیا یو څوك و، له همداسې حالت سره مخ شوی و. زما تراوسه د محاصرې په وخت کې دهغه کرکټر رواني حالت په یاد دی چې ده ترسیم کړی و او هغه منظرې مې په ذهن کې دي، یوه لنډه کیسه مې څو کاله له مخه لوستې وه،پرون مې ولټوله پیدا مې نه کړه، سحر صاحب به یې په اړه بیا یو څه ووایی، تنظیمي جنګونودي په یو خونه کې د یو قوماندان توري سپینی روان دی، په کوټه کې تلویزون،روښانه دی څوك لګیا دی غلو ته بد وایي قوماندان هم سر ورسره ښوروي خوچې کله له کوټې وځي نو کوم یو ته وایی چې دا تلویزیون به بیا په ځادره کې درسره راوچوې. د ښه اثر نخښې خلك دا بولي چې یا ستا د زړه خبره وکړي او یادې منظرې په ذهن کې پاته شي سحرصاحب شاعري هم کوي ما یې له لومړني کتابه پرته نوره ټوله شاعري لوستې، د ده په شاعري کې له وطنه سره مینه اونوراقسام او انواع د مینې اصلي موضوعات دي د کینې کرکې، نفرت،ناروا په ضد شاعر دی کله چې زه د ده شاعري لولم نو له یو مهربان اوخواخوږي انسان او شخصیت سره مخ یم یوغزل دی:

زمونږ وطن ته لوګي مخکې،رڼا وروسته راځي

اول ژړا وي فریاونه،خندا وروسته راځي

وسلې راولیږي او غلي راته ووایې چې

د ډوډۍ غم مه کوئ،دغه سخا وروسته راځي

هغه سپوږمۍ ده،خو سپوږمۍ غوندې تنها نه راځي

تر مخ یې ډار د بیرته تلو وي او دا وروسته راځي

په کومو ګلو به ستا مینه ماتومه ګلې

سپرلي راځي،خو وایې ښکلې ترتا وروسته راځي

د تسبو لړ نه یوې ښکلې ته امیل جوړي

لمونځ قضاء کیږي،نیت تړی چې ملا وروسته راځي

یتیم ماښام پورې په خاورو کې لوبیږي وایي:

یوازې نه ځمه خپل کورته،بابا وروسته راځي

دوی وایې وکړئ ګوزاره له ښامارانو سره

ډیر زورور دي،کوه طور نه امساء وروسته راځي

د سحرصاحب شاعري له داسې مثالونه مالاله ده،صفتونه لکه چې بیخي ډېر شو سحرصاحب به په همدې مجلس کې اول دا بیت راته توضیح کړي چې د ده نظر څنګه ستومانه دی په ځای که بیځایه:

پاس سپوږمۍ ده لاندې ته یې، اول مخ لومړی غزل

نظر مې شي ستومانه،بیرته ستا رخسار ته راشي

بې کوره مسافر دی،نا اشنا دیار ته راشي

او بیا دې د همدې اثر په دا بل نظم هم یو څه راته ووایې چې دی د مشوقې په خاطر لارې ته سم شوی که د حورو په خاطر له مایې پیغام سره وچړېږده

## یوازې ستا لپاره!

له زړه مي ټولې کرکې وایستلې

اوس مې له ښکار ځنې توبه کړې ده

اوس له کارېز نه بغدادي کوترې نه کټوم

او بس تمامه ورځ لګیا یم

په دامونو کې مرۍ پېیمه

سپینو کوترو ته پایزېب جوړوم

اوس دبې موره وري له اوښکونه

شراب جوړوم

اوپه سخت زړو یې ارزانه پلورم

چې یې له زړونو کینې کډه وکړي

له زړه مي ټولې کرکې وایستلې

اوس مساپر په کاڼو نه ولمه

اوس ګلان نه شکوم

له لارو نه اغزي ټولوم

په لاره تلونکی ماشوم ښکل کړم

د سپین ږیري بوډاالاس ونیسم

له زړه مي ټولې کرکې وایستلې

اوس له دښمن نه کسات نه اخلمه

اوس دغومبسو کور په ختهه باندي

نه پټوم

په مار د کاڼي ګوزار وکړم

خو خطا يې ولم

بس هسي ځان ترې ژغورم

هغه هم هسي درحمان* دياراني په خاطر

اوس له خوبونو مرور يم

ټوله شپه په تلاوت تېروم

او د قرآن زرينو پاڼو کي

يو نوم لټوم

له زړه مې ټولې کرکې وایستلې

اوس مي ټوپك پر اوږه نشته

او له ميل نه يې شپېلۍ جوړه ده

په کي دميني ترانې غږوم

دا ټول دا ستا لپاره!

ځکه دوی وايي

په جنت کي حوري ستا غوندې دي

ومان نيازی



## د عطرو نقاشي شوی اواز

پرېږدئ ! چې سر په زنګون کېږدم

او فکر وکړم ایا تاسو وینئ چې زما د زړه

له چینې ډېرې خوږې اوبه راخوټیږي

چې د بشرتنده ماتوي " ګوټه "

د ادګارالن پو په نزد که تصادف په پام کې ونیسو نوشعرله وظیفې یا حقیقت سره سروکارنه لري اوهمدا خبره د "شارل بودلر" په نظرکې هم څرګندیږي. کله چې وایي "شعر بې له ځانه بل هد ف نه لري."

د اوسنۍ راوانشناسي پربنسټ شعراو خوب لیدل یو بل ته ورته راواني حالات دي،ځکه په دواړو کې هغه عاطفي تمایلات او زړه ته رانږدې احساسات چې دعقل د کنترول او سانسور په وجه د تحت الشعورساحې ته استول کیږي. د شاعرۍ او خوب لیدلو په وخت کې د عقل ځنځیرونه ماتوي او په خیالي یا هنري دنیا کې ازادۍ ته رسیږي، له دې امله شاعري او خوب لیدل په رواني لحاظ یو بل ته ورته دي. زمونږ د پیړۍ د مفکر "هایدګر" په نزد ،منطق د تفکر او په نتیجه کې د تخیل دښمن دی.نوځکه ډېروخت د شعر سمبولونه،استعارې او تصویرونه د خوب لیدلو له سمبولونواو استعارو سره نږدېوالی لري او کله حتی یوډول وي.په ختیځ کي "زهره" او په لویدیځ کې "افرودیت" د مینې بل نوم دی چې پیل یې خوږ او په زړه پورې او پای یې تریخ او بدمرغه وي، مینه تل له غم او اوښکو سره تړلې او ډېرغښتلي کسان د مینې د سختیو تاب نه لري او همدا ماته ده،چې "اورفه" یې په واویلا کړ او په خپل سوزوګداز یې بوټي او کاڼي وژړول له همدې کبله دا اصل چې شاعر که وغواړي وړونکی شي ماتې د مرګ په بیه هم ورته تمامه شي باید ترلاسه یې کړي.

منطق او وچ عقل احساسات وژني ته به وايي چې په دې توګه له مینې او ښکلا څخه غچ اخلي مګر په دې کارکې پخپله عقل لیونی کیږي. شاعر کولای شي یوځل او د تل د لپاره مینه اوښکلا د عقل له سیوري څخه وژغوري.

ژبه د رنګ او توکیو په وریښمین او رنګین دګرکې ښکلا نقاشي کوي او په دې توګه نه یوازې غوږونه بلکې سترګې هم نازوي،هغه که چوپ وي هرڅه وايي او یا يې نقاشي کوي. شاعر نه غواړي یوازې لیدونکی وي بلکې مینه او ښکلا د تمثیل،تصویراو سمبول په موجداره رنګ کې نورو ته هم د لیدو وړګرځوي.هغه نه غواړي د ترلې کړکۍ په مرسته د زړه خبرې له نورو پټې کړي. نارنجي سیوری د اوښکو په اوبو مینځي او په دې توګه د عواطفو ګونګۍ دنیا ته خبرې ور زده کوي.

د "بودلر" په اند باید هڅه وشي چې په نثر کې هم شاعر واوسو، مونږ ټول دغه له ستورو ډك اسمان په ترږمۍ کې بریښنا د ابشارغږ پیژنو اما د هغو شاعرانونه انځور زموږ له توانه وتلي دي.

مونږ له شعرڅخه خوند اخلو او د نقاشۍ رنګونه کولای شي مونږ له واقعي دنیا نه ورځني عذاب څخه وژغوري، یا په بله ژبه یوازې هنردی چې کولای شي زموږ ژوند د تحمل وړ وګرځوي دا ځکه چې هنر زموږ د وزر ماتي احساساتو تراژيك اواز دی چې د عقل د کنترول په وجه د ناخود اګاه پراخي سیمې ته په شاتمبول شوی اوسرکوب شوي او دغه سانسورشوي ارزوګانې او شاته وهل شوي تمایلات د شاعرانه تخیل، تصویر او سمبول په مرسته ازادیږي، موږ په هرهنري اثرکې خپل امیدونه وینو چې د "تحت الا شعور" او د عقل د قلمرو د زندان له زنځیرونو ازادیږي.

هنرپه یوه مانا د طبیعت په وړاندې واقع دی،نقاش کولای شي د اور په منځ کې ګلان انځورکړي،نقاش رنګ ټاکي نږدې دی ووایم داسې رنګونه ترکیبوي چې خپل تخیلي انځوربشپړکړي. شعر او نقاشي له عقل څخه لوړ

تخیلات انځور وي کله نقاشي کولای شي د شاعر تخیل انځورکړی د شعر ښه تصویر،تمثیل به هغه وي چې نقا ش هغه نقاشي کړای شي اما شعر د نقاشي په پرتله د تخیل پراخ ډګر لري.

زه د پنجرې له شا نه

زمونږ د بڼ پریکړی لاس وینم

اه

څومره بې قدره دي پرتې

دا جنازې

د سنګسارشووغونچو

د ونې وچ ښاخونهساندې وایي...

د سحرصاحب د شعرونو دغه غونډ چې د تاسې په مخ کې پروت دی،ډیرداسې نوی تخیلي تصویرونه لري چې ما هرنقاش یې د رنګ په وسیله انځورولای شي، داسې تصویرونه چې په طبیعت کې وجود ونه لري، د تخیل په مرسته انځورشوي دي. د بېلګې په توګه؛ د ستورو پل، وږمینه لار، د خوبونوښار، د باران سترګې،د لمرچینه، د ښاخونو ساندې، د شپې اوښکې، د بڼ پریکړی لاس، د سپوږمۍ په بڼ کې، رنځور ژوند، د افق غاړوکې... د دغه کتاب ځینې نمونې چې تاریخي افسانوي پېښنو ته په کې اشاره شوي ده ډېرې په زړه پرې دي.یوه بله نمونه چې ته به وایي شاعرپه ویښنو سترګو خوب لیدلی...

خوب یو شاعر دی د نیمګړي غزل

زما د روح په تخته لیکي د دوو مینو

داستان

خوب په اوبو کې د کوچۍ پېغلې د حسن

انځور

خو زه د مینې په وزرونو خوب ته ورسېدم

زه شومه خوب

او خوب پرما

بدل شو...

شاعرډېرډېرځلي د سپوږمۍ په رڼا کې د ښکلا ننداره کوي. دا ډول تصویرونو په دغه شعري غونډ کې ښوځله ځان ځرګند کړی دی. یا په بله ژبه په دې کمرنګه رڼا کې خپل احساسات، ښکلا ته لېږدوي هغه د هرتخیلي سمبول یا تصویر په باره کې مینه، کېنه امید او وېره لري. کوم عاشق دی چې د معشوقې د نوم په اورېدو د خپل،زړه اواز وا نه وري، دا ځکه چې هرسمبول بې شمیره شیان تداعي کوي. یعنی شاعر د معاني تداعي په مرسته هنري تصویرونه انځوروي.

د شاعر د هیلو د غوټیو غوړېدو بڼ به په ګډه سره ووینو.

اوس همدمره

پوهندوی اسد اسمایي

کابل پوهنتون

۱۳۷۷

## د پښتوشعرنوی سحر

دا چې په هرې ورځې پسې ماښام راتلونکی دی او په هرې شپې پسې سهار، نو دا دی د پښتو شعر په یوې اوږدې شپې پسې د یوه نوی سحرڅرك په لګېدو دی، دغه نوی سحرعلم ګل سحر دی چې پرخپل وار یې د دغې اوږې شپې په روڼونه کې برخه اخیستې او په خپلو لمرینو پلوشو د پښتو شعرتور تیاره او ساړه سمنج ګوګل ته رڼایي او تودوخی وربښي.

د دغسې یو ځوان استعداد د غوړېده نه دهغو پرله پسې او نه ستړی کېدونکې هاندوهڅو زېږنده ده چې په وروستۍ لسیزه کې له کرغیړنتیا (ابتذال) څخه د اوسني پښتو شعر د ژغورتیا لپاره رانښلول شوی دی. که په دغه ژغورنتیایې بهیرکې سپېزوبو ځانګوالو د نوې ادبپوهنې او نوې کره کتنې دارانو او الواکانو په وړاندې کولو او رامنځته کولو سره ونډه اخېستې ده نو ترشا یې د سحرغوندې یوشمیرځوانو شاعرانو په خپلو نوښتګرانه زېږنده ییو سره دغه بهیرته یو ډینامیزم او خوځون وربښلی دی.

د همدغه نوی ادبي غورځنګ برکت دی چې زمونږ ځوان استعداد ونه هغه زړې کرغیړنې او اوږدې لارې نه وهي چې نورو وهلي او هسې بې ځایه یې ځانونه ستومانه کړی دي. د شعر په نامه یې دیوانونه کښلي، مګر شعریت ته ندي رسېدلي. خواشینونکي بیا دا چې په دې هم نه دي پوه شوي چې دوي رېښتا دغې پوړۍ ته نه دي رسېدلي او هسې خوشې یې په اورولو سره د خلکو غوږونه کاڼه کړي او په کښلوسره یې هسې بې ځایه کاغذونه تور کړي دي.

د سحرصاحب ټوله شاعرانه مخینه تر اتو کلو تېرى نه کوي خو پردې بریالی شوی چې د نظم تربریده را واوړي او د شعرتر پولې او پوړی را ورسي. دغه مخ ته پروت شعري غونډه د سحر دا اته کلن پرمختیایي یون یو ښکارنده بېلګه ده، دلته لیدل کیږی چې دغه ځوان شاعر څنګه په پرله پسې ډول له پېښوڅخه ځان ورو،ورو را باسي،لومړی پرخپل ازمیښت ډډه لګوي او

بیا د نوښت پرلوري ګامونه اخلي په قافیه وال ډګرکې هماغه "نوی غزلیزه" خوا نیسي او په ازاد ډګر کې هم د "نوی ازاد"

ما دودیز ناظمان څکه نیم اولسي شاعران بللي چې له اولسي شاعرانو سره کوم جوت توپیر نه لري یوازې دا توپیر چې دوي لیك لوست والا دي او خپل د نظمونوه په خپله کاږي او ولسي هغه خپل د نظمونه د سندرغاړواو نورو مینه والو په مرسته ثپتوي. که نه لکه څنګه چې ماورته په خپل بدلیمیچ "پښتو شعر څنګه جوړېږي" کې نغوته کړې، په ډېرو برخوکې ولسي شاعران تر نیم ولسي هغو د مخه برېښي. د نیم ولسیانو یوازینۍ مخکوالی ښایي په همدې کې وي چې ژبه یې د چا خبره یو څه ادبي برېښي هغه هم په چې دوي د لیك لوست په برکت عربي ویپونه زیات کاروي او د دوي ترڅنګه یو نوی هنري انځور له کلاسیکو او یاهم له اوسمهاله شاعرانو څخه راغلا کولای شي خوکه هغه انځورهم په ځیر وڅېړل شي له زړو کرغېړنو تکراري تشبیه ګانو پرته نور څه نه دي، لکه شونډې له لالونو، سترګې له بادامو او زلفې له دامونو سره همرنګول. کوم عربي یا پاړسي متحدالمال ویپونه لکه عشق، عاشق، معشوقه ،جانان، دلدار، دلبر ... چې د ولسي شاعرانو په شعرونو کې کارول کېږي،زیاتره د همدغو نیم ناظمانو له لارې ورسره پېژندویي پیداکوي. دوي په رښتېنه د ولسي او دیواني شاعرانو تر منځ اړیکې جوړوي او په دې توګه یې شعروشاعري د دواړو خواوو یو ګډوله بلل کېږي. لرې به نه ځو د ننګرهار یو ولسي شاعر لکه اروانښاد ملنګ جان به راواخلو او له اروانښاد محمد طاهر بینا سره به یې پرتله کړو. تردا منځ به ډېر څه سره ګډ پیدا کړو لکه نظمي ژانرونه ( چار بیتې،بګټۍ، لوبي، داستان، غزلې،مقامونه...) او بیا انځورونو چې د دواړو ډولنو په شعرونو کې په هماغه یوه بڼه کارول کېږي. یوازینۍ بېلتیا ترمنځ هماغه درانه عربي یا پاړسي ویپونه دي. چې د بینا شعر د هغه له شعره سره یو توپیر پیدا کوي، دلته ډیري په زړه پوري د بېنا زنځیري چاربیتې دي چې په سلو کې **۹۵**٪ له عربي او نورو پور ویپونو څخه جوړښت مومي. نور نو په ژب ښکلایزه برخه کې ورسره دومره توپیر نه لري او کله کله ترې لا د ملنګ جان هغه تېرې کوي.

د مځنپانګې او ټولیز اړخ له پلوه هم تردې منځ کوي جوتې بېلندې نښې نه لیدل کیږي.

دغه پورتنۍ ځانګړتیاوې زمونږ د نن ورځ په نوښتګرځوان شعر کې ډېرې لږې لیدل کیږي، دلته زیاته هڅه د انځور او سمبول اوبیا نوی انځوراو نوی سمبول خواته کیږي. له همدې کبله زه علم ګل سحر د دغو مخته پرتو شعرونو له مخې له اولسي او نیم ولسي شاعرانو څخه رابېلوم او دا حق ورکوم چې د ځوانو نوښتګرو شاعرانو په لیکه کې ودریږي.

ما د ده دغه شعرونه په پوره پاملرنه سرترپایه ولوستل او د همده په اجازه مې ځنې کوچنۍ نیمګړتیاوې هغه هم زیاتره په ژبني او تخنیکي برخه کې ورسمې کړې. زه باور لرم چې د دغه ښکلی شعري غونډ له چاپېدو اوخپرېدو سره به زمونږ دغه نوی غوړېدلی سحر لانویو شاعرانه ازمېښتونو او نوښتونو ته وهڅېږي او لا زیات ارت او روښانه څنډونه او لرلیدونه به ورته غیږې پرانیزي،سحرصاحب ته د دغه ښکلی کتاب مبارکي وایم او لمرینه شاعرانه راتلونکی ورته غواړم.

په مینه

پوهاند ډوکتور مجاور احمد زیار

لړم ۱۳۷۰

## سریزه

د سحرصاحب د شعرونو مجموعه راته پرته ده، کله کله یې پاڼې راواړوم یوه نیمه غزل پکې ولولم، زه نه محقق یم،نه نقاد،هیڅکله مې د چا د شعرونو مجموعه یا دیوان د یوه سره نه دی لوستی کله یې د سرپاڼې لولم، کله د پای،کله یوځای،کله بل ځای،دا وړه مجموعه مې هم په مختلفو وختونو کې دغه شان لوستې ده،چې ممکن ځینې غزل مې یې څوځله لوستې وي او په ځینو ښویه تېرشوی یم. ځکه په خپل چاڼ باوري نه یم چې ما به خامخا غوره بېتونه ترې انتخاب کړي وي.

سحرصاحب یو درونده او صمیمیي سړی دی، یاري دوستي یې د بارتري تجارت په څېرنه ده،په خبره یې باور او په خلق یې اعتماد کیدای شي،نو که شاعر او لیکوال هم نه وای محترم به و. له ښه مرغه دی شاعر او ښه کېسه لیکونکی هم دی. که یې څوك اثارو ته ښه ووایې که بد، نه یې په ښه ویلومغروریږي، نه یې په ردولو خواشنه کیږي،البته هم د دوستانو مشوره مني اوهم ځان رسول غواړي. چې دا یې د تکمیل پړاوته د رسیدلو ښه لاره ده.

اوس به د ده په څو بیتونو سره وغږېږو.

د غلچکی نظر لپاره مین شاعر کله کله د معشوق یا معشوقې تغافل له خدایه غواړي، که یې سترګې له خوبه درنې شي ترهغه ښه ساعت په لاکوم وي؟

صایب اصفهانی وایي:

شرم رویش ازعرق صد دیده بیداراداشت

چشم را هر چند در خواب گران افگند بود

از حجاب عشق صایب بود جانم زیرتیغ

گرچه برمن سایه ان ابرو کمان افگنده بود

د مینې حیا هغه پرده ده، چې د پټو او ښکاره ننداړو مخه نیسي، که معشوق هر څومره مهربانه وي، یا د صایب په قول هغې ابرو کمانې که هرڅومره د لطف سیوری وربانديې غوړولی وي بیا هم د مین سړی روح د مینی له شرمه ترچړې لاندې وي. که معشوقه هر څومره ځان په درانه خوب ویده هم واړوي. حسن هم حیا ناکه وي پرمخ یې د خولو څاڅکی ښکاره شي، مین ته یې د خولوهرڅاڅکی یوه وېښه سترګه په نظر ورځي چې د حسن پاسداري یې کوي.

یوه لنډۍ هم دې ته څه ورته مطلب لري:

یار مې چینار لاندې ویده و

لکه باښه پرې زنګیدم راویښ مې کنه

په پورتنۍ لنډۍ کې کې مېینه پېغله په دې خبره اعتراف کوي چې یار یې تر چینارلاندې ویده و،دې ته د غلچکی دیدن فرصت په ګوتو ورغلی و،خو د مینې د اظطراب له امله یې د پایلو ګړجونو او د پاولیو شرنګا راویښ کړ.

سحرصاحب هم د سعدی په قول "چنانچه افتد ودانی" د سپوږمې تتې رڼا ته د ویدې معشوقې په پټ دیدن سترګې خوږوي خو په زړه کې خدای خدای وایي چې دا راویښه نه شي،ځکه بیا خو به د مینې حیا د دیدن مخې ته لاس ونېسي.

تتې رڼا ته د سپوږمۍ یې پټ دیدن کومه

په زړه کې خدای خدای یادوم چې دا راویښه نه شي

په سراو ږیره کې د سپینو ویښتو را پیدا کېدل د زړښت پولې ته د نژدې کېدلو علامې دي، خوشحال بابا ځکه فرمایلی دي چې "ښایسته نجونې ترهیږي له دوه مویه"

سحرصاحب دې خبرې ته په سره چې ښایسته نجلۍ نه وترهوي وايي

چې ښکلی ووینې له لیري، وارخطا غوندي شي

سحر لګیا شي او له ږیري سپین تارونه باسي

سحرصاحب بدبین سړی نه دی، د هغو کسانو غوندې نه دی چې د دنیا وګړي درست ظالمان یا د ظالمان مله ګني،د هغوغونډې فکرنه کوی چې د ملګروملتونو غونډې ورته د مظلوموموملتونو د وېش غونډي ښکاریږی او د بشر د حقوقو اعلامیي د لویو قدرتونو د تجاوز پلمې بولي، بلکې د نړۍ ولسونه د روغي جوړي او د بشرد حقونو رښتني مدافعان په نظر ورځي نړیوال کله کله په کومه بده پېښه ژرعکس العمل نه ښکاروي پړه يې په خوب اچوي وايي:

جیلوانه! ورو زولنې اچوه لاسو ته زما

چې په شرنګې يې دا ویده دنیا راویښه نه شي

اوس به يې یو څو فرده نور هم درته په ګوته کړم نور تاسي پوه شی، مطالعه او نظرمو:

له ډېره وخته په ارمان د دستار

د صابر شاه ملنګ غنم ژاړي

یم هیرجن،چې دا وعده مې هیره نه شي

د پېکي تار دې راوتړه ترګوته

یا:

رباب ځړیږی په دارونو،نغمه لاس ترزنې

بنګړوته شرنګ ورکړه راځه د دیواله سیوري ته

ځان مو ونه لید د هیندارو له بازاره راغلو

رانده هم نه وو،بې امسا په دغه لاره راغلو

کابل به ولي اورکې نه سوځیږي

له هرې خوا لېونیان دلته راغلو

ما يې د اوښکو د تصویرله شانه دا ولوستل

یارمې ولورګتې، دوبۍ کې به کالونه باسي

محمد صدیق پسرلی

کابل- حمل۱۳۸۱


او ادبي خدمتونو د درناوي غونډه
د عمرګولي د میاشتې د نېټه

## د مینې او دردونو، د یوه انځور په څنډه...

د شپېتمې لسیزې وروستي پنځه کلونه په کابل کې د شعراو شعارترمنځ د یو ښکاره برید د راکښلو کلونه وو، دا هغه وخت و،چې نورنو چا د شعر په نوم په ډانګ پېیلوخبرو،سرو او شنو ترانو او د زنده باد او مرده باد منظونو نارو،لوستلو اواورېدلو ته زړه نه ښه کاوه،بلکې خلکو او تېره لوستونکو داسې یو څه غوښتل او لوستل چې د بې مفهومه شنو او سرو نارو پرځای د دوي زخمونه او دردونه په نرمو،پستو او نازکو ویونو ټکورکړي او په شعر ډوله مقفی نظمونو کې د اخطا رونو د ورکولو پرځای د دوي پرهرونه دعاطفې په اوبو ووینځي. دا خوځون یا که لږ صفا ووایو اوښتون څه په اسانه او ارزانه هم نه و راغلی، بلکې همداسې یوه اوښتون د راتلو په تمه کلونه کلونه زیار وګالل شو. د پاریال خوبونو شاعرعلم ګل سحرپه همدې کلونو کې د شعر میدان ته راودانګل او مخکې تردې چې په ناسمو لاروسم شي سمدلاسه د هنرپه فضا او ښکلی ورشو ورګډ شو.

د سحرصاحب د شاعرۍ د پېل شعرونو دا زیری درلود. چې پښتو شعر پراخي او ښېرازی ورشو ته یوبل شهسوار راګډېونکی دی. په همدې کلونو کې ماله سحر صاحب سره وپېژندل کله نا کله په د تو بل کوراودفتر ته سره تلو او راتلو د یوبل شعرونه به مو اورېدل،په تېره بیا د همدې لسیزې په ورستیو کلونو کې موږ ټول په دې لټه کې و،چې څنګه د هنر کوه قاف ته ځان ورسوو هغه و،چې ځینې شخصي او غیررسمي ناستې او مشاعرې مو پیل کړی.موږ سره په ډله کې اروانښاد اسحاق ننګیال،عارف خزان،ګران ازمون،نظیف تکل،مستان،زه اوعلم ګل سحر ملګري وو. په دې ناستو اوغونډو کې به مو د یو بل شعرونه اورېدل،په یو بل به مو کره کتنې کولې او ادبي بحثونه به مو کول او زه چې اوس د سحرصاحب شاعري ګورم پوهېږم چې دغوغونډو څومره کارکړی دی.

کله چې د سحر شعرونه لولو تر ټولو د مخه مو درې خبرې ترسترګو کېږي د وطن، د ورانې ځورونکې تراژېدي،انځورونه اومینه.

له وطن سره مینه د پښتوشعرترټولو پخوانۍ ګانه ده. د پښتو پېل هم په ویاړنه او د وطن په مینه شوی او د علم ګل سحر شاعري هم د پښتو شعر داوږدې لړۍ یوه ښایستوکې کړۍ ده. او زړه چاودون خو یې هلته وینو چې کله په وېښو ګوري چې وطن لوټېږي او د لمرونو قافلې لوځېږي او ننګونه خرڅېږي...

سحرشاعردی اوشاعران وايي چې ترعادي خلکو ډېرحساس دي او د پېښو په وړاندې ژرعکس المعل ښکاره کوي او د ده شاعرزړه هم د ماشوم په شان نهیلي په سر واخلي او لکه یو وزر ماتی مرغه ساندې وايي کله چې له یوې شپې تېرېږي او په بله اوړي او د رڼا څرك نه ویني نو وايي:

لمر مو په شا د سحر کلی ته ځو

بېرته په شپو بېرته په سیورو اوړو

د سحرصاحب په شاعري کې بله د یادونې وړځانګړنه د کابل د ورستیو کلونو د ژړونکی حالت انځوررونه دي،هغه دمره په هنر د کابل د سوځېدلو کوڅو،ورانو مالتونو او نړېدلو کورونو اوبیا په دغو کوڅو کې د وږیو او بربنډو خلکو د سوالګر ژوند انځورونه کاږي چې هم د سړی خوښېږي او هم سړی ژړوي وګورئ:

زما وږی نظر دې اننګو کې ځای ونه موند

د ښارماشوم سوالګر و، د ډوډۍ له څنګه تېرشو

د سحرپه شاعري کې ځیني ډېر ښکلی تصویرونه او کله نا کله دومره نادر شاعرانه ترکیبونه او انځورونه ترسترګو کېږي چې د ده نسل د ګوتو په شمیر شاعرانو په شعرونو کې به یې ونه ګورو:

د هغه تېزبینوسترګو او وېښ ذهن څخه هیڅ هم پټ نه دي پاتې او کله نا کله خو یې چې د ځینو ظالموخېرو دوه مخي ته پام شي دومره یې شاعرانه احساس پرې زورشي چې ان په بربنډه ورته نارې وکړي چې:

لاس له وینومینځې خو خېره دې بد لېدای نه شي

څوك به د کابل ورانې کوڅې له یاده وباسي

هغه د انسانانو ترمنځ لا د زشتۍ اوښکلا د نمانځونکو د نمانځنو تفاوت ته هم ځیرکېږي او بیا د مینه پالو او وینه پالو ترمنځ تفاوت په دمره هنرمندۍ راښیي چې لوستونکو ته خوند ورکوي:

څومره تفاوت دی مینه پالو وینه پالو کې

مورږ دا ستا له زلفو دوي سرونه سره لوبي کړي

او د همدې غزل د پای بیت خو د سحر د شعرونو یوتر ټولوغوره بېلګه کیدای شي:

ستا په تصورکې مې په وېښه رنګین خوب ولید

بیا سحرماشوم وي او له نجونو سره لوبي کړي

د علم ګل سحرپه دې مجموعه " پاریال خوبونه " کې د فورم په لحاظ غزل،یوه نیمه قصیده،منظومه او یوشمیر ازاد شعرونه راغونډ شوي دي البته یوڅو څلوریزي هم د دې مجموعې په ښکلا ورزیاتیږي.

که سحرصاحب خپه نه شی زما د هغه تر ازادو شعرونوغزل ډېرخوښ دی خو دا په دې مانا هم نه دی چې د هغه ازادو شعرونو ښه نه دي بلکې برعکس د هغه په ازادو شعرونو کې ډېرې داسې نمونې شته چې په سلو بدرنکوغزلو دې بلا وګرځي. هغه کله کله په ازادو شعرونو کې هم په دمره مهارت ځان ښکاره کوي او له ځانه د کابل د دردونو د یوه نماینده په توګه،

د دردونو داسې يو انځور وړاندې کوي چې هېڅکله يې له ښکلا سترګې نه شو پټولی که نه وګورئ !

چاوې چې دلته د سرونو سودا باب ده

زړونه نه خرڅېږي

خوما په خپلو سترګو ولیدل چې

پرون زمونږ د ويجاړ ښار په واټ کې

چا په یوه ډوډۍ

د پېغلې نجلۍ زړه راونیوه

پورتنی شعرد کابل د ورانې غمیزې تر ټولو ښکلی اونماینده انځور کیدای شي په دې شعرکې د کابل زخمي وجود ټول دردونه لیدل کیدای شي. په دې شعرکې زمونږ د هیواد د وران شوی او نړېدلې زړه ټول غمونه راټول شوي دي اوهمداسې در واخله دا بل شعر:

دواړه څپلۍ

د یوې لویې ښایسته مانۍ په مخکې

انتظار پرتې وې

تا به ویل د یوې بلې غوږکې بورلې

د ببلتون ویرنې

بس له اوږد انتظار وروسته هلته

یوه څپلۍ په وینو لژندو لاړه

کینه څپلۍ هم لاتراوسه انتظار پاتې ده

زه په يقين سره وايم چې تردې زمونږ د اوږدې غميزې ښه انځورګري که نا ممکنه نه وي نواسانه هم نه ده. د علم ګل سحر دا مجموعه ما ته داسې ښکاري لکه د مينې اودردونو يواځينۍ شوی انځور او ګران لوستونکی به ما په دې نه ملامتوي که زه د دې انځور په څنډه وليکم،چې علم ګل سحر د خپل نسل د ښو شاعرانو په ډله کې دی. خو دا خبري په دې مانا هم نه دي چې ګواکي د هغه ټول شعرونه په تول برابراو انتخاب وي. ښايي د هغه په شعرونو کې هم لکه د نورو شاعرانو ډېرې د تامل وړخبري وي،چې زما به ورته پام نه وي،مګرموږ يقين لروچې سحرصاحب لاځوان دی او لا هم په ډېرتينګ هوډ ملا تړلی روان دی،نو ځکه زموږامید دی چې هغه به د راتلونکو ډېرو ښو او ګوتو په شمير شاعرانو له ډلې څخه وي. هغه همدا اوس هم د پښتو شعر په راون بهيرکې ځانته ځای او خپل مقام موندلی دی. او که همداسې په پيګړۍ د شاعري کار او ورسره ژوري او همېشنۍ مطالعې ته دوام ورکړي انشاالله هغه ورځ به لېرې نه وي کې موږ يو رېښتنۍ شهسوارولرو. د شعر شهسوار،د هنرشهسوار اوهغه به سحر وي. نور نو زه د سحرصاحب د شعرونو او لوستونکو ترمنځ نه خنډ کېږم او تاسې د دې مجموعې لوستلوته رابولم.

په ډېر ادب

عبدالهادي هادي

د ۲۰۰۰ کال لومړۍ شپه، لومړی ساعت

## سحر او د پاریال خوبونه

هلك زړه مې لا هغه ليونۍ ښکلا وې،چې د ښاپېريانو په نکلونو کې يې زمونږ پرزوړنو پاچاهي کړی،تشي اوسانې نه بولي.خدای دې ترګونا راتېرشي نیمکښو پلونو ته مې ځکه سودا وي زه سکه وایم،د نکلونو ښاپېرۍ به يې ترشا پټې وي.

شاعري راته د نیمکښو پلونو او مرموزو ښکلاګانو ټاپو ته نرۍ لار ښکاري، او سحراشنا مې يو لاره وی دی. مادې دې ټولکې د پلونو ننداره څه پخوا کړې او په څه يې اوس ورګډ شوم، شاعر تر دې ړومبی يوه تولګه "د لمر جنازه" درلوده خو د ده د خولې خبره ده چې ما په هغه ټولګې کې چندانې د زړه غوټې نه وسپړلي او په برسيرنه وينا مې لوه او تنده نه ماتېده ځکه مې په بله بسم الله کړه.

شاعر په دې ټولګه کې لکه د خامکو بخې او د لاسي ولونو کار چې هم مهين والی او ترتيب غواړي اوهم تناسب او نوښت ټولی خواوې پاللې،شعر او شاعرۍ ته يې د زراعتي چرګوړو په څېر د يکنواختۍ کانه او ټوکه نه ده ورشوي. پخوا نو به ويل چې شاعر دې لږ دمره هڅه وکړي چې شعر يې د ده په ژوند پور پرې نکړي،خو که اوس ژوندي وای له مونږ سره به يې څه وړ کذاره وه چې د ورځې شل ټولګې لکه يخسوز او کنګل مړي راباسو او بيا نه حساب منو نه نرخ،ما ته هسې هم د کتابي خبرو چل نه راځي، شواړو به مو څه سر درخوږوم سحرد دې زمانې سړی نه دی،نرمه او اواره طبعه او د غرونو دروند خوی اوعادت لري،شعرونه د زړه د دربچو ګلالي بلبلان بولم، تاسې يې په خپله طبعه غاړو ته غوږ کېږدئ.

ساده زړګی مې دې نفرت جهان کې میني غواړي

سوالګرماشوم دی،د کابل ښارکې غلمیني غواړي

لاسونه مات، دعا بې نه رسي ترعرشه پوري

هغه چې شپې رڼا رڼا ورځې واړنګیني غواړي

په ډېر درنښت

ومان نیازی

۲۸/۱/۱۳۸۱



# د مينې شبنامـــــــــــې

"پاس سپوږمۍ ده لاندې ته يې" د ښاغلي علم ګل سحرد شعرونو دريمه مجموعه ده. کتاب وړوکی دی خو هغه متل دی چې وايي "روپۍ که وړه ده په تول پوره ده" د کتاب په (ج) پاڼه کې ليکل شوي: تا ته په مينه. سحر دا د ګل ګوزار په ټولو لوستونکو کړی دی، خو دا ګل چې د چا په ټټر لګيږي، دا بختورنو ټول لوستونکي نه،بلکې يوتن دی.

راځئ چې په دې يو تن پسې د سحر د مينې دا شبنامې يوه يوه ولټوو، ګوندې وي چې د لفظونو په زرګونو ګلونو کې دا يوه ورکه لولکه پيدا کړو. که پيدا يې هم نه کړو له دې خواږه لټون خو به خوند واخلو. ای! تاسې غوږ شئ په دې ګل غزل کې د سحرد جانان د پښو نازکه ښکالو اوريدل کيږي.

څومره د ږيرمې خپل جانان راباندې ګران دی
لکه ځان لکه ايمان راباندې ګران دی

لکه خپله خوږه ژبه راته ګرانه
لکه ګران افغانستان راباندې ګران دی

"پاس سپوږمۍ ده لاندې ته يې" دلته د دې دوو تر منځه خامخا يو دريم قوت شته چې هغه د سحر مينه ده. خو دا مينه پټه ده او د کوم ديوال سيوري ته ولاړه ده. دا ديوالونه د لفظونو او کلماتو له رنګينو او زرينو خښتو جوړ د سحر شعرونه دي چې دی يې د مينې په جامه کې سيوري ته ولاړ او تر سپوږمۍ لاندې د خپل معشوق پټ ديدن کوي. د فرانسې د مشهور شاعر لامارتين د شعر يوه ترجمه شوې مسره مې چيرته لوستې او په زړه کې مې تر اوسه ناسته ده. لامارتين وايي:

"مينه هغه زرين زنځير دی چې ځمکه له اسمان سره تړي."

سحر صاحب په دې کتاب کې خپل زړه راسپړلی دی. کله یې آزاد شعر ویلی، کله قافیه وال شعر او کله هم غزل. ځای ځای یې د ژوند نورې خبرې هم کړې دي. خو داسې ښکاري چې نورو ټولو خبرو ته یې زړه تنګیږي. بس یوازې مینه ده چې ډېر پرې غرېدلی دی .

که د سحر شعرونه وګورو نو تقریباً د شعر په دې ټولو چوکاټونو کې یو شان روان دی. ماته خو یې غزل، آزاد شعرونه او نور قافیه وال شعرونه ټول په یوه سویه ښکاري. کوم اضطراب چې شاعر یې شعر لیکلو ته هڅولی څه لږ غوندې سکون هم لري.که و یې هم نه لري،د شاعر څه نا څه تسلا پرې کیږي.

تیارو کې څړیکه د رڼا وه، ما وی ته یې هغه
سپوږمۍ کې پاتې څه ځلا وه، ما وی ته یې هغه

راته موسکۍ وه او زما په زړه یې لاس ایښی و
د زړه مې بل رنګې درزا وه، ما وی ته یې هغه

بس همدې خواږه اضطراب د سحر خوبونه تښتولي دي او هماغه تر سپوږمۍ لاندې ولاړ انسان ته شعرونه وایي:

زه له ماښامه تر سهاره پورې
تا ته شعرونه لیکم
خوب رانه هیر وي
ته مې په یاد یې
تا ته په پټه زه شعرونه لیکم
دغه د مینې شبنامې په ویره ویره لیکم

د همدغو شبنامو په برکت شاعر یوه شاعرانه واك ته رسیدلی او بې غمه یې په خپل زړه کې د مینې پاچاهي جوړه ده.

وایي چې زه په تا مین یم خلك هسې وایي
ته مې پاچا زه دې وطن یم خلك هسې وایي

د همدې مینې په برکت سحر داسې دوستان هم موندلي چې په ترورمۍ کې یې هم غورځیدو ته نه پریږدي.

ترورمۍ کې یې تیندك وخوړ ونه لوید

تر لاس ونیوه سحر یوه سړي

د سحر شاعري ډېره ساده باده ده. دا رښتیا ده چې ښکلا په ساده توب کې ده. خو د شعر له پاره کله کله د ژبې داسې ماتول په کار دي چې له عادي او ورځنیوتصویرونو یو بل نوی هنري تصویر ترې پیدا شي.لکه خوشحال بابا چې ویلي دي:

د چا ناحقه له مرګه ویره ده

دا چارکه ګورې هر ګوره غوره ده

زرګر وښی مات کا اوړی سازه کا

لاتر وښي اوړی بهتره ده

نو په کار ده چې دا مناسبه او ښکلې ماتونه د شاعر زده وي او په طبیعي ډؤل ترکیبونه، جملې او ژبني حالتونه داسې مات کړي چې یوه بله ښکلې جوړونه ترې پیدا شي.وښی دې مات کړي چې ښکلې اوړی ترې جوړه شي، خو داسې هم نه چې هم وښی مات شي او هم اوړی ترې جوړه نه شي. دا خبره یوازې سحر صاحب ته نه کوم، عمومي یې کوم، ځان ته یې هم کوم او نورو ته هم.

"پاس سپوږمۍ ده لاندې ته یې" د سحر په دې اوږده شعر کې ځای ځای ګرامري غلطي شته چې ښه نه لګیږي.
هغه پورته سپوږمۍ نه ده
هغه سیوری د نتکۍ ده

هغه سیوری د نتکۍ دی، باید وای چې دا غلطي په نورو مسرعو کې هم ترې شوې ده.

زړه مې تنګ له دې نړۍ ده
ترینه تاو تار د کمځۍ ده

دغه مینه څه کانې کړي
رانه هیر غم د ډوډۍ ده

د ښکلا تندر پریوتی

زما د زړه پر کوټنۍ ده

چې دلته په هره مسرعه کې ګرامري غلطي شوې ده چې د شعر خوند یې پیکه کړی دی.

په کتاب کې یوازې ستا لپاره یو آزاد شعر دی چې زما په خیال د کتاب تر ټولو ښکلی شعر دی. داسې بریښي چې سحر خپله ټوله مینه په دې شعر کې راټوله کړې ده. دلته د شعر روح هم مینه مینه دی. او مینه هم داسې مینه چې د خیر په قلمرو کې د شر په وړاندې غاړه هسکه ولاړه ده.

شعر داسې ښکلی پیل کیږي:

له زړه مې ټولې کینې وایستلې

اوس مې له ښکار څنې توبه کړې ده

او بس تمامه ورځ لګیا یم

په دامونو کې مرۍ پیمه

سپینو کوترو ته پایزیب جوړوم

تر دې وروسته څه داسې خبره نه ده چې شاعرانه او هنري دې وي. دا درې څلور مسرې تاسې هم واورئ، کیدای شي ماته به نا آشنا او غیر شاعرانه ښکاري. مسرې دا دي:

اوس د بې موره وري له اوښکو نه

شراب جوړوم

او پر سخت زړو یې ارزانه پلورم

چې یې له زړونو کینې کډې وکړي.

په هر صورت که دا درې څلور مسرې له همدې شعر و هم ایستل شي، شعر ته کوم زیان نه رسیږي. زیان خو څه چې زما په خیال د شعر ښکلا به ورسره لا زیاته شي.

خبرې ډېرې نه اوږدوم، ترسپوږمۍ لاندې چې هر څوك ده، خدای دې یې ښکلا د سحر په شعرونو کې وغځوي. آمین

**یادونه: دا لیکنه د سحر صاحب د کتاب په مخکتنه کې اورول شوې ده.**

پیرمحمد کاروان

**۱۳۸۵/ثور/ ۱۳کابل**

## علم ګل سحر یو HUMANIST شاعر

د انسان د پېدایښت سره سم د خیروشر د متضادې فلسفې پېل هم وشو او انسان د خیر و شر د فلسفې په ورکو لارو مساپر شو. خو په دې ډګر کې ورته د اختیار مزی هم په لاس کې ورکړلی شو او د کایناتو باچا ورته وویل، چې "زه تاسو ازمایم چې کوم یو په تاسو کې ښه کارونه کوی."

نو په فطري توګه په انسانانو کې دا جذبه هم پاتې شوه چې د خیرو شر په دې ډګر کومه لاره د ده دسرشت سره سمه ده.؟

که یو لورې تاسو د داسې انسانانو سره مخ کېږې چې په ورځ کې لس ځله انساني ارزښتونه له منځه وړي خو ولې تاسې به له داسې انسانانو سره هم مخ کېږې چې دهغې په سترګو کې د انساني مینې رڼا وي، دغه رڼا دهغه څراغ وي کوم چې دانسان په زړه کې ناست انسان یې په خپلو وینو بلوي.

اوپه همدغه ډول انسانانو کې یو هم ښاغلی علم ګل سحر دی چې زه یې د همیونېزم د نظر یې پلوی بولم.

که څه هم د انسان دوستۍ نظریه په ادبیاتو کې له پېړیو پېړیو پاتې شوې ده، خو د نړیوالې جګړې را په دې خوا د یو ادبي مکتب په حیث پېژندل کیږي د دې ادبي مکتب پېروکاران په خپلو لیکونو کې انساني ارزښتونو ته ځای ورکوي او هڅه کوي چې کوم ګواښونه او ننګونې انسان ته په مخکې دي دهغې خنډونو دلرې کولو شعور په انسانانو کې خور کړي.

زمونږ په پښتو شاعرۍ کې د انسان دوستۍ نظریه له هیڅ یوې ژبې کمه نه ده بلکې په دې برخه کې مونږ غني پانګه لرو تر ټولو ستر هیومیونیسټ خو رحمان بابا دی، چې په خپل غزل کې یې د انساني ارزښتونو دساتنې تبلیغ کړی دی

په پښتنه سیمه له پخوا راهیسې را روان ناورینونو دې ته لاره هواره کړې ده چې په دې قام کې دبشري حقونو د ساتنې شعور ژوندی پاتې شي، د

هیومیونېزم نظریه مونږ ته دا ښايي چې دانسانانو سره ښه وکړو پرته له کوم مذهبي او جعرافیايي توپیره پرته له نسلي او ژبني امتیازاتو، پښتون هومیونستهان خو لا دا هم وايي

که ته مې وژنې لاس دې هم نه نیسم

زما په یو حالت کې شر نه لګي: اکرام الله ګران

دلته شاعر په دې نه خفه کیږي چې ګوندې دهغه ژوند له خطر سره مخ دی بلکې دهغه په زړه او ذهن کې بس دا یو څراغ رڼا کوي چې څنګه دانسان پر وړاندې دانسان د ودرېدلو دود پای ته ورسیږي.

مونږ چې د ښاغلي علم ګل سحر شاعري لولو مونږ دهمداسې یو انسان سره مخ کیږو کوم چې انسان ته دانسان سره دمینې لاره ښايي.

جرمن لیکوال ګویتهه وايي:

" پرېږدئ! چې سر په زنګون کېږدم او فکر وکړم، تاسو وینئ چې زما د زړه له چینې ډېرې خوږې اوبه راخوټیږي چې د بشر تنده ماتوي" "ګویتهه"

مونږ چې د ښاعلي علم ګل سحر شاعري لولو مونږ ته دهمداسې یوې چینې نښې په لاس راکوي چې په ریښتیا هم د بشر تنده ماتوي او دا چینه دښاعلي په هغه شاعرانه زړه کې ده چې له انساني مینې نه ډك دی اوهمدغې جذبې هغه شاعر کړی هم دی او خیال یې ورته دومره وړ کړی چې د جذبې دبیان دپاره یې مناسب شعري علامتونه او ژوندي انځورنه تخلیق کړي دي.

ښاعلی علم ګل سحر په لاشعوري توګه دهومیونېزم د نظریې تر اثر لاندې پاتې شوی، هغه د خپل کتاب ډالۍ مور ته ځکه وړاندې کوي چې په زړه کې یې ورته د انسان او انسانیت سره مینه روزلې ده.

په خپله دلمر جنازې د کتاب همدا د ډالۍ دوه کرښې د ده په انسان دوستۍ دلالت کوي دهمدې مينې له سوبه سحر صيب داسې نظمونه تخليق کړي دي چې په لوستلو يې دانسان په زړه کې يوه زلزله جوړيږي د لمر جنازه شعري ټولګه کې د انسان په نوم يې يو نظم ليکلی دی په دغه نظم کې د انسان دتخليق پر ورخت دانسان په اړه دجوړو شوو تصوراتو يادونه کوي په کوم کې چې ويل کيږي د انسان د وجود له پاره خپله خاوره نه ورکوله زمونږدا ښاعلی شاعرهغه شيبه رايادوي چې په انسان خو هغه وخت لا ځکه پوی وه چې دا به دانسان په څېر ژوند نه کوي په دې نظم کې که څه هم د سحر صيب شعري ژبه طنزيه شوې ده خو له ټکي ټکي څخه يې اضطراب څاخي د نظم ځو کرښې يې دي.

ځمکه لا هغه وخت پوه شوې وه پرې

چې دا انسان انسان کيدلی نه شي

ژوند دانسان په څېر کولی نه شي

يو بل د بل پر ضد وسلې جوړوي

يوبه د بل په وينو ژوند تېروي

د لمرجنازه ۴۸مخ

داسې نه ده ګوندې سحرصيب په خپلو شاعرانه شيبو کې له انسانه مايوسه دی بلکې د انسان پورې يې ډيراميدونه هم تړلي دي خو کله کله چې په شنه فصلونو کې دوه قبر کيدونکي ګوري نو سوچ يې ضرور په مخه کوي چې ولې ځمکه په جنازو مړه شوه خو دا قبر کيدونکي ماړه نه شوو.

هلته په شنو فصلو کې

زمونږ د کلي د ګودر په غاړو

په کار لګیا قبر کیندونکي ګوري

کله یو ته شي په قهر ګوري

ځو شېبې وروسته د یو بل په غوږ کې

څه سره ووایي

موسکي شي سره

اوبیا په کار لګیا شي

ځومره په بیړه بیړه

زمونږ د کلي کروندو او شنو فصلونو کې دوي

لوی لوی قبرونه کیني

او ستړیا نه پیژني

... د لمرجنازه ۱۶ مخ

په دغه نظم کې په تسلسل سره انسان ته ښایي چې له خپل سرشته ځومره لرې تللی یې انسان ته دهغه دوه قبر کیدونکو یادونه کوي. چې په شنو د امیدونو په فصلو کې د ګودر چې د مینې او ژوند علامت دی دوي څنګه د قبرونو په کیندلو نه ستړي کیږي.

د دې نظم په انځوريزه ژبه کې د افغانستان پر حالاتو يوه له معنی ډکه تبصره هم ده، په کوم کې چې په لکونو انسانان ووژل شول او دا قبر کيدونکي لااوس هم ستړي نه دي.

د انسان دوستۍ دغه احساس له ښاغلي علم ګل سحر سره داسې مل دی چې په ټولو شعري شيبو کې يې چې دژوند په ښکلاګانو څه وايي او که د ژوند په ډرامه کې د انسان د کرکټر د بدرنګيو يادونه کوي خو مقصد او تصور يې د انساني ژوند ښېرازي ده.

همدغې احساس او همدغې جذبې د سحر صيب د تخليقي ژوند زياتره شيبې شاعرانه کړې دي. او لکه څنګه چې هغه خپله هم "د پاريال خوبونه" شعري ټولګه کې يادونه کوي په ځنې شعرونو کې يې په ريښتيا هم دومره تاثير پورت دی، چې د لوستونکي له خولې ورته په لاشعوري ډول ووځي "کاپر شاعر" دی. او همدغه ښاغلی اومان نيازی د شعر د ښه والي دليل ګڼي چې زه ورسره سل په سلو کې متفق يم.

او د دې وجه دا ده چې سحر صيب د انساني هيلو او انساني غوښتنو شاعري کړې ده. او د شاعرۍ ژبه يې د خپل سوچ او فکر مطابق راوړې ده. تاسې چې د سحر صيب شاعري لولۍ نو هلته به له داسې علامتونو او شعري ترکيبونو سره مخ شۍ چې که له يو لورې ځانګړي دي نو بل پلو دهوميونېزم د نظريې استازولي هم کوي.

يه د سپوږمۍ په ماتم ناستو خلکو

ترڅو به ژاړو په ورك شوي مړي

څو به حيران ګورو دستورو جنګ ته

راځئ چې سيوري کړو دځان ملګري

سترګو کې زړي درڼا وکرو

راځۍ چې ورکه ښکلا بیا راولو

اوښکې پرې ورکړو او خندا راولو

راځۍ بدل کړو دا باروت په رانجو

دغه دودجن بڼ ته هوا راولو

د پاریال خوبونه ۲۳ مخ

یواځې په دې نظم کې ډیر داسې علامتونه او ترکیبونه مونږ ته په نظر راځي چې له مخې یې د ښاعلي علم ګل سحر دشاعرۍ په هومیانیستي اړخ نور هم باوري کیږو.

د سپوږمۍ په ماتم ، دستورو جنګ،د سیوري دځان ملګري کول، د رڼا زړي ،خندا ، باروت په رانجو بدلول او دودجن بڼ ته دهوا راوړل، هغه شعري جملې دي. چې د شاعر له فکر او ذهن سره مو اشنا کوي او په دې مو متیقن کوي چې د ګویټه په خبره دخوږو اوبو چینه د سحر صیب په زړه کې را خوټیږي چې په ریښتیا هم د بشر تنده پرې ماتیږي.

دا مهال ماسره د ښآغلي علم ګل سحر دوه شعري تولګې غوړیدلې ایښې دي. او په دې دوه ټولوګو کې چې زه د سحر صیب د شعر په هیومیونستي اړخ غږیږم د نظمونوهره دویمه مصرعه راته چغې وهي چې ته څه لټوې. هغه دلته دي ځکه چې دهغې نظم جوړښتي پیکر له داسې توکیو جوړ وي، چې سړی ترې انکار نه شي کولی.

زه نه پوهیږم له هغه یو شمېر علامتونو او ترکیبونو چې د سحر صیب په نظمونو کې کې موجود دي، څومره به هغه په شعوري توګه کارولي وي. اوڅومره به د لاشعور د جزیرو نه د تخلیقي شیبو سره مل شوي وي. خو یو ځانګړی رنګ اوخوند لري.

که څه هم سحر صيب غزل هم ليکي او که په حقه قضاوت کوم نو ډيربد يې هم نه ليکي خو زه يې چې کوم خوند او زور په نظمونو کې وينم د ستايلو دی. په ځانګړې توګه په ازاد نظم کې د سحر صيب کمال د ستايلو دی. ولې چې ما په ډيرو کتابونو کې کتلي دي چې د ازاد نظم په نوم يې هسې لنډې اوږدې کرښې تاوې کړي وي، هغه رتهم چې په ازاد نظم کې بنيادي عنصردی نه لري خو د سحر صيب ازاد نظمونه داسې نه دي، بلکې يو تسلسل لري او د فکر چې بنياد يې په انسان دوستۍ ولاړ دی مزیترې غوڅ شوی نه دی او نه يې د خيال آس بې لارې شوی دی.

په پاي کې د سحر صيب دغزل يو داسې بيت راوړم چې هغه يې د ماشوم نقل قول ګڼي خو د نړۍ د پوهانو په مخ کې يې يو داسې سوال ايښی که څوك پرې غور وکړي، نو د انسان پر وړاندې د ولاړ انسان له لاسه به توپك وغورځيږي.

سړي لکه سپي ولي کړي په خپلو کې جنګونه ؟

"روښان" داسې کولې له "رومان" سره خبرې

طاهر ځلاند



## د مینه ناکې زمانې په لټون پسې ورک سحر

ایا داسې وخت هم کله راغلی چې په هغه کې یوازې مینه وي کرکه نه وي اویا کرکه وي مینه نه وي؟

ایا د کرکې ځای مینه نیولی او یا د مینې ځای کرکه نیسي؟کرکه څنګه په مینه بدلېدای شي او مینه څه وخت په کرکه بدلیږي؟

ایا ښکلا اومینه سوله زیږوي او یا جګړه د کرکې زیږنده ده که نه؟که مینه وي ژوند به څه ډول وي! او هغه ژوند به څنګه وي چې په هغه کې کرکه وي. دا ټولې هغه پوښتنې دي چې د تکړه نوښتګر شاعر علم ګل سحر په نوي چاپ شوي شعري ټولګې(پاس سپوږمۍ ده لاندې ته یې)کې ځواب شوی دی.سحرهڅه کړې چې په اصلي مانا مینه خلکو ته وښايي او کرکه بولي.او مینه د ژوند جوهر،د هرې ستونزې حل او د هر زخم پټۍ ګڼي.

د سحر د شعر نوی والی په دې کې دی چې ده د خپلو شعرونو ډېره برخه د مینې او کرکې پرتلې ته ځانګړې کړې ده. زه د ده په شعرونو کې په ترکیبونو،د الفاظو په جوړښت او یا نورو بر خونه غږیږم، زه یوازې د مینې او کرکې یا کینې په اړه په عمومي ډول خبرې کوم.

کیدای شي خبرې مې ډېرې نیمګړتیاوې ولري خو د سحر شعرونه مې خوښ شول او دازړه یې راکړ چې پرې وغږیږم.

...که ښکلې نه وای

دا جګړې به تردې هم ګرمې وې

د هر چا زړه کې به د کرکې اورو

د هر چا زړه به له ژوندونه تور و...

د ښکلو او جګړو یې سره څه؟ ایا ښکلې د جګړې مخنیوی کولای شي؟

هو ښکلي او جګړو په کموالي او ورکولو کې ډیر څه کولای شي او کړې یې هم دي که ښکلي نه وای نو دهغوئ له پاره به د خلکو په زړونو کې مینه نه وه او په زړونو کې به کرکه وه او کرکه ده چې جګړې زیږوي او هغه زړه چې په هغه کې مینه وي هیڅ کله جګړه نه غواړي، نو ښکلي د مینې سبب شول او مینې له زړه کرکه وایستـه او د کرکې نشتوالي د جګړو کموالی راوست.

سحر په دې باوري دی چې په یوه زړه کې مینه او کرکه دواړه سره یوځای نشي ځایدلی له دې دوو څخه که یوه زړه ته راځی نو یوه به ترې وځي.

زه تر ماښې لاندې په خپلو غوږو لاس کېږدمه

هسې نه نوم یې واورم

ستا د نیکمرغه مین

او په لومړي ځل مې په زړه کې کینه وټوکیږي

د مینې ځای ونیسي...

که مینه یا کرکه د مینې ځای نیولی شي نو ښکاره ده چې مینه هم د کرکې او کینې ځای نیسي، مینه د کینې په راتلو سره له زړه ووته.که چیرې موږ مینه وغواړو چې زړه ته راشي نو کینه به په خپله له زړه کډه وکړي.

سحر د مینې نه یوه خالي زمانه، یوه بې مینې زمانه انځوروي او ټولې ستونزې د مینې د نشتوالي سبب بولي.د شعر یوه برخه یې:

...لکه چې ته دلته بې وخته راغلې

لاخو کینې دي،

لاخو کرکې خورې

لاخو د مینې جامې رنګ دي

د ګناه په وینو

لا د قابیل هابیل کیسه ده

د هرچاپه ژبه

او د بلقیس او سلیمان مینه

له ټولو هېره

ځمکه فساد نیولي...

د دې شعر په زمانه کې کرکه ډیره غښتلې ده په دې وخت کې زړونو ته مینه لار نشي پیدا کولای. د شاعر دا وخت په ښکلا نه لوریږي او هغه ته بې وخته وخت وایي:

د ده د شعر یوه بله برخه:

...ته لکه زه په یوه ورکه پسې سترې ښکارې

مینه،مینه،مینه!

اوه،نه پوهیږم

ښایي دا هم سترې وي

ښایي چې مینه هم

تیارو کي سرګردانه ګرځي

د یوه زړه په لټه

داسي یو زړه چې کرکه نه پېژني...

د دې شعر په اخر کې ښکلا ته پنا وروړي او په مینه کې ځان نغاړي:

...ته په وړانګینو لاسو

دا د رڼا تناب راخورکړه

ما در واخله ښکلې

چې دې نفرت– نفرت جهان کې مې

نور زړه تنګ شوی

شاعر ښکلی په زړونو کې د مینې پیداکونکې ګڼي او د هرې جایزې وړ ښکلی ګڼي، ځکه ټولې بریاوې په ښکلو پسې تړي او وایي ښکلي دي چې په غیر مستقیم ډول انسان ژوندی ساتي (نو بل د ښکلو حق دی)شعر کې:

دوی جائزه د نوبل چاته ورکړه

یا زورور،یا یې پاچا ته ورکړه

چې یې یوازې په خبرو مینه وستایله

چې یې یوازی په خبرو کرکه وغندله

هغو چې جنګ یې کاوه ویې نه کړ

چې د څه وخت لپاره لیرې و

د جنګ له شره

دوی اتلان د سولې یاد کړل هغه...

شاید چې نوبل کله ښکلې هم لیدلې نه وي

چې یې باروت یادول

بیا یې چې ښکلې کله ولیدلې

نوټول ویاړونه یې د مینې ترنامه قربان کړل

ټولې برياوې يې بشر ته ورکړې

ښايي دوی هېره وي اصلي خبره

هاچې الفرډ د ځنکدن وروستو شيبو کې وکړه

– نوبل د ښکلو حق دی

– نوبل د ښکلو...ښکلو....ښکلو حق دی

دوی جايزه د نوبل چا ته ورکړه

يازورور، يا يې پاچا ته ورکړه

بيا به يې ومنم چې دوی مینه او سوله غواړي

که يې داځل جايزه تاته درکړه

شاعر له کينې څخه پاك زړه ښکلا ليدل ګڼي او کرکو ته چلينج ورکوي وايي:

زه مې کينې ته دزړګي دروازې

شاعر تل مينه غواړي د مينې په اسبابو ځان تر مينې رسول او د کرکې اسباب ماتوي

...پلار راته آس او يو ټوپك په نذرانه ومنل

په آس به ستا په لور مزل کومه

ټوپك به مات کړم

چې کينې خوروي

له میل یې تا ته غاړګۍ جوړوم

د ملا خوږ غږ مي غوږو ته راغی

ما وې ستا نوم یادوي

سترګې مې پرانستلې...

او یو بل ځای یې د شعر په یوه برخه کې په ډیر ښه تمثیلی ډول د مینې او کرکې تصویر کښلی:

... معلم ریاضي راښوده

خو زما یوازې(جمع) زده وه پکې

(تفریق) مې بد ایسیده

ما له کتابه د (تفریق) او(تقسیم) پاڼې،

ټولې وښکولې

ټولې د زرمل د راده خړو اوبو یووړلې...

جمع مینه ده جمع یو ځای کیدل دي او کرکه او کینه بیلتون راولي او د تفریق خاصیت لري.

په (پاس سپوږمۍ ده لاندې ته یې) کتاب باندې بل کتاب لیکل کیدای شي. لنډه دا چې سحر د مینې لار ښود شاعر دی.ده په مستقیم او غیر

مستقیم ډول په خپلو شعرونو کې د مینې لاربنوونه کړې (یوازې ستا لپاره) شعر یې زما په نظر دداسې شعرونو تر ټولو غوره نمونه ده. په دې شعر کې به تاسو واورئ چې شاعر د حسن لپاره څو مره لوړ انساني کارونه کوي او څنګه د کرکې او کینې مخه نیسي زه خپلې خبرې په همدې شعر پای ته رسوم.

خدای (ج) دې سحر په دې نوې لارکې لا نور هم بریالی ولري او دا برخه هنر ده، د غزل ستوري استاد پسرلي په وینا (مینه هنر ده د هنر عمرونه ډیر اوږده وي).

## یوازې ستا لپاره!

له زړه مې ټولې کرکې وایستلې

اوس مې له ښکار څخه توبه کړې ده

اوس له کاریز نه بغدادي کوترې نه کټوم

او بس تمامه ورځ لګیا یم

په دامونو کې مرۍ پېیمه

سپینو کوترو ته پایزېب جوړوم

اوس د بې موره وري له اوښکونه ................ شراب جوړوم

او په سخت زړو یې ارزانه پلورم

چې یې له زړونو کینې کډه وکړي

له زړه مې ټولې کرکی وایستلې

اوس مساپر په کاڼو نه ولمه

اوس ګلان نه شکوم

له لارو نه اغزي ټولوم

په لاره تلونکی ماشوم ښکل کړم

د سپین ږیري بوډا لاس ونیسم

له زړه مې ټولې کرکې وایستلې

اوس له دښمن نه کسات نه اخلمه

اوس د غومبسو کور په خټه باندې ............. نه پټوم

په مار د کاڼي ګوزار وکړم .................. خو خطا یې ولم

بس هسې ځان ترې ژغورم

هغه هم هسې درحمان* د یارانې په خاطر

اوس له خوبونو مرور یم

ټوله شپه په تلاوت تېروم

او د قرآن زرينو پاڼو کي

يو نوم لټوم

له زړه مې ټولې کرکې وايستلې

اوس مي ټوپك پر اوږه نشته

او له ميل نه يې شپېلۍ جوړه ده

په کي د ميني ترانې غږوم

دا ټول دا ستا لپاره

ځکه دوئ وايې

په جنت کي حورې ستا غوندې دي

نذير احمد نذير

## علم ګل سحر یو شاعر نوم

چیرې که زما وطن ته ولاړلې

ماتو ارمانو ته سلام ووایه

د افغانستان د پکتیا ولایت د ګردیز ښار وروستۍ غربي برخې نه د زرمت ولسوالي شروع کیږي، دا سیمه هواره پرته ده، ښه هوا او اوبه لري. پخوا پکې ډیر ښوونځي و او یوه ښکلې لیسه یې هم درلوده هرسحر به ډلې ډلې شاګردان لیرې لیرې ښوونځیو ته روان وو او دولس کاله ما هم د دغو محبتونو په ډلو کې ځان بایللی و.خو د وطن د وروستیو پیښو د وینو په محشرکې ډیرو ښوونکو اوشاګردنو د خپلو سرونو سره لوبې وکړې او ښوونځي ټول په ویروونکو کنډوالو بدل شول.

د دې سیمې(زرمت) د خلکو لویه برخه له تعلیم سره د بې ساري مینې په ټینګ تار تړلې ده. زیات شمیر تعلیم یافته او د شمار سړي چې اوس په بهرنیو هیوادونو کې ژوند کوي، د دغې مهربانه سیمې له خوږې غیږې نه راپورته شوي دي.

دې سیمې ډیر داسې شاعران،لیکوالان او ژورنالستان هم روزلي دي چې نه تنها د افغانستان په دننه بلکې زموږ له هیواده د باندې هم ښه شهرت لري او د خپل قلم په توره یې د وختونو دردونه سم ګاللي دي.

په دغو ښاغلیو کې غلام محی الدین زرمتی،استاد حبیب الله جاج پښتونزوی، میراجان سیقي، مرحوم اخترمحمد ویسایي، مرحوم حلیم ظریفي، ډاکټر نبي زرمتی، محمد نبي صلاحي، نصرالله زرمتي، تاج محمد یاري،عطامحمد یاري. سید فخرالدین هاشمي، مدت عیني اوعلم ګل سحرشامل دي.

په دغه لیکنه کې نن زه د علم ګل سحر په اړه له ګرانو لوستونکو سره ډیرې لنډې خبرې کول غواړم. که سحرصیب چا لیدلی نه وي نو د نرم طبیعت

او درووند شخصيت خاوند دی. په ظاهره خو يو ساده کليوال پښتون بريښي ولي د لوړو تعليماتو خاوند او د خپل هنر په اړوند يې ډيرې او بيلي بيلي دولتي چارې هم سرته رسولې دي. په هرڅه پوهيږي ولې پټه خوله د ده يو هميشنی عادت ګرځيدلی دی.

کله چې متجاوزينو زموږ خاوره په وروستيو لسيزو کې د جګړې اور ته حواله کړه، علم ګل سحر زموږ د نورو قلموالو په څير د ژوند ډيرې بدې او ترخې ورځې دهيواد دننه تيرې کړې لوږې، تندې، توهين، تهديد او ډيرې سړې تودې يې وګاللې. خو دی له دې هرڅه سره پټه خوله پاتې نه شود ده د قلم او شعر وجدان غلی نه شو، متعهد او ذمه وار پاتې شود داسې سفر څپلۍ يې په پښو کړې ترڅو ټول وطن او ټوله دنيا خبره کړي، چې دده په ټاټوبي څه تيريږي:

که بدرنګ مو په سرو وهي ميخونه

خو دا ښکلي مو په زړو وهي ميخونه

دروازې د زندانونو يې پرانيستې

د مکتب په دروازو وهي ميخونه

بس دمينې سخت سفر يې دی په مخ کې

خوار سحر بيا په څپلو وهي ميخونه

د ده په شعر کې د الهام او تصويرترڅنګ مطلب نغښتی دی او ساده ګي درته پکې له ليرې ځان ښايي چې دا دغوره او ښې شاعري خصوصيات دي.

د سحرصیب په شعر کې د ده د مینې د بې پایه انځورونو او خیالونو په تنابونو کې یو ارمان تصویر شوی دی داسې ارمان چې د انسان او انسانیت په رنګ او خوند ښکلی شوی دی او باالاخره جدا پیغام او پیام لري.

شاعر جنګ او جګړې ته د نفرت په سترګه ګوري او ټوپك سالاري او ددغې ورور وژنې ډنډوچیان د خپل وطن د بهرنیو دښمنانو تحفه او سوغات بولي:

د خندا فصل له شونډو زموږ لوکړي

ستا له زلفو نه ګلونه یوسي ولاړ شي

له کوم خوا به داسې څوك را پیدا نه شي

چې مرمۍ او ټوپکونه یوسي ولاړ شي

هغه ولیدل چې داسلام،سیاست او عدل په نامه دعویدارو یوه شیبه هم د ده وطن مذهب قاموليۍ او عزت په اړه سوچ ونه کړ:

دلته دي ګرمي د روپۍ سندرې

څوك کله اوري د سپوږمۍ سندرې

د شهید قبر باندې هرمازدیګر

وي د بنګړو دلۍ دلۍ سندرې

سحره ښکلو ته غزل مه وایه

پرې خوږې لګي د ډوډۍ سندرې

علم ګل سحر یو ښاغلی او با شعوره شاعر دی یوه چاپ شوې ځانګړې شعري مجموعه هم لري چې د لمرجنازه نوم یې پرې ایښی دی. په دې

مجموعه کې د ده د ماشومو چغو او ساندو دشعري خوند ښکالو هم تر ښکلو انځورونو ځان رسولی دی او په لوستونکو باندې د پوهيدو کوښښ هم شوی دی،خو کومه شاعري چې ده له هغې وروسته کړې ده د يوې ډاډمنې لارې د نوي رنګ او خوند شاعري ده.

زه پوره ډاډه يم،چې د ده راتلونکې شاعري به د ډيرو مينه والو تنده ماته کړي. او دی به د پښتو شعر د لويې لارې باوري لاروی پاتې شي. په همدغه اميد او د دغې ګرمې هيلې په خواږه انتظار کې...

---

**يادونه: دغه مقاله د پيښور چاپ وحدت ورځپاڼې د د ۲۰۰۲ کال د نومبر مياشتې په ګڼه کې خپره شوې وه.**

ډاکټر محمدالله رازق



## سریزه

ما ویل د سریزې کار دی، له یوې مخې غرېه غره وله، چې چا ته ښه شي،خو خدای (ج) مې پرده کوله،ټوکه را یاده شوه،وایي به کوم کلي کې ترهغه ورسته چې کلیوالو زوړ ملا پسې واخیست او پرنوي یې امنا وکړه،نوي ملا د ماسپښین تر جماعت وروسته څادراو پټکی وشرتل،د جومات ترمخه یې اتڼ ته ښه پونده ورکړه. کلیوال لکه لنده برېستنه چې پرې وغوړوي،سره راغونج شول. ملا چې د څټ پرخولو لمن راتېروله، کلیوالو ته یې مخ کړ: ګورئ عزیزانو! سبا به نه وایاست چې ملا زموږ په چمبکښو او چکیدو مست شو،زه له ځانه مست یم.

ما له دې ټوکې یو وېش او خپلو خبرو ته لاره سیخوله، نن سبا دا خبره کیږي چې شاعران دوې ډلې دي: یو کوششي او بل جوشي،چا چې دا وېش کړی،استدلال کوي چې د کوششي شاعرانو شعرونه تر ډېره حده په تول برابرخیژي،مطلب دا چې وینا یې د منتقدینو ډېرې ګوتې نه وړپریږدي،خو جوشی شاعران،چې وېش ګرندو د کوششیو په وړاندې درولي،د دوی په شعرونوکې یې بیا د منتقدینو د څادر او څپلۍ د زغم امکان نه دی رد کړی . خو زما د ټوکې (مستي) ته سودا وه،چې زه یې د وېش ګرندو د وېش په سر کې بولم،مانا دا چې شاعر باید له ځانه مست وي،بیا که کوششي وي یا جوشي، الله تعالی دې راولي،ځکه دا قریحه یا تومنه ضروري ده.

دا له شکه وتلې خبره ده چې زموږ ډېری شاعران،شاعري په پېښنو پیلوي. ځنې ترپایه په همدې "پای روك" پورې نښتې وي او که یې ورنه لېرې کوي،پر ککرۍ لګېږي،هغه مخه یې شي او ځینې پرېښوتګ پیلوي.مطلب دا چې خپلوتجربو ته یې مخه شي او دا بیا هغه وخت دی چې زموږ له یو حسابي شاعرسره سروکار وي چې خپل بیرغ ،فضا او قلمرو ولري. ما د وضاحت په خاطر یو دوې بېلګې را اخېستې دي اونه غواړم چې خبرې رانه شواړې شي. په سحرصاحب مې په سر کې غاړې خلاصې کړې وې،چې د اوږدې پرېړې تمه دې نه لري.

زه له سحرصاحب سره له ډيرې مودې راهيسې د شاعرۍ او انډيوالۍ تارلرم پته دې نه وي چې د ده له خوا کله نا کله اومړی شي، خو زه يې بېرته مزی کړم . ما چې د ده شاعري کتلې،هر وخت مې خوند ترېنه اخېستې؛د ده په شاعرۍ کې درد ،غوښتنې،هيلې اوارزو ګانې ګډې او مشترکې دي. يانې د هرافغان،يا بهتره ده چې ووايم هر انسان درد دی. خوکله چې دی د مينې پرده غړوي، د ده مينه د يو سپېڅلي کليوال بې غشه، سوتره او سوچه مينه ده،چې په ډيرومحرومیتونو،بندونو، ځنځيرونو کې لکه د( ويلون) کلاسيکه نوا ايساره ښکاري او زه يې همدې کونج ته خوشحاله يم،چې د ده شاعرۍ کې يې نوی خوند او رنګ را پيدا کړی دی. زه دې پښتو شاعرۍ د ودې په خاطر په همداسې مينه کې پکو غواړم.

که څه هم د سحرصاحب د دې ټولګې ډير شعرونه په زړه خپړې لګوي،خو ما د خپلو پورتينو خبرو د کره والي په خاطر دا دوې بېلګې راواخېستې:

**يوازې ستا لپاره!**

له زړه مې ټولې کرکې وايستلې

اوس مې له ښکار ځنې توبه کړې ده

اوس له کارېز نه بغدادي کوترې نه کټوم

او بس تمامه ورځ لګيا يم

په دامونو کي مرۍ پېيمه

سپينو کوترو ته پايزېب جوړوم

اوس د بې موره وري له اوښکونه

شراب جوړوم

اوپه سخت زړو يې ارزانه پلورم

چې يې له زړونو کينې کډه وکړي

له زړه مې ټولې کرکې وايستلې

اوس مساپر په کاڼو نه ولمه

اوس ګلان نه شکوم

له لارو نه اغزي ټولوم

په لاره تلونکی ماشوم ښکل کړم

د سپين ږيري بوډا لاس ونيسم

له زړه مې ټولې کرکې وايستلې

اوس له دښمن نه کسات نه اخلمه

اوس دغومبسو کور په خټه باندې

نه پټوم

په مار د کاڼي ګوزار وکړم

خو خطا يې ولم

بس هسې ځان ترې ژغورم

هغه هم هسې درحمان* د يارانې په خاطر

اوس له خوبونو مرور يم

ټوله شپه په تلاوت تېروم

او د قرآن زرينو پاڼو کې

يو نوم لټوم

له زړه مې ټولې کرکې وايستلې

اوس مې ټوپك پر اوږه نشته

او له ميل نه يې شپېلۍ جوړه ده

په کې د مينې ترانې غږوم

دا ټول دا ستا لپاره!

ځکه دوی وايي

په جنت کې حورې ستا غوندې دي

او يا:

ما لاخپل ځان ته ستا د تلو خبره نه ده کړې

ګلان ژوندي دي،لاوړمو خبره نه ده کړې

زه خو د مينې يوه بله زمانه کې اوسم

ما د وصال،ما د بوسو خبره نه ده کړې

هسې نه ټوله دنيا کرکه شي،کښې خورې شي

چاته مې ستا د ناکردو خبره نه ده کړې

پرتاهم ګرانې دي، زما غوندې ستا ښکلې سترګې

اينې ګورم، اينو خبره نه ده کړې

تر پایه ...

په کې علم ګل سحر ته د لا زیاتو بریو دعا کوم الله ج دی شین چمن لري.

اومان نیازی

۱۳۸۳/ ۶/ ۱



# پاس سپوږمۍ ده لاندې ته يې

ښاغلی علم ګل سحر،چې "د پار يال خوبونه" خيالي تصويرونه يې په سندرو اړولي دي، دا دی د سپوږمۍ بې ازارې رڼا ننداري ته مو وربولي.

شعرلکه يو ښکلی خوب داسې دی،چې پر ويښو شپوهم خپل مرموزاثر شيندي. سحر به تاسې د پار يال خوبونو په خيالي نندارو کې ليدلی وي،خو اوس به پاس سپوږمۍ ده لاندې ته يې کې به له بل سحر سره مخامخ شی.

انسانان لږو ډېرپه ظاهراو باطن کې له يوبل سره توپير لري،خو دمره نه هر څوك د خپلې پيمانې په اندازه په غم غمجن، په خوښۍ خوښ او له ښکلا څخه کيف اخېستونکی دی.

ګرانه لوستونکيه! د سحر د شعر په جهان کې په مينه،مينه وګرځه، خامخا به ځای،ځای ستا له زړه راغلی وي. داسې څه به بې ويلي وي چې ستا په زړه به ګرځېدلي وي اوته بې له هنري کولوعاجز يې ښه شعر ارواوو ته ځلا وربښي،ښه شعراحساسات،عواطف، ذوقونه روزي اوښه شعر انسان له بدرنګيو څخه ژغوري.

د همدې کتاب شاعرښاغلی علم ګل سحر يوخوږ او صميمي انسان دی او دا شعرونه د ده د ښکلې طبعې زېږنده دي او د کاغذ پر مخ به هم کيفيت درولېږدوي. د سپوږمۍ په شپه به مو د شنه اسمان له سپوږمۍ څخه خوند اخېستی وي،همدا سپوږمۍ په اوبو کې هم يو بل کيف او خوند لري. همداسې د شاعر له زړه او احساسه راوتي شعرونه د کاغذ پر مخ هم ژوند کوي، د شاعر شعرونه ستاسې په ژوند کې هم خوند او رنګ شيندلی شي. راځئ چې سحر ته د لا ډېرو ښکلو شعرونو د پنځولو دعا وکړو.

په مينه او ډېر ادب

پير محمد کاروان

## لا هم خارمه ستا لارې!

شعرهم د خپل شاعر له ژوند او د وخت له حالاتو سره سم یون کوي،پخیږي، سکالو اوانځورونه یې بدلیږي اود شاعر له پړاوونو سره سم پړاو وهي. که څه هم مینه داسې یوه سکالو ده،چې د اکثرو شاعرانو لپاره نه زړیږي او له وروستۍ سلګۍ سره هم د مینې غزلې وایي،خو ګورو چې کله یې بیان ژبه، کله یې د احساساتو انځورونه او کله یې هم د مینې سکالو بدلیږي،له زلفو او رخسار څخه وطن ته اوړي ،کله د دواړو له څښتن ( انسان) سره په مجرده مانا او کله هم بیا د درې واړوهستوونکي او پنځوونکي ته ځانګړې شي.

زه یوه ورکه ښکلا

کله په ځان کې ګورم

له ځانه ووزمه ژر

ښکلا جانان کې ګورم

هیڅ مې تسل ونه شي

په ټول جهان کې ګورم

او یاهم په (کمال )کې دا ښکلی فکر وګورئ:

دانسان زړه ته دې لار نه کړه پیدا

په آسمان لاره اوښتل څه معنا ؟

د ځینو شاعرانو په شعر کې فکري یون او د ځینو شاعرانو په شعر کې بیا د زمانې یون ډېر پیاوړی وي. د خوشال بابا په شاعرۍ کې فکر او زمانه

دواړه ښنګ په ښنګ روان وي. د پښتو ژبې د پیاوړي شاعرعبدالباري جهاني په شاعرۍ کې هم د همداسې پړاوونو غوره بېلګې لیدلای شو، که موږ د جهاني صیب شاعرۍ ته وګورو نو په لومړۍ ټولګه کې یې زیات د جهاد، مقاومت او مېړانې جذبې ښپې وهي، دویمه ټولګه یې زیاتره دهیلو او امېدونو وړانګې شیندي، په درېیمه کې بېرته ناهیلي ښپې وهي او په همدې ترتیب وړاندې.

زما په اند د سحرصیب په شعرونو کې هم د فکراو ژوند د یون او بدلون همداسې نښې لیدلای شو. د شعرونو په دې ټولګه "لا هم ښارمه ستا لارې" کې لا هم مینه د زیاترو شعرونو اساسي سکالو ده، خو داسې ښکاري چې عقل پر احساساتو غلبه کړې او د احساساتو پر ځای عقل پر زړه باندې حکم چلوي.

پخواهر څه را نه هیر و، ته مې یاد وې

اوس مې ژوند ته هم ور پام دی،

ژوند کومه

**اویا هم دا بیت وګورئ:**

اوس هم له هغې کوڅې تیرېږم

خو اوس ځمکې ته ګورمه او لوېږم نه

وایي، چې مینه ړنده وي او چې څومره ړنده وي هومره یې زوړه بر وي، خو چې څومره بینا کیږي هومره محتاطه کیږي او هومره سنجیده کیږي.

اوس مې هنرد هیرولو زده دی

اوس د احساس په خوښه نه ځم چیرته !!!

د سحرصیب په اوسنیو شعرونو کې نه یوازې له ښکلا سره،له زلفو او له رخسارسره په مینه کې سنجیده ګي او تعقل ښکاري، بلکې د وطن په مینه کې هم د پخوالي،فکر اوتجربې روښانه څرك لګیږي او زما په اند همدا سنجیده مینه کولی شي وطن له اوسنیو اورونو او دردونو څخه وژغوري. زما په اند که چېرې افغان ولس همداسې پخوالي او سنجیده ګۍ ته ورسیږي. او د خپلې هرې قربانۍ پر وړاندې يې د ثمرې غم هم وخوري نو بويه چې دا هېواد او ولس به نور د رښتيني سرلوړۍ پر لوري ګام اخلي. له بده مرغه موږ له وطن سره هم ړنده مینه کوواو له همدې امله تل قربانۍ ورکوو خو نه مو ځان ته ګټه رسيږي او نه مو هم وطن ته، ځکه چې زموږ مینه د تعقل پر ځای یوازې پر احساساتو بنا وي. د " ازادۍ څلی" په شعر کې د افغانانو ړندو احساساتو او غرور ته ډېره ښه نغوته شوې:

هريو غاصب راشي زموږ وطن ته

زموږ سرونو څخه جوړ کړي څلي

کلي ښارونه مو ویجاړ کړي راته

سیلاب وي موږ ورسره یوسي خلي

* * *

خپله مدعا چې سرته ورسوي

د خپل وطن په لوري دوی روان شي

موږ وايو دادی بل قدرت مو مات کړ

اوس به مو بیرته وران وطن آباد شي

بس یو دوه،درې څلي نور هم آباد کړو

وطن مو هغسې رنگ بنگ پاتې شي

غاصب په روغو پښو ووځي رانه

راته میراث یې یو بل جنگ پاتې شي

**او یا هم په دې شعر کې :**

مورې په وینو ازادي ده تل اخیستې

مورې په خوشي شي بایللې ازادي ده

زمورې برخه بې علمي ، لوره اوتنده

موره نوروته ګټلې ازادي ده

مورې به څه دازادي په قدر پوه شو

موره کله لالیدلې ازادي ده

سحر صیب د خپل قام له خوب او غفلته ډیر ښه واقف دی، او د غلامۍ په راز یې هم خبر شوی. او له همدې امله دی هم د خوشال بابا په څېرپه غوسه کیږي او وایي،چې:

که ویده وای زما په چیغو به راویښ و

یا دي مړه یا یې په خوب ځان اړولی

**اویا هم دغه بیت:**

وخت نو څه ارزښت لري ، په ټوکو به یې تیر کړمه

زه د هر پښتون غوندې بیکاره عادت شوی یم

غواړم تاسو ته یو بل رازهم افشا کړم،اوهغه دا چې سحرصیب اوس خپله ټوله مینه یوازې په شاعرانه احساساتو کې نه ختموي، بلکې د یوه ژمن خوسنجیده مین په توګه زړه خوري،ځوریږي او د دې هیواد د هرانسان پروړاندې د مسوولیت احساس کوي. او د پښتون قام د ویښتیا لپاره په ځانګړې توګه د ماشومانو او میرمنو لپاره،چې ترنورو ډېراړاو تر نورو ډېرحقدار دي،منډې وهي او د مرستې لاس یې تل ورغځېدلی وي. البته زما پورتنۍ خبرې په دې مانا نه دي،چې د سحرصیب شعر اوس یوازې د وعظ،احتیاط او ځانساتنې خبرې کوي،او یا یې هنر ټول د فکر قرباني کړی، بلکې په دې ټولګه کې تاسې د مینې او ښکلا ډېر ښکلي رازونه،نازک خیالونه او تنکي فکرونه لیدلای شۍ:

په ویدو سترګو دې زما زړه لکه خوب وړی دی

اوس مې د ما ت زړه د ژغورلو هیله هم نه لرم

سپوږمۍ ښه ده تللی یار مې را په یاد کړي

پوی زما په خوی ته لمره یاره نه یې

هر سحر یې د مو بایل پیغا م را شي

چیر ته ورک یې ته سحره یاره نه یې

دا يې نو د مينې ننبه نه ده څه؟

مخ واړوي بل خوا چې ما ووينې

زه په ستورو پسې ولاړم

چې اميل دې کړم پرې ښکلی

څو مره ډير ستوري مې راوړل

خو چې راغلم ته بيا نه وې!!

په دې ټولګه کې تاسو د غزل، ازاد شعر او ټپوډېرې ښکلې بېلګې لوستلای شیء،نو له همدې امله دا هم تاسو او دا هم د سحرصيب ښکلې شاعري!

په درنښت

خوشال روهي

## د لمر جنازه

د افغانستان د تکړه شاعر او لیکوال علم ګل سحرد یوې شعري ټولګې (د لمر جنازه) د خپریدو او کراچۍ ته له رارسیدو وروسته دغه شعر ولیکل شو:

دلـته مـاښام دلـته سحـر جــنازه
له ســلو ځي د سلو سـر جــنازه
د لویو لـویو دعـــویدارو وړانـدې
په اوږو وړمه د دلــبر جــــنازه
څوك به يې څه پوښتي چې ولې داسې
وړي د کـمزورو زورور جــــنازه
زه جــنازو نه څـــومره لـیرې راغلم
تا پسې راوړله دلـــمر جـــــنازه*

ډاکټر محمدالله رازق

* د لمر جنازه: دبناغلي علم ګل سحر دشعرونو دوهمه ټولګه

## د افغانستان وتلي شاعر او ليکوال علم ګل سحر ته!

تا د "لمـر جنازه ۱" بيا په اوږو راوړه
د پکتيا باغونه ټول اوس هديرې دي
د لالـي تر شناخته شين دسمـال تـــړلی
خدايه! څنګه نا مرادي يارانــې دي
چې ستـا ژبه يې پسته کړه ګل پاشي کړي
څو خطونه او د مات بنګړي ټوټې دي
"پاس سپوږمۍ ده لاندې ته يې ۳" سحر وايې
جادوګــرې ستا رنګـونه پيـمانې دي
د ګل رخو په چم ناست يې تسپــې وايــې
د خرقې لاندې سور کړې دې پيـالې دي
ستا د نور شراب مې داسې په سر کش کړل
"د پاريال خوبونه ۲" ټول اوس ترانې دي
ستا له ستــرګو يې چل زده د اشارو کــړ
شـاعري ده او رنګـينـي زاويــې دي
چې په خيـال دې نوراني لفظــونه اوري
د قاف غره له ښاپـېرو سره دې شپـې دي
هاشمـي! د سحر هر غــــزل ګـيــله ده
د زرمــت د ښايستـــه پـېغلو ښېــرې دي

سيـد فخـرالـدين هاشمـي

(لمر جنازه) ۱:   د علم ګل سحر د شعرونو دوهمه ټولګه

(د پاريال خوبونه) ۲:   د علم ګل سحر د شعرونو دريمه ټولګه

(پاس سپوږمۍ ده لاندې ته يې) ۳:   د علم ګل سحر د شعرونو څلورمه ټولګه

## علم ګل سحر ته!

دروغجنو به ویل چې اوس بیدیا ده
خو د عشق مېنه لاهغسي بسیاده
د لاتور اوچت پرواز تیاري کیږي
د توپان تر راتلو مخکي لږ چوپتیا ده
اوس مي سمه زړه ته ولویدله دا چې
بازخانه بې بازه نه وي دارشتیا ده
د کړکۍ څراغ مو بل بادو پرې ایښی
زموږ داسي نیك مرغي ته حیرانتیا ده
د سحرغوندي روښان ګل یي نشان ده
لکه څنګه یي علم داسي پکتیا ده
تروږمۍ نوره دي خپله شړۍ نغاړه
د (نور)اوس له خپل څراغ سره ملتیا ده

نورمحمد سعید



## انسان دوست شاعر، ليکوال او ژورنالست علم ګل سحرته ډالۍ

تياره ژوندون را باندې کړی تا روښان سحره
د ژوندانه لار دي راوښوده آسان سحره

زه د غمونو په دنيا کې سر تر پايه ډوبه
تا را ته وښوده قانون د دې جهان سحره

لار دي را وښوده چې زه څنګه الوت وکړمه
هېر به هيڅ نکړمه تر مرګه ستا احسان سحره

زه د خيالونو له دنيا نه لاوتلې نه وم
تا راته وښود حقيقت د دې جهان سحره

زړه کې يوه کلمه سم لاجمع شوې نه وه
راته دي وويل رازونه تر آسمان سحره

غوښتل مې يو قدم دنيا کې زه پر مخ لاړه شم
خو زه دي بوتلم سل قدمه په جهان سحره

زه خو د مينې فلسفې باندې هېڅ نه پوهېدم
ستا په ليدو مې هم پوره شو دا ارمان سحره

زما خبرې ستا په حق باندې يوازې دادي
چې خدای دې وژغوره له شر د بد انسان سحره

شګوفه مينه

--------------------

* د علم ګل سحر د ( يم کمزوری له تا ليرې ځم انسانه) شعر څخه په الهام

د افغانستان تکړه شاعر اولیکوال ښاغلي علم ګل سحر صاحب ته!

## راتـــه وایـــه

ۀ یــــــرکلـــــونه وړاندې

دژونـــدښکلـــــوشیبوکـــې

پـــه هیلـــو ارمـــانـــو کـــې

د ملـــګرتوب خوږو شیبـــوکـــې

لـه څـپــــــو دطـوفـانـــونـــو

د مـــهـــال لـــه ســتمـــونو

د ژونـــــدون لـــه کـړاوونـــــو

لــــوږ وتـــنـــدومجـــبـــوریـــــو

چې کله مااوتـــاسره لـیـدلـې

ســتابه شونـــدېي مسکـــنـــي وي

وه ځـیــره دي غــــوړیـــدلـــې

ســتـــرګـي ځـلـیـدلـې

هـــره خـــبره دي خــــوږ ه وه

ستـــامجـلس به خــــونـــدورو

زمـــا د زړــو ورځـــــو

تـــــــوروشپـــو ملګریـــه

پـــټ راتـــه وايـــه

د زمـــان دې ګـــزارونــــــو

د مـــــهـال دې ګــردابــونــو

دې غـــمـونـودې دردونـــو

پـه تـاهـيځ اغـــيـــز ونـه کــړ

لاهـمـا غـســـــې ســـــرلـــوړي

لاهـمـاغـســې خوشحـــالـه

ژونـــد پـــه مـيـنـه،مـيـنه ګـوري

دغـــه پـــټ احــــســاس

ستـــاپـــه زړه کي دغـــه راز

خـــــــومـــاتــــه هــم

لـــــــړ ووايـــــــــه

ګيلانوال- دبی

2009/1/1

